د ښوونې او روزنې نړیوال ریفورمونه او د افغانستان را تلونکی تعلیمی نظام

مولف: داکتر امیر محمد منصوری
د چاپ کال: ۱۳۸۳ هـش
د چاپ ځای: احمدی مطبعه، کابل

اهدأ
مهربانه مور پلار ته! چې په ټولو خوږو او ترخو وختونو کې یې په یادیم او د دوی د دعاوو له برکته به مې دغه ورټیا پیدا کړی وي!؛
خوږو اولادونو او کورنۍ ته! چې برسیره پردې چې د دوی د نازولو وخت به مې پدې لیکنه تیر کړی وي، د معلمی هنر مې له دوی څخه زده کړی او د ګران هېواد د میلیونو ماشومانو د یوې بیلګې په توګه به مې تل د دوی د راتلونکي په هنداره کې د دې کتاب محتویات کتل او لیکل؛ او
د هېواد درنو ښوونکو ته چې د هېواد د راتلونکي نسل روزنه ور په غاړه ده

یې ډالۍ کوم.

©
http://benawa.com/pashto/library/16_da_afghanistan_ratlonkay_showoniz_nizam/0.php#ixzz3ISyQ8v11

## د لیکوال خبرې
د هغه بښوونکي څښتن په نوم چې له خپو څخه یې انسان جوړ کړ او هغه ته یې تر ټولو غوره مخلوق ووایه!
تر هر څه د مخه د لوی او قادر ذات الله (ج) شکر ادا کوم چې ماته یې ددې اثر د لیکلو او بشپړولو توفیق راکړ. هیله لرم چې دغه اثر به د ګرانو هېوادوالو لپاره د ښوونې او روزنې په هکله ګټور معلومات وړاندې کړي.
که څه هم له پخوا څخه مې د علمي اثارو د لیکلو او ژباړلو نیت درلود، او ځان مې پدې اړه مکلف باله، خو ستړي ژوند مې ددې ارمان لپاره لږه موقع را کوله . پدې وروستیو کلونو کې مې د ښوونې او روزنې په څانګه کې د دوکتورا د لیکلو فرصت پیدا کړ او دغه وخت مې ددې اثر د لیکلو لپاره هم غنیمت وګاڼه.
دغه لیکنه په معاصره نړۍ کې د ښوونې او روزنې، ټولنې او نړیوالی(Globalization) ترمنځ د اړیکو په هکله دي. دا چې نړۍ د یو شان کیدو پخوا روانه ده، نو دغه اړیکې هم د یو شان کیدلو پخوا ټیله کوي. د دغه حرکت نبښي نښاني هغه اصطلاحات او مفاهیم دي چې په نړیواله سطحه په ښوونیز و نظامونو کې د ریفورمونو ( اصطلاحاتو ) په شکل رامنځ ته کیږي.
دا چې دغه اصلاحات څه او د څه په هکله دي او آیا غوښتل کیږي او که تحملیږي او که ګډ یا بل شکل لري،

پدې کتاب کې تر یوه حده ځېرل شویدي.
ددې لیکنې اساسي موخه ( هدف ) دا وه چې د ښوونیزو اصلاحاتو په هکله په هېواد کې اړوند مؤسسات او افراد غور او بحث کولو ته وهڅوي، تر څو په هېواد کې د ښوونیز نظام د بیاروغوني او اصلاحاتو په هکله د هېواد او هېوادوالو په ګټه اغیزمن رول ولوبوي. د هېواد په ژبو کې د علمي اثارو لیکل، څو د هېوادوالو لپاره لوستل او پوهه اسانه شي او په نړۍ کي د وروستنیو بدلونونو په اړه معلومات تر لاسه کړي ، یې یوه بله موخه وه.
دغه اثر پدې هیله لیکل شوی چې د ښوونې او روزنې په چارو کې دولتي کارکوونکي، پالیسي جوړوونکي، د ښوونې او روزنې مینه وال، د پوهنتونونو استادان، محصلین او په پای کي د هېواد سیاستمداران به یې ولولي او د خپلو مربوطه وظایفو او مکلفیتونو په برخه کي به ور ته ګټور تمام شي.
پدې هیله چې دغه لیکنه به په هېواد کې د ښوونې او روزنې په اړه د بحث کولو لپاره ګټور مطالب وړاندې کړای شي، لوستونکو ته یې له لوی خدای(ج) څخه توفیق غواړم.
له یوی خوا نه د ژبي ماهر یم اونه دې لیکوالی اوله بلی خوا د تخنیکی پیچلو مفاهیمو توضیح کول هم ګران کار وي، نوهیله لرم چې لوستونکی او نقادان می د دغو معاذیرو له وجی هره ژبني تیر وتنه او ابهام په پراخه سینه وزغمی او د بـــیا سموونی لپاره یې را ته په ګوته کړی .

په پای کی د سویډن د کمیټي د ښووني او روني د څانګی له کارکوونکو څخه چه د اوږدي مودي د کار په جریان کي یي ډیر څه را زده کړي دي ، مننه کوم. له محترمې پیاکار لسن څخه چې ددي کتاب د ډیرو موضوعاتو په هکله یې ښی مشوری راکړیدي، دزړه له کومی مننه کوم.

والسلام
امیرمحمد منصوري
کابل
۱۳۸۳ / تله / ۰۹


هیله
یو کتاب دلیکونکی دزیاتو فکری هلو ځلو محصول وي ، نو:
�ددې کتاب چاپ دمولف لپاره خوندي دي اوهیڅوک یې د لیکونکي لهاجازي پرته دچاپولو حق نلری.
�ددې کتاب د هیڅ یوي برخي دکاپی ، نقل اویا په بل عبارت اړلوتهاجازه نشته، خو یوازی هغه وخت چې د ماخذ په حیث یي یادونه وکړي .

©

http://benawa.com/pashto/library/16_da_afghanistan_ratlonkay_showoniz_nizam/1.php#ixzz3ISw1xMGn

مخکینی خبرې ............
لومړی برخه.................
سریزه..............................
د ښوونې او روزنې اړوند ریفورمونه ......................................
ریفورمونه د څه شی په هکله وي؟ .................................
د ریفورمونو ډولونه ........ ............................................
د ریفورمونو عملی کیدل او شرائیط..........................................
په نړی واله قرینه کې د ښوونې او روزنې د اړوند ریفورمونو اساسی مسئلی......
د نړی والی ( Globalization ) ځانګړتیاوې ...... ....... .............
د ښوونې او روزنې د اخرنیو ریفورمونو معیاری مشخصات .......
غیرمرکزي کیدنه ( Decentralization ) .......... ....................
د غیرمرکزي کیدني ډولونه ......................................
دغیرمرکزي کیدني لپاره لازمي شرطونه ........ ............
څه شی غیرمرکزي کیږي (محتوي يي)؟ ........ .............
دغیرمرکزي کیدني لپاره دلیلونه ..............................
د محلي تصمیم نیوني د عملیې لاسته راوړني ( ګټې ) .....
شخصي سکتور ( Privatization ) ..................................
د انتخاب امکانات ( د خپلی خوښی د ښوونې او روزنې امکانات ) ...........
په ښوونیزو چارو کې د ولس برخه اخستنه ( Participation ) .................
د ارزښتونو ښوونه او روزنه ( Values education ) ........ .......................
د ارزښتونو د ښوونې او روزنې د تجدد ( بیا رامنځ ته کیدلو ) دلیلونه ........ .
د ارزښتونو ښوونه او روزنه د څه شی په هکله وي؟ .......................
د ار زښتونو ښوونه او روزنه څنګه تدریس کیږی ؟ .......... ...........

په ریفورمونو کې د ارزښتونو د ښوونې او روزنې ځینی مثالونه .....
ښوونه او روزنه د ماشوم د حق په بڼه ......... ........................................
دوهمه برخه ....... ..
په افغانستان کې د ښوونې او روزنې تاریخ ته یو لنډ نظر .........
په مختلفو دورو کې د ښوونې او روزنې موخې ........ ...
په افغانستان کې د ښوونې او روزنې اړوند ریفورمونه ........ ...
په افغانستان کې د ښوونې او روزنې او سنی حال .......
د افغانستان ښوونیز نظام او نړی وال ریفورمونه ............. .....
سریزه ..............................................................
په افغانستان کې غیرمرکزي ښوونیز نظام ......... ....
شخصی سکتور په افغانی ښوونه او روزنه کې ..........
د خپلی خوښی ښوونځی او ښوونه او روزنه ......... .....
په افغانستان کې د ښوونې او روزنې په چارو د ولس برخه اخستنه ...........
د ارزښتونو تعلیم او تدریس �تجددئې ..................
ښوونهاوروزنهدماشومدحقپهحیث ....... .............
نتیجه ...........
ماخذونه ........

©
http://benawa.com/pashto/library/16_da_afghanistan_ratlonkay_showoniz_nizam/2.php#ixzz3ISwBsRC3

**مخکینی خبرې**

نړیوالې ( Globalization ) په بشري ټولنو کې له ژورو او لویو بدلونو نو سره اړیکی لري. دغه بدلونونه د ټولنیزو چارو د تنظیم، د ټولنیزو خدمتونو دعرضه کولو او اړتیاوو د تولید، د ملتونو ترمنځ د اړیکو، د پوهی او معلوماتو د معنې او د دوی د نفوذ د قوت او شکلونو، کلتور او ښوونې او روزنې په اړه رامنځ ته کیږی. که څه هم ټولګی ته به د نړی والی اغیزی لانه وی رارسیدلی، خو په لویه سطحه ئې د ښوونې او روزنې نظامونه بدل کړی او نور ئې هم بدلوی. د ښوونې او روزنې ریفورمونه په هر ځای کی لیدل کیږي او دغه ریفورمونه یو ډول

ګډې ځانګړتیاوی لری.
د ښوونې او روزنې ریفورمونه د څه شی په هکله وي؟ ولی په عین وخت کې اوولی دا اوس پیښ شول؟ د ریفورمونو ترشا څه دلیلونه وي؟ موخې (اهداف) ئې څه وي؟ تراوسه څه لاسته څني راغلی دي؟ آیا دغه ریفورمونه یوازی د لویدیځی نړی لپاره دي او که ختیځ هم ځینی اغیزمن شوي؟ .
پدی راپور کې کوښښ شوی چې په دغو پوښتنو باندی په نړی واله سطحه د ښوونې او روزنې د ریفورمونو د یو لنډ پس منظر او د هغو د مشخصاتو د لنډی توضیح او بحث او د مختلفو هیوادونو څخه د ځینی مثالونو په وړاندی کولو سره، رڼا واچوله شی. په لومړی برخه کې د ریفورمونو لویې برخې په لنډ ډول بیان شوی، ځانګړې دیدګاه وی یې خلاصه شوی او د څیړنو د لاسته راوړنو یو لنډیز وړاندی شویدی. په دوهمه برخه کې یې به افغانستان کې په تاریخی اوموجوده حالاتو کې د ښوونې او روزنې په اړه د ریفورمونو په هکله بحث شوی او په هیواد کې د �ښوونېاوروزنېدنړیوالوریفورمونو�نتایجتربحثلاندنیولشویدی.
هیلهکیږيچېدغهراپوربهدښوونېاوروزنېدنړی والو ریفورمونو د موجوده جریان او لوري ( میلان ) په هکله معلومات وړاندی کړای شی. غالباًً په نږدی راتلونکی کې به د هیواد په ښوونه او روزنه کې ریفورمونه د بحث یوه مهمه اجندا وي ، چې دغه ډول معلومات به په ملي سطحه د ښوونیزو اصلاحاتو په اړه د بحث او مناقشو لپاره یوه لزومه وي. اساسی موخه د ټولو هغو اړخونو او افرادو بحث او مناقشی ته هڅول دي چې د افغانستان په ښوونه او روزنه کې فعالیت کوی او علاقه لری. هیله لرو چې دغه راپور به د افغانستان د ښوونې او روزنې د راتلونکو ریفورمونو په هکله د مباحثو لپاره مرسته وکړای شی. ریفورمونه او د ښوونې او روزنې اصلاحات او احیا بیله شکه یو ضرورت بلل کیږی.

©

http://benawa.com/pashto/library/16_da_afghanistan_ratlonkay_showoniz_nizam/3.php#ixzz3ISwJn0py

### لومړی برخه

### سریزه

د ښوونې او روزنې مفهوم د ښوونځی تر مفهوم لوی او عام دی. د ټولو ټولنو په ښوونه او روزنه کې نوي نسل ته د ارزښتونو لیږدونه، انفرادی او ټولنیزو ګروپونو ته د اخلاقو تفهیم ، د کلتور تعمیم ، کلتوری میراثونه او د کلتوری معنی ګانو سیستم او د ملتونو د عرف او رواج انتقال او تعمیل شامل وي. ښوونه پخپله یو ارزښت او هدف دي، په خاصه توګه د معنوی اړخونو په اړه ځانګړی معناوي لری. ښوونه او روزنه د ټولنیز کیدلو د پروسی یوه برخه ده چې معنی یې دا ده چې موږ څنګه ټولنیز وګړی شو، تر څو په خپله ټولنه کې او له نورو ټولنو سره د ګډ اوسیدلو وړتیا پیدا کړو.

معمولاً د ښوونې او روزنې کلیمه د ښوونځی د کلیمی مترادف ده، کله کله د تدریس د کلمی په معنی هم استعمالیږی. پدې راپور کې ښوونه او روزنه د هغی د اخرنی معنی یعنی د ښوونځی او تدریس په معنی استعمال شویدی.
په عمومی توگه د ښوونې او روزنې څخه توقع دا وي چې لږ تر لږه ماشومانو ته لیک، لوست او حساب ور زده کړی، د ټولنی منل شوی اخلاقی کړه وړه ( سلوک ) ورزده کړی او د ټولني په اقتصادي پرمختگ کې برخه واخیستلای شی. له ښوونې او روزنې څخه غوښتني د ټولنو، وخت او مستقیمو او غیر مستقیمو گټه اخستونکو په تناسب توپیر لري . په اکثرو ټولنو کې توقع کیږی چې ښوونه او روزنه به افرادو ته لوړ ټولنیزدریځ (موقف) ور په برخه کړی.
د ټولنی او ښوونې او روزنې تر منځ اړیکی له مختلفو زاویو کتل کیدای شی. یو اړخ داسی دي چې په ټولنه کې مسلطی او حاکمی سیاسي، اقتصادي او کلتوري نظریي د ښوونې او روزنې په محتوی او جوړښت باندی هم تسلط لری او هغه تعینوی. حاکمي نظریي د تعلیمي نصاب او د ښوونې او روزنې په اداره او تنظیم رغنده (مصممی) اغیزي لري. پدې صورت کې د ښوونې او روزنې رول په ټولنه کې د مسلطو عقیدو زیات تعمیم او تقویه وي.
د ښوونې او روزنې او ټولنې ترمنځ د اړیکو بله نظریه د پورته نظری بشپړه سرچپه نظریه ده، یعنی د ښوونې او روزنې رول د ټولنې بدلون دي، یعنی ښوونه او روزنه ددي وړتیا لری چې په ټولنه کې حاکمي اړیکی او ټولنیز جوړښت بدل کړی.
بله بشپړه افراطی نظریه داسی ده چې ښوونه او روزنه او ټولنه هیڅ اړیکی نلری او یو پر بل باندی کومی اغیزي نه کوي. یوه منځنی نظریه دا ده چې ښوونه او روزنه او ټولنې یو پر بل باندي دوه ازخیزه اغیزي لري. نو ښوونه او روزنه د ټولنیزو هڅو یوه مهمه برخه ده او له ټولنی سره د هر ډول رول او اړیکو په صورت کې د فرد او ټولنی دواړو د پرمختیا لپاره لوی اهمیت لری.
ښوونه او روزنه د هغی د قیمت له اړخه هم ارزښت لری. د ښوونې او روزنې لگښتونه د ټولنو د عمومی بودجو لویه برخه تشکیلوی. په پر مخ تلونکو ټولنو کې د ښوونې او روزنې د وزارت پرسونل تر ټولو لوی دولتی توظیف شوی پرسونل او د ښوونکو معاشونه د ملی بودجو تر ټولو دروند بار وی. د ښوونکو معاشونه د ښوونې او روزنې د بودجې معمولاً ۸۰ �۹۰فیصدهتشکیلوی.
ښوونهاوروزنهپههټولهنړۍکېپههډېرژوروډولدنړۍوالترفشاراواغیزلاندراغلی ده. هغه نړی والی چې پدې اخرو لسیزو کې واقع شوی، د هیوادونو ترمنځ د اړیکو او معاملو له اړخه یو نوی پړاو دی او د یو شمیر مختلفو مسئلو په هکله صورت نیسی. په نړۍ والی کې اقتصادي، تکنالوژیکي، سیاسي، او کلتوري قواوي شاملی وي چې ټولی، خو په خاصه توگه اقتصادي پروسه د �آزادمارکیټ�له فلسفی څخه اغیزمنه او ددغي پروسي لخوا اداره کیږی. تکنالوژیکي پرمختگ دبین المللی برېښنائی شبکيInternet او نورو ذریعو پوسیله په لویه پیمانه د معلوماتو په خپرولو او شریکولو کې بدلون راوستی دی په سیاسي مستوی کې د ملی حکومتونو په شکل کې بدلونونه او د حکومتونو د ماموریتونو او حکومت کولو لپاره د نویو لوایحو او مقرراتو وضع کیدل شامل دی. په کلتوری اړخونو کې د نړی والی څخه استنباط د معیاری کیدنی ، ورته والي او یو شان کیدنی ( همجنس کیدنی ) په شکل راښکاره شوی دی. نړیوالی په بنیادی توگه یوه اقتصادي پدیده ده، خو د کلتور او حکومت داری لپاره یو شمیر مهم نتایج لري. اساساً داسی عناصر او قواوی پکی دي چې ټولنیزی ښیگنې،

ډیموکراتیکه برخه اخستنه او ( د ولس په نسبت ) مسړلیت او حسابدهی ئې د توجه وړ ټکي نه وي، خو له بلې خوا د نړۍ والي سره ازادي، ډیموکراسي او اقتصادي وده ملګرې وي .
له اتیاومی ( ۱۹۸۰م ) لسیزی راپدیخوا په ټوله نړۍ کې د ښوونې او روزنې په هکله ریفورمونه رامنځ ته شوی دی. ښوونیز ریفورمونه باید د ټولنی او ښوونې او روزنې د اړیکو انعکاس وکړی او ټولنیز پرمختګونه منعکس کړی. آیا د اخرنیو لسیزو د ریفورمونو پالیسی ګانی د ښوونې او روزنې او ټولنیز پرمختګ د دوه اړخیزو او متقابلو اغیزو مثالونه دي او یا لکه څنګه چې ادعا کیږی، په اساسی توګه د نړۍ والی د فشار نتائج دي؟ .
د ښوونې او روزنې په ډګر کې چه کوم ریفورمونه د نړۍ په مختلفو هیوادو کې رامنځ ته شوی ،که په لویه او که په وړه پیمانه بدلونونه دی، یو ډول ګډي ځانګړتیاوي او ګډ عناصر لری. دوی سره ورته موخي لری، تقریباً یو ډول طریقی پکاروي او جوړښت او محتوی ئې تقریباً سره یو ډول او یا دومره سره نژدي وي چې بیل نشی بلل کیدای. دغه سره ورته والی تر یوه حده د ملتونو له یوبل څخه د تقلید او له یو بل څخه د نمونو د قرضولو د میلان نتیجه ده، خو له بلی خوا او تر ډیره حده دغه ورته والی په مجموعی ډول د ټولنو هغه بدلونونه دي چې د نړۍ والی د پروسی تر اغیزو لاندی ئې داسی بدلونونه موندلی چې ګډ او سره ورته اجزاوی لری. ګډی ځانګړتیاوي عبارت وي له: د حکومتو نو د رول کمزوري کیدل، د پانګو ازاد انتقال، د آزاد بازار د اقتصاد اصل، د پانګه والی ( سرمایه داری ) د نظام تعمیم او پراختیا او د معلوماتی تکنالوژی انقلاب او همداراز د کمزورو هیوادونو تجرید او انزوا، د اقتصادی بازار ( مارکیټ ) انحصار، د ښوونې او روزنې د مفکوری تعویض د مادام العمرزده کړی په مفکوره او نور . دغو ټولو کیفیتونو د ښوونې او روزنې په محتوی او جوړښت ( شکل ) باندی په ټوله نړۍ کې اغیزی کړي او دغه اغیزي د ښوونې او روزنې په ډګر کې د اصلاحاتو او ریفورمونو په راوستـــلو سره ثابت او رامنځ ته شویدی. دغه بدلـــونونه د ټولنو په ښـــوونه او روزنه کې د ستـــونزو د حل لپاره رامنـــځ ته کیږی، خو د ټولنـــو د ښـــونـــیز نظام برابـــرول له نړۍ وال ښوونـــیز کلـــتور سره هم د دغـــو بدلـــونو یوه مـــوخه وي. د دې لپـــاره چـــې پر مختلونکی ( غریب ) هیوادونه اقتصادی مرستی تر لاسه کړای شی، نو مجبور دی اوپرته لدي بله لاره هم نلری، یوازی دا چې باید د نورو �پیښی�وکړی او د�پرمختللو ملتونو�پشان ځان وښیی.
پدې لیکنه کې دښوونې اوروزنې د  ریفورمونودمختلفواصلاحاتو اوپه نړۍواله سطحه دهغوی ځینی مثالونه او مختلف اړخونه وړاندی کیږی. وروسته بیا د دنړۍوالو ریفورمونو�ممکنه نتائج دداسی هیوادلپاره لکه افغانستان، چیری چې ښوونیز ریفورمونه به غالباًدنژدی راتلونکی مبحثونو د اجندا مهم ټکی وی،څیړل شوېدي. افغانستان لاتراوسه ( ۱۳۸٤هش ) هم دنسبی  ناقرارپه حالت کې د انتقالی اداری لخوا اداره کیږی ( عمومی ټاکنی په نژدی وخت کې پلان شوی دی ). د میلیونونو ماشومانو لپاره چې اخرنی لسیزی له ښوونې او روزنې څخه بی برخی شوی وو، د ښوونځـیو غوښتـنـه کیـږی. نـصاب په رښتیـنی معنی موجود نه دي، خو درسی کتابونه او د ښوونځـــــیو په اونیز درسی پروګرام کې د مضامیـــنو شمیر تل د مختـلـفـو حکومتـونو لخـوا د بدلـــــون او رابدلـــــــــونو موضوع ده. د تدریس لپاره بشری قوه ( ښوونکی ) ډیر کم مسلکی پوهه لری او د عمر له اړخه هم ځوانان ندی.
د یوی لویی مودی لپاره په هیواد کې حکومت نه وو او په لویه برخه کې د ښوونې او روزنـــې مسړلیـــت د دولت لخـوا نه تر سره کیـــده او د دولت رول غیر دولتی مړسساتو، په خاصه توګه بـین المـللی غیر دولتی او ټولنیزو مړســـــساتو اجرا کاوه. د اتیاومی لسیزی له پیل څخه د ښوونې او روزنې دولتی مرستـــه یوازی په

ښــارونــو کې محدوده وه. په کليوالو سيمو کې که ښــوونه او روزنــه موجود وه، هغــه هم يوازې لومړنۍ ښوونه او روزنه وه چې تر ډېره حده غير دولتي مړسساتو په مخ بيوله. دغه وضع بــدليــدونکی ده. خو له بلی خوا نړی والی هم د هيواد د دولتي چارو په ترسـره کــولو او ټولنيزو خدمتو په وړاندی کولو کې خپلی اغيزی ښکاره کوی. نو دا چې له يوی خوا زمونږ ارزښتونه او نوی په پښو دريدونکی ملت او زمونږ اړتيا وی او مجبوريتونه او له بلی خوا قدرت لرونکی نړی والی به زمونږ په راتلونکی ښونيز نظام باندی څه اغيزی کوی او د دغو قواوو ترمنځ به زمونږ د ښوونيز نظام شکل څنګه وي، دغه مسئله د نړی په سطحه د ښوونيزو ريفورمونو په رڼا کې تحليل او څيړنی ته اړتيا لری. پدی ليکنه کې دغه کوښښ شوی خدای (ج) دي وکړی چې تر يوه حده روښانه کوونکی وي.

©

http://benawa.com/pashto/library/16_da_afghanistan_ratlonkay_showoniz_nizam/4.php#ixzz3ISwPb200

**ښووني او روزني ريفورمونه ( اصلاحات ): څه شی، ولی او څنګه؟**

ريفورمونه د څه شی په هکله وي؟

د ښووني او روزني د يو نظام يو اړخ د هغه جوړښت ( ساختمان ) اوبل اړخ د هغه محتوی ده. جوړښت (ساختمان) د يو هيواد د ښووني او روزني د نصاب د تنظيم او اداره کولو امورو ته راجع کيږی او محتوی ئې هغه کلتور او ايديالوژی ته ويل کيږی چې ښوونه او روزنه ئې انتقالول غواړي . د مثال په ډول د ښوونځيو تعليمي دوري، پلان، نظارت، او امتحانونو سستم د يو ښوونيز نظام د جوړښت ( ساختمان ) اجزاوی دي او نصاب، درسی مضامين او درسی کتابونه د يوه ښوونيز نظام محتوی بلل کيږی.

ريفورمونه ممکن جزوی او يا جامع ( کلی ) وي او کيدای شی د تعليمي نظام د جوړښت او يا محتوی او يا هم دواړو په هکله وي.

د جوړښت په اړوند ريفورمونه د ښوونځيو د دورو د وخت دوام، په يوه دوره کې د ټولګيو شمير، له يوې تعليمي دوری څخه بلې دوری ته د انتقال پروسه، د ازموينو پروسی او نورو مسايلو په هکله وي. د تعليمي نظام د جوړښت په اړه ريفورمونه همدا راز د تصميم نيوني د سطحو ( مراجعو ) په اړه وي، يعنی دا چې کوم ډول فيصلي د يو نظام په کومه سطحه وشي. د تصميم نيوني مراجع پخپله د زده کوونکيو او د هغوي له پلرونو څخه آن تر وزارتو او پارلمان پوري غزيدلا شي. شخصي سکتور ته اجازه ورکول او دا چې څه شی او تر کومه حده په شخصي سکتور پوري او د شخصي سکتور د ښوونځيوکنترول هم کيدای شی د دغه ډول ريفورمونو موضوع وي. د ټولنی برخه اخستنه او د پلرونو د تنظيمونو او د هغوی رول او همدارنګه د ښوونځيو د چلولو لپاره مالی منابع، چې کورني وي او که باندينی تمويلونکی منابع ئې تهيه کوی، هم د دغه ډول ريفورمونو په ساحه کې راځي.

د يو تعليمي نظام د محتوی په هکله ريفورمونه د تعليمي نصاب او د تدريس د طرز ( ډول ) په اړه وي. د

نصاب په ریفورمونو کې د پوهی او علم په هکله د لید ( دیدګاه ) او د زده کړی نظریې راځی، چې کیدای شي د زده کوونکو په ذهنی ودی برسیره د دوی د شخصیت د ودی په اړوند مسائیل پکې وي. نصابی ریفورمونه د ښوونې او روزنې موخي، د ښوونځیو په مختلفو دورو کې د مختلفو مضامینو ډول او د مضامینو مشخصات، په یوه تعلیمی دوره او یوه ټولګی کې د یوه مضمون وخت او نور شامل وي.
د درسی کتابونو محتوی، د تدریس طرز او د ښوونکی رول له دې سره نژدی اړیکی لری چې یو تعلیمي نصاب د زده کوونکو د ودي ( انکشاف ) لپاره هر اړخیزه او که تنګه ( محدوده ) طریقه په کار وړي.
پدې وروستــیو دوولسیزو کې د ښوونې او روزنې ریفورمونه تر ډیره حده د اقتصادي لاملونو ( وجوهاتو ) له مخې تر سره شوی دي او د ریفورمونو په ژبه کې تر ډیره حده د
�مارکیټ�اصطلاحاتاواستعارباستعمالشویدی.
پالیسجوړونکادعاکوچېریفورمونهددېلپارهرامنځتهشوترڅودتعلیمنظامدتولیدوړتیا،اغیزمنتوب ( مړثریت ) اوګټورتیا ( مفیدیت ) زیات کړی. او دا چې پدې وسیله به د تعلیمی نظام په انعطاف مننه ، مسړلیت ( حسابدهی ) مسلکی اجراتو او د زده کوونکو د زده کړی په لاسته راوړنو کې ښه والی رامنځ ته شی. اما بیا هم اکثره ریفورمونه په خاصه توګه په پرمختلونکو هیوادونکو کې یوازی د اقتصادي وجوهاتو له کبله پلی شویدی او هغه ریفورمونه چې د ټولنیز عدالت او د ښوونې او روزنې د څرنګوالی ( کیفیت ) د ښه والي د وجوهاتو له مخی پلی شوی وي، اکثراً عملي شوي نه وي او یواځې د کاغذ پر مخ پاتې شویدي.
د سنګاپور په هیواد کې رامنــځ ته شوی ریفــورمونه د دي یو ښه مثال دي چې ریفورمونه د وخت په اوږدوکې څنــګه له یوه شــکل څــخه بل شــکل ته اوښتی دی. پدغه هیواد کې لومړنی ریفورم په ۱۹۵۹ م کال کې رامنــځ ته شــو او موخه ئې د �ټولولپاره�ښــوونهاوروزنــهوه.
شلکالهوروستــهد�مړثریت�دلاملونولهمخېریفورمپلشواو اخر څل د ۱۹۹۰ لسیزی په پیل کې د �قابلیت�دلاملونولهمخېریفورمرامنځتهشو،چېموخهیېداساقتصادبودهوه،چېپهعلمبناوي.
د ریفورمونو ډولونه
د ښوونې او روزنې ریفورمونه، معمولاً د صلاحیت او تصمیم نیونی د مرجع او ځای په اړه وي او اکثره وخت د منابعو د ویش ډول پکی شامل وي. برسیره پردې په ریفورمونو کې په بېلا بېلو ( مختلفو ) سطحو کې د مسړلیتونو او صلاحیتونو په هکله مقررات او لوایح شامل وي او د ارزښتونو بدلون ورسره ملګروي. دری ډوله ارزښتونه معمولاً برخه پکې لری: ټولنیز مساوات ( مساویانه برخه اخستنه )، مړثریت او حریت (ازادي) .
کله چې په ریفورمونو کې د تصمیم نیونی د مراجعو محلی کیدل، یعنی غیر مرکزي نظام، شخصي سکتور او د انتخاب حق شامل وي، دغه ډول ریفورم د �ښوونېاوروزنېدجوړښتدنوښت (تجدد)
�پهنومیادیږياودسیستمریفورمونهنورتدابیرلکهدتدریسطرز، د ښوونکو تربیوی پروګرام او د زده کړو نظریې هم لری .
ریفورمو نه کله کله د هغوی د پیښیدو د اړتیا د اُصولو له مخی سره جلا کیږی. مثلاً ILO په ۱۹۹٦ م کال تعلیمي اصلاحات په دریو ډولو ویشلی دي چې د رقابت، اقتصادي او ټولنیز مساوات د لاملونو له مخې رامنځ ته کیږی.
د رقابت د وجوهاتو له مخې (Competitiveness-driven) اصلاحات ددي لپاره پلی کیږی چې په نړی وال تجارتی بازار کې د یو هیواد دریځ اوچت شی. په دغه ډول اصلاحاتو کې معمولاً د تصمیم نیونی د مراجعو

محلی کول او یا مرکزی کول، د ښوونځیو د مسرلینو د اداری وړتیا تربیی ته زیاته توجه اړول، د ښوونکو مسلکی کول، د تقرر نوی اصول، په ښوونځیو کې د مضمونونو د اهمیت او اولویت بدلون او نور شامل وي. د اقتصادی وجوهاتو له مخی (Finance-driven) د اصلاحاتو موخي د ښوونې او روزنې لګښتونه کمول وي او په خاصه توګه د شخصی ښوونځیو ( شخصی سکتور )، د معاشونو کمول، د ښوونکی په سر د زده کوونکو شمیر او نور پکې راغلی وي. د ټولنیز مساوات د ښه والی د وجوهاتو (Equity-driven) له مخې د اصلاحاتو موخي د ټولنې غریبو او وروسته پاتی طبقاتو ته توجه کول او رسیدل وي . کیدای شی د خاصو ښوونځیو او یا د خاصو اړتیا لرونکو افرادو لپاره د مخصوصو ښوونځیو تدابیر او نور پکې راشی.

د ریفورمونو عملی کول

د تعلیمي اصلاحاتو د عملی کولو په اړه څلور اساسی پوښتنی موجودی دی:

۱. ریفورمونه به څوک عملی کوی، ۲. ریفورمونه د څه شی په اړوند دي، ۳. څنګه به عملی کیږی ٤. او کله به عملی کیږی.

د عملی کولو مراجع د مثال په توګه به په ملی ( وزارت )، ولایتی او یا د ولسوالی په سطحه وي او ولسی شوراګانی، د والدینو ( پلرونو ) شوراګاني او د ښوونځی بورد هم ښايي د تعلیمي اصلاحاتو په عملی کولو کې رول ولري. غوښتل شوی بدلونونه عموماپه مجملو او عمومی عباراتو کې بیان شوی وي، خو باید هومره لارښوونکي او واضح وي چه یازي یو ډول تعبیر ولري. ددې لپاره چې دغه بدلونونه پلی کیږی، د نورو اضافی بدلونونو رامنځته کیدل معمول وي. د مثال په توګه که په اصلاحاتو کې د ښوونځیو په چارو کې د پلرونو زیات واک او اغیزه غوښتل شوی وي ، نو دا په ترتیب سره لومړی د دغه ډول میکانیزم ( مثلاً د پلرونو د اتحادیو ) ایجادول ایجابوی.

د اصطلاحاتو د عملی کیدلو لپاره لازمه ده چې د عمل مهالویښ او د اصلاحاتو د ځانګړو اجزاوو د اولویت په اساس د عملی کیدلو ترتیب جوړشی. د تعلیمی اصلاحاتو بریالی کیدنه تر ډیره حده د اصلاحاتو د تیاری په پروسه کې د مختلفو ذیعلاقه خواوو په برخه اخستنه پوری تړلی وي.

د ۱۹۸۰ له پیل څخه معمولاً ترسره شوی تعلیمي اصلاحات له پاسه څخه تیار او په کښته سطحو تعمیل شوی وي او قبلی تیاری او په هغی کې برخه اخستنه ډیر لږ صورت نیسی.

په ډیرو هیوادونو کې په پلی شویو تعلیمي اصلاحاتو کې متناقص او متضاد اهداف ښکاره او واضح وي. د مثال په توګه له یوی خواد اصلاحاتو موخي ښونځیو ته د زیات واک ورکول، د محلی ولس د برخی اخستنی زیاتول او محلی غوښتنو او اړتیاو ته د ښوونځیو ښه مناسبت وی او له بلی خوا مرکز خپل واک د تعلیمي پالیسیو د وضع کولوپه مرسته زیاتوی او ښوونځی د وضع شویو مقرراتو او پالیسیو په مرسته نور هم د مرکز تر کنترول لاندی راځی او د خپلواکی او محلی ابتکار لپاره ډیر لږ ځای پاته کیږی. تر دی زیات د ښوونځیو د تمویل د میکانیزم پوسیله د ښوونځیو واک او د عمل ساحه نوره هم تنګـیږی . دغه واقیعتونه تناقض رامنځ ته کوی او د تعلیمي ریفورمونو په ناکامی منتج کیږی.

©

http://benawa.com/pashto/library/16_da_afghanistan_ratlonkay_showoniz_nizam/5.ph p#ixzz3ISwXF8he

**د نړۍ والی په قرينه کې د ښوونې او روزنې د ريفورمونو بنيادی مسئلی**

د نړۍ والی ځانګړتياوی ( مشخصات )

نړی والی د پانګوالی ( سرمايه داری ) د نظام پراختيا ( توسعه )، د آزاد بازار داقتصاد پراختيا، نړۍ وال کلتور او د حکومت چلولو د نويو شکلونو په اړه وي .

نړی والی کوونکی قواوی او فشارونه ( اقتصادي، کلتوري، تکنالوژيکي او سياسي ) د لويديځی نړۍ، او په خاصه توګه د امريکا د متحده ايالاتو په مشری، لخوا صورت نيسی. د ختيځی او سهيل ختيځی اسيا او لويديځی اروپا ځيني هېوادونه هم د نړۍ والی په ميدان کې لوړ مقام ته رسيدلی دي. پاته نړی لږ او ډير په ځلورمه نړی او بايلونکو پوری اړه لری . د شمال (North) او جنوب (South ) ترمنځ خلا او فاصله په دوامداره توګه زياتيږی.

نړۍ والی په نړۍ واله صحنه کې زياته سيالی ( رقابت ) ايجابوی. ملی اقتصاد او سياست، ملی کلتور او ښوونه او روزنه، د امورو او کار تنظيم ، د معلوماتو او پوهی ليږدونه ( انتقال ) او نور ټول نړی وال کيږی.

نړۍ والی د هيوادونو ترمنځ اړيکی اغيزمن کړی او حتی په محلی سطحه په بشری ژوند او ټولنيزو اړيکو باندی هم اغيزی لری. د نړۍ والی قواوو او فشارونو ملی حکومتونه له ګواښ سره مخامخ کړی دی.

د امورو اداره، تکنالوژی، پيداوار، معلومات او بشری پانګه په زياتيدونکی ډول د زياتی پوهی غوښتنه او ايجاب کوی. يوازی هغه ملتونه چې د بشری پوهی او مهارتو لوړه او مناسبه سويه ولری، کولای شی په دغه سيالی کې برخه واخلی او په نړی والی رقابت کې د يو څه د تر لاسه کولو چانس لری.

په ژوند او ټوليزو اړيکو کې د فردی ازادی، زيات استهلاک ( مصرف ) او بازاری کيدنی او ګټی اصول د نړۍ والی د کلتورځانګړتياوي دي او په اصطلاح �سوچهژوند�ټولنيزاصلاوګذارهحالژوند د نړۍ والی له کلتور سره اړخ نه لګوی. له بلی خوا د نړۍ والی کلتور او ثقافت په ډيره چټکی سره په نړۍ کې پراخيږی او وده مومی او داسی وسيلی لکه بريښنائی شبکه (Internet) ئې د تعميم ښی وسيلی دي. غير مذهبی ارزښتونه د مذهبی ارزښتونو ځای نيسی.

نړۍ والی د هيوادونو ترمنځ اړيکی چې په رواجی توګه د تماميت د اصل په بناوې، بدلي کړي دي او نړيوالو کمپنيو ملی واکونه کمزوری کړيدی.

نړۍ والی ته د يوی مناقشه غوښتونکی پروسی په حيث هم کتل کيدای شی چې متقابل ګواښو نه يي په مقابل کې راښکاره شويدی. د محلی او ملی کلتورونو د بيا را ژوندی کيدنی ( احيا ) کوښښونه، د قومی او ملی ارزښتونو د تقويه کيدلو سعی او تلاشونه او د مذهبی تحريکونو پراختيا د متقابلو قواوو ځينی مثالونه دي. د اخلاقو او ارزښتو د ښوونې او روزنې بيا را ژوندی کيدل هم يو ښه مثال دي. ويل کيدای شی چې نړی والی د نجونو او ښځو لپاره د ښوونې او روزنې مساوی حقونه، ښځو ته د رايي ورکولو حق او په ټولنيزو چارو کې د ښځو زياتيدونکی ونډی اخستلو ته اسانتياوي برابری کړيدی.

نړيوالي د يوې ايدیالوژيکي سياسي پروسي په بڼه هم تعبيريږي. د مارکسيزم له نظره به نړيوالي د پانګوالي د نظام هغه مرحله وي په کومه کې چې پخپله د پانګوالی د نظام د له منځه تللو عوامل وده مومي. له دې اړخه

نو نړیوالي د ټولنیز نظام تر ټولو ویجاړوونکی شکل بلل کیدای شي.
د اسلامي ایډیالوژي له نظره، نړیوالي په دوو قطبونو کې د بشر د ګروپ کیدني اخرني شکل دي. له دې اړخه نو اسلامي امت د نړیوالي په مقابل کې مقاومت ته را بلل کیږي. او یا دا چه د �امه=
امت�مفکورهدنړیوالییوبلشکلبللکیدا شي.
نړیوال اقتصاددا ایجابوی چېدیوهیواد د اوسیدونکودښوونې اوروزنې منځنی ( اوسط ) اندازه بایدلوړه شي اودنوېډولپوهاومهارتونوغوښتنهځنکیږی. په ټوله نړۍ کې د ځینو خاصو مهارتونو، مثلاً د انګلیسی ژبی او کمپیوټر زده کړی، ته اړتیا لیدل کیږی . له ملي ښوونې او روزنې او ښوونځیو څخه توقع کیږی چې داسی ماهر کارګر او مسلکی افراد تربیه کړی چې دغه غوښتنې پوره کړی او له حکومتونو څخه په ښوونه او روزنه باندی د زیاتو لګښتونو غوښتنی کیږی. ددی تقاضاوو د پوره کولو لپاره حکومتونه له یوی خوا د ښوونې او روزنې د تمویل لپاره نوری وسیلی او لاری لټوی او له بلی خوا د مارکیټ د غوښتنو سره سم د ښوونې او روزنې په محتوی کې د ښه والی او بدلون د راوستلو هڅی کوی. نو ځکه داسی اصلاحات لکه د تصمیم نیونی محلی کیدل او شخصی سکتور منځته راغلی دی (پورتنی مرجع). د پوهی د انتقال لاري او وسیلي هم له نړۍ وال میلان څخه بې اغیزی ندی پاتی شوی او داسی مفاهیم لکه د زده کړی تعمیری تیوري ګانی، شاګرد پالی ( شاګرد محوری ) زده کړی، ما دام العمره زده کړه له لری څخه ښوونه او روزنه ( Distance education ) او مجازی پوهنتونونه د دغه ډول نړی والو مفاهیمو ځینی مثالونه دي.
د وروستنیو تعلیمي ریفورمونو معیاری ځانګړتیاوي
د تیری اتیاومی لسیزی څخه را پدی خوا په ټوله نړۍ کې رامنځ ته شوی تعلیمي ریفورمونه یو شمیر سره ورته ( مشابه ) ځانګړتیاوي لری. د تصمیم نیونی د مراجعو محلی کول (Decentralization) یوه خاصه مشخصه ده چې ټول عملی شوی ریفورمونه، که په پر مختللو او یا پرمختلونکو هیوادونو کې دی، ئې له ځانه سره لری او دغه محلی کیدنه په مختلفو درجو سره وي. په تعلیمي چارو کې د محلی ولس زیاته برخه اخستنه او اغیزه لرل یوه بله عامه ځانګړتیا ده چې دغه ریفورمونه ئې لری. د تعلیمي ریفورمونو بل عام صفت د ښوونې او روزنې د متبادلو لارو او د
�اختیار�امکاناتدیچېیوهنتیجهئېپهښوونهاوروزنهکېدشخصیسکتورمعرفکیدلاورامنځتهکیدل دی. په ډېرو هیوادونو کې د ښوونې او روزنې شخصي سکتور ( شخصي ښوونځی ) ډېر تشویق کیږی. بیله دې چې د حالاتو، شرائطو او قوانینو تغییراو ځانګړتیاوي په نظر کې نیول شوی وي ، دغه مسئلی د ټولو راغلو ریفورمونو محوری ټکی جوړوي. برسیره پردې دا هم په نظر کې نه ده نیول شوی چې ایا مخکینی څیړنی دغه ډول بدلونونه منی او که ردوي، ایا لازمی شرائط موجود دي که نه دی، ایا بدلونونه د عملی کیدلو وړ دي که نه دي. دغو مسئلو ته په ریفورمونو کې کمه توجه کیږي. په نړۍ واله سطحه د ښوونیزو ریفورمونو ګډ مشخصات
�ښیچېدښوونېاوروزنېد پالیسی جوړولو مخ بلی خوا ته اوښتی دی � (۱۰۲مخ) .
دغهمخاوښتنهدڅهپهاړهده؟څهشتعلیمیااصلاحاتهڅوناوتعلیمیااصلاحاتڅنګهتوجیهکیږی؟څنګهعملیکیږی؟اولا ستهراوړنی ( محصول) ئېڅهدي؟پهراتلونکفصلکېکوښښشوىچېدغوپوښتنوتهځوابووېلشی.
پهاکثرو هیوادونو کې د اقتصادي رکود اود ښوونې او روزنې د بودجې د کمښت په حالاتو کې د تصمیم نیونی د محلی کیدنی بدلون عملی شوی دي. په اکثرو وختونو کې غریبو هیوادونو د
�دولتتشکیلدسموندپروګرام� (StructuralAdjustment Program) د عملی کیدلو په نیتجه کې په

ښوونه او روزنه کې د �دتصميمنيولودمراجعولهمحلکيدنی�څخهپرتهبلهلارهنهدرلوده.
ددغهډولبدلونونولپارهنوردلائيلددولترول،دهغهقانونيتااوداداريکارونوحجمبللکيږی.
همدارازپهښوونيزوچاروکېدمستقيمواوغيرمستقيموذيعلاقهخواودبرخاختنی ( سهمگيری ) عامه غوښتنی هم د مسئلی تر شا نور عوامل وو. يو بل دليل په عمومی توگه د ښوونيز نظام د اجراتو ټيټوالی دی. همدا راز تقليد او له نورو څخه د ښوونيز نظام د شکل قرضول هم يو بل دليل دی. په خاصه توگه پرمختلونکی پخوانی مستعمری د استعماری دولتونو له تعليمی نظام څخه نقل او تقليد يوه عامه کړنه او رواج وو.
د خپلی خوښی د ښوونې او روزنې حق هم په نړۍ کې د ښوونيزو اصلاحاطو پوسيله په ډېرو هيوادونو کې عملی او تشويقيږی. نه يوازی دا چې هر څوک د ښوونې او روزنې حق لری ، بلکه د ا حق هم لری چې دا امکانات ولری چې د خپلی غوښتنی او خوښی سره سم تعليم وکړی. د دی لپاره متبادل ښوونځی رامنځ ته شوی چې د خاصو ژبو، مذهبی او يا ايديالوژيکی ځانگړتياو په اساس جوړ شوی دي . دغه ډول ښوونځی د شخصی لگښت د درجی له مخی توپير سره لری.

©

http://benawa.com/pashto/library/16_da_afghanistan_ratlonkay_showoniz_nizam/6.php#ixzz3ISwpCmb1

## غيرمرکزي کيدل (Decentralization)

د واک او تصميم نيولو د صلاحيت مرکزيت (Centralization) اومحلی کيدنه (Decentralization) د دې په اړه وي چې د ښوونې او روزنې د عرضه کولو صلاحيت او په هغی باندی حاکميت له چا سره دي او د کنټرول مرکز يې په کوم ځای کې واقع دي. مرکزيت او محليت د منابعو د ويش، تصميم نيوني او برخې اخستنې په صلاحيتونو اغيزي لري.
د ښوونې او روزنې په نظام کې حاکميت او صلاحيت کيدای شی سياسی او يا تخنيکی او يا د دواړو په بڼه وي او کيدای شی چې دغه حاکميت او صلاحيت يا د مرکز په سطح پورې محدود وي او يا هم د دولتي ارگانونو ټيټو سطحو ته ور انتقال شوي وي. دغه اصطلاحات واضحه معنی نلري او مختلف تعبيرونه لري.
په نړۍ کې په نونسمه او شلمه پيړی کې
�عصری�ښوونياوروزنېزياتهپراختياوموندلهاودغهپراختيامعمولاًدمرکزيحکومتونولهپرمختياسرهيوځايرامنځته هکيدله. عمومتصورداسووچېدولتدښوونياوروزنېدچارودمعياريکولواوکنټرولدندهپهغاړهلری. د مرکزی تصميم نيونی او معياری کيدنی له برکته د ښوونيزو نظامونو لپاره ملی اهداف، ملی نصاب، د ښوونکو لوايح، د ښوونځيو معيارونه، د حاضری مقررات، تمويلول او مساويانه ويش رامنځ ته شول. د ښوونې او روزنې د چارو په مخ بيول او کنټرولول د دولتی ناظرينو او مفتشينو دنده وه او تر اوسه هم دولتونه د ښوونې او روزنې په مختلفو اړخونو کې لوی لاس لري.

د ښوونيزو اصلاحاتو په دوره او نتيجه کې د مرکزی دولت او اداری رول د مستقیمو چلونکو او په مخ بیوونکو په ځای د غير مستقيم نظارت کوونکو او ارزیابی کوونکو خواته واوښت .
د غیرمرکزي کیدنې ډولونه
د تصميم او صلاحيت د واک غيرمرکزي کول د متنوعو مسائیلو او اغیزو په اړه وي. د مرکزيت او غيرمرکزيت دوه ډولونه له ( اجرائيوي ) او ( منطقوي ) مرکزیت څخه عبارت دي. اجرایوی Functional محلیت د صلاحيت او حاکمیت د واک ورکولو ته راجع کیږي یعنی واک د تعلیمي نظام مختلفو سطحو ته ورکول شوی او وېشل شوی وي. منطقوي غیرمرکزیت Territorial د جغرافیوي اداري واحدونو کنټرول او په هغوی باندی واک ته راجع کیږي او په یوه هیواد کې مختلفې جغرافیوي سیمې د خپلې سیمې د تعلیمي چارو د انتظام لږ یا ډیر واک لري. د منطقوي محلیت مثالونه په داسې هېوادونو کې لیدل کیږي، چیری چې جدائی غوښتونکي تحریکونه پوره پیاوړي وي او له مرکز څخه په خپلو سیمو کې زیات واک ترلاسه کوي، لکه په فلیپین، هسپانیا او سوډان کې. خو په یوه هیواد کې د جدائی غوښتونکو تحریکونو موجودیت کیدای شی د نور قوی مرکزیت د توجیه لپاره هم یو ښه دلیل شی، لکه د گانا په هیواد کې . نور مړلفین بیا د غیرمرکزي کیدنې ډولونه د نورو اړخونو له مخی سره تفکیکوی. مثلاً سیاسي محلي (Political Decentralization) او اداري محلیت Administrative decentralization . سیاسي محلیت له مرکزي سطحو څخه ټیټو سطحو ته د تصمیم نیولو د واک لیږدولو ته استعمالیږي. اداري محلیت بیا د چارو د تنظیمولو مسئولیت لیږدولو ته وايي چې پلانول، بودجه او د لګښتونو لپاره د منابعو پیدا کول هم پکې راځي .
په غیرمرکزي کیدنه کې د واک لیږدول یا ورکول له پورته څخه کښته او یا له کښته څخه پورته خواته واقع کیدای شی یعنی له مرکزی اداری څخه د ولسوالی او یا ښوونځی اداری او حتی کورنیو ته واک ورکول شوي وي.
د واک د محلی کیدنی بل ډول تفکیت له دې اړخه هم کیږي چې په ځینو صورتونو کې د تصمیم نیونې واک په ټیټه سطحه مستقیلو واک لرونکو اداری واحدونو ته ورسپارل شوی وي، مثلاً ولایتي اداري واحدونو یا د ولسوالیو اداري واحدونو ته د تصمیم نیولو پوره واک ورکول. پدغه صورت کې دغه واحدونه په خپل سر عمل کولای او تصمیم نیولای شی. پدغه صورت کې د مرکز عمده رول د معلوماتو راټولول، لیږدول او تبادله کول وي. دغې پروسی ته واک سپارل Devolution ویل کیږی.
محلی واحدونو ته د صلاحیت د ورکولو بل ډول مشروط واک سپارل دې ، چې د ښوونې او روزنې نمایندګانو ته په ولایتی یا ټیټه سطحه یو شمیر صلاحیتونه او واک ورکړل شوی وی. دغه ډول ته نیابت Delegation ویل کیږی. په دغه ډول محلیت کې د تصمیم نیولو واک نه، بلکه مسړلیت او دندې ( وظیقې ) د نظام ټیټو سطحو ته ورلیږدول کیږی ، چې په واقعیت کې اداري چارې ، د مقرراتو د عملي کولو صلاحیت او واک محلي ادارو ته ورکړل شوی وي، خو د مقرراتو د وضع کولو صلاحیت پکې شامل نه وی .
د غیرمرکزي کیدلو او د واک د سپارلو یوه نمونه د �خپلواکوښوونځیو�
(School-based Management) موډل دي. پدغه ډول خپلواکو ښوونځیو کې د ښوونځیو د اداري او تنظیم چارې یا د محلي مسلکي افرادو یعنی ښوونکو او مدیرانو په واک کې وي او یا هم د پلرونو ( والدینو )، زده کوونکو او یا د ټولنې د نورو غړو او یا ددواړو په لاس کې وي . د دغه موډل بنیادي فلسفه د مسلکي کیدنې وده اود محلي ذیعلاقه خواوو عادلانه ونډه اخستنه وي.

کله چې د �خپلواکوښوونځیو�بنیاددازادبازارایدیالوژوي،نودغهډولښوونځیوخاصروللوبوی.
دسرښوونکدندهداویچېهڅهبهکویچېډیر زده کوونکی خپل ښوونځی ته جذب کړای شی او د دوی د خوښی ښوونه او روزنه او په ممکنه ټیټ لګښت ورته وړاندی کړای شي ( پدی وسیله به د نورو ښوونځیو سره د سیالي جوګه او خپل پایښت به تضمین کړاي شي ). سرښوونکی هڅه کوې چې پلرونه وهڅوی چه اولادونه یي ددوی په ښوونځی کې شامل کړی . په نړۍ کې د دغه ډول مختلفو موډلونو ډېر مثالونه موجود دي. په اکثرو حالاتو کې لیدل کیږي چې د ښوونځیود مدیرانو مسرلیت په ډیره پیمانه زیات شوی وي.
د خپلواکو ښوونځیو د بریالی توب لپاره څلور لاندینی عوامل مهم بلل کیږي :
1. عادلانه ازموینی: ښه دا بلل کیږي چې دغه ازموینی په مرکزي سطحه تهیه او د مرکز لخوا اداره شي، تر څو د هر ډول خیانت او لاس وهنې مخنیوی وشي.
2. منابع په اختیار کې لرل: بیله لازمو منابعو د ښوونځی اداره او چلول ناشونی ده.
3. د ښوونکو لپاره د تحسین او امتیازاتو د سیستم موجودیت : د خپلواکو ښوونځیو په صورت کې معمولاً د ښوونکو ( سر ښوونکو ) کار ډېر زیات وي،نو د دوی لپاره باید د تحسین امکانات موجود وي.
4. د ښوونځیو د مشورتي بورډ د غړو لپاره اداري او د ښوونې او روزنې په چارو کې د ترینګ او زده کړې امکانات.
د خپلواکو ښوونځیو سیستم په ډېرو هېوادونو کې پلی کیږي، ډېر ښه مثال یې د نیوزیلانډ هېواد دی. د دغه هېواد په ډېرو ښاروالیو کې د ښوونځی مشورتي بورډ ( شوراګاني ) عملي شوي او دغو شوراګانو ته د ښوونځیو د چلولو بشپړ واک، د ښوونکو د مقرري او برطرفي د واک په شمول، ورکړل شوي دي .
د غیرمرکزي کیدنې لپاره لازم شرطونه
هر ډول تعلیمي ریفورم یو شمیر لازمې شرطونه لري، چې د هغو د نه موجودیت په صورت کې د ریفورمونو د بریالیتوب او عملي کیدلو امکانات کمیږي. تر ټولو لومړی شرط د ولس لخوا د ریفورم ملاتړ او حمایه ده.
سیاسیون او واکداران باید چې دغه خبره یقینی کړی چې پلان شوی تعلیمي ریفورم د ولس ملاتړ لری. هر عمل چې د ولس د نظریو او عقیدو سره مغایرت ولري، د بریالیتوب ډېر کم چانس لري. که والدین او ښوونکي د ریفورم په ګټو قانع نه وي، دوی ممکن د هغه مانع شي او سبوتاژ یې کړي. له بلې خوا که ښوونکی او والدین د ریفورم په پروسه کې برخه ولري او قانع وي، نو دغه ډول اصلاحات د بریالیتوب ښه موقع لري.
دوهم لازمې شرط دا ده چې هغه ذیعلاقه خواوی چې د اصلاحاتو په عملي کولو کې لاس لري، باید چې لازمه وړتیا او ظرفیت ولري. دا مسئله په خاصه توګه د هغو اصلاحاتو لپاره چې د تصمیم نیولو د واک محلی سطحو ته لیږدول او د محلی ولس برخه اخستنه پکې مطلوبه وي، ډیره مهمه ده. که محلي ولس، ښوونکی او والدین د تعلیمي چارو، اداري چارو او تصمیم نیونې په اړوند لازمه پوهه تجربه او مهارت ونلري، نو دغه اصلاحات له ناکامی سره مخ کیږي. لازم ظرفیت او وړتیا باید د قانوني نظام، پلانولو، لوایحو او مقرراتو د نصاب د قوانینو او مقرراتو، د تدریس په اړه د عمومي تجربو او د ښوونې او روزنې په نسبت د وفادارۍ او تعهد په هکله وي.
د واک محلي کیدنه لایق او با ظرفیته پرسونل ته، په خاصه توګه په ادرای اموروکې، اړتیا لري. " د واک د محلي کیدنې د اعظمي مرثریت لپاره یواځې د نورو د فیصلو او تصمیمونو د عملي کولو وړتیا بس نده بلکې په محلي سطحه تصمیم نیونکي او واک لرونکي باید ددې وړتیا ولري چې د ستونزو د حل کولو لپاره څنګه تصمیم ونیسي، مقررات کله عملي کړي او همدا راز په لوایحو او مقرراتو کې د بدلون راوړلو وړتیا ولري" ( ٦٧ مخ ) .

�محلی ( ټيټو ) سطحو ته دواک ورليږدول هغه وخت ښه کارکوي چې موجوده اداره له پخوا څخه په صحيح ډول فعاله وي� ( ٥مخ ) . له دغه ډول استدلال څخه داسې نتيجه اخستله کيږي چې غيرمرکزي کيدنه يامحلي  سطحو ته د واک د ورليږدولو پروسه بايد په تدريجي ډول صورت ونيسي او د محلي پرسونل تريننګ او تربيه کول بايد د پروسې جز وي. په رښتياني محليت کې د مختلفو ذيعلاقه خواوو شمول او برخه اخستنه لازمي بلل کيږي.

څه شيان محلي کيږي؟

د غير مرکزي نظام د بشپړ تصوير د روښانتيا لپاره دا پوره نده چې وويل شي چې يو ښوونيز نظام �غيرمرکزي�شويدي،بلکېبدااهمبايدواضحويچېکومډولوظايفچاتهاوترکومهحدهپورېمحليشويدي. برسيرهپردېدااهمبايدواضحويچېدکومهدفلپارهځينېشيانمحليشوياومتوقعهاغيزېيېپهکومېوي.

پهيوغيرمرکزيښوونيزنظامکېمرکزياداري معمولاً د پاليسی جوړولو صلاحيت له ځان سره ساتي، يعنی د ښوونې او روزنې لرليد او اهداف په مرکزي سطحه ټاکل کيږي. همدا راز ملی ښوونيز نصاب، اساسي مضامين او د هغو محتوی، د تدريس وړ او د تدريس ژبه هم عادتاً د مرکز صلاحيت وي. د ښوونې او روزنې جوړښت ( ساختمان ) او اداره د ښوونځيو موقيعت ، او د ښوونې او روزنې وسايل کله کله د مرکز لخوا ټاکل کيږي. خو د تعليمي دورو اوږدوالی، ارتقاء، تعليمي کال، د درسي ساعتونو شمير او د زده کوونکو شمير د ښوونکي په سر تقريباً تل په ملی سطحه د تصميم نيونی د مراجعو صلاحيت وي. کنترول، ترفيعات او ارزونې او د زده کړې د لاسته راوړنو ارزونې معمولاً په مرکزي اداري پورې تړلې وي. ازموينې هم د مرکز لخوا اداره کيږي .

د فعاليتونو ترسره کول او د تعليمي چارو عملي کول محلي سطحی ته حواله کيږي، چې پلانول، بودجه جوړول، اداره کول، تدريس، مهالويش، تفتيش او نظارت پکې شامل وي. پدغو مواردو کې د تصميم نيونې مراجع د والدينو څخه نيولی د ولايتی سياستمدارانو تر سطحی پوري غزيدلي وي. په ښوونځيو کې شموليت، ارتقاء، امتحانونه او د نظم او دسپلين په هکله معيارونه محلي سطحو ته ورکول شوي وي. د پرسونل تقرر او انفکاک ترفيعات او د معاشونو درجی او همداراز د ښوونځيو د پرسونل روزل هم ښايي محلي شوي وي. خو د ښوونکو د روزنې د پروګرام نصاب په عادي ډول مرکزي مسئله وي. د ښوونځيو تمويل او د لګښتونو د مصارفو واک تر ډيره حده، خو نه په بشپړ ډول او نه هر وخت ، محلی سطحو ته ورکول شوي وي.

په محلی سطحه ماليات راټولول د ښوونځيو لخوا فيس اخستل، د محلی کمپنيو او تصديو لخوا مرسته او تخصيص اودې ته ورته نور مسايل لږ او يا ډېر په محلي سطحو پوري اړوند مسايل وي. د ښوونځيو د ودانيو ترميمول او جوړول او پالنه معمولاً محلي مسئله وي .

کيدای شي چې په يوه غير مرکزي ښوونيز نظام کې تصميمونه په مرکزي، ولايتی، ولسوالي، ښاروالي او يا د ښوونځی په سطحه ونيول شي. دا چه کوم ډول تصميمونه په کومو سطحو نيول کيږي او کيدای شي چه دغه ډول بدلونونه د غير مرکزي کيدنې د اصلاحاتو موضوع وي ، په لاندي جدول کې ځينی داسي مسئلي چې ښودل شويدي.

جدول ١: د ښوونې او روزنې اړوند تصميمونو ډولونه، موضوع  او سطحې

| د تصميمونو کټيګوری | موضوع يې | د واک سطحه/ يا د مسرٔليت |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| | | سطحه |
| پالیسی | دورنما، غایه | مرکزي |
| نصاب | مضامین، د لارښوونو مواد او لارې ( مثلاً درسي کتابونه ) د تدریس د ژبې پالیسی | مرکزي ( ولایتی ) (۱) |
| ساختمان/ اداره کول | د ښوونځي موقیعت، اسانتیاوي، تعلیمي دوري او په تعلیمي کال کې د ورځو او درسي ساعتونو شمیر. | مرکز (ولایت، ولسوالي، ښاروالي) (۲) |
| آزموینې او امتحانونه | دلیاقت درجې، موثریت، لاسته راوړنې، ټولنيز مساوات | مرکز (ولایت، ولسوالي، ښاروالي) |
| عملي کول/تطبیق | پلانول، بودجه، اداره او تنظیم، تدریس، نظارت او تفتیش | ولسوالي (ولایت، ښوونځی) |
| شمول/داخله کول | معیارونه، آزموینې، انتظامي تدابیر | مرکز ،ولایت، ولسوالي، ښاروالي، ښوونځی |
| پرسونل | تقرر، انفکاک، ترفیعات، تقاعد، درجې، تصدیقونه | ښوونځی ، ښاروالي (مرکزي) |
| ترننګ | داخل الخدمت او قبل الخدمت، اداري روزنه | ولایت ( مرکزي) |
| تمویل | مالیات، فیس، نور وجوهات، ...، انکشافي او عادي لګښتونه، تخصیص | ښوونځی ، (مرکزي، ولایتي) |

(۱) یا زون او ساحي

(۲) یا ښار او کلی

©

http://benawa.com/pashto/library/16_da_afghanistan_ratlonkay_showoniz_nizam/7.php#ixzz3ISxBddVC

**غیر مرکزي کیدنې ( محلي کیدنې ) دلایل**

د ښوونیز نظام د غیرمرکزي کیدنې لپاره درې ډمیل د محرکاتو په توګه وړاندي کیږي:

1. اقتصادي محرکات: په ډېرو هېوادونو کې دولتی مالي منابع کمې شوي او د مرکزي ادارو په مالیاتي عایداتو کې کموالی راغلی دي. له بلې خوا د ملتونو د ښوونې او روزنې اړتیاوي او غوښتنې ( تقاضاوي ) ورځ په ورځ زیاتیږي. نو ځکه په محلي سطحه د مالي وجوهاتو پیداکول د ښوونیزو نظامونو د غیر مرکزي کیدنې لپاره د ګټې په بڼه توجیه کیږي.

2. ایدیالوژیکي محرکات: د آزاد بازار اصل د اقتصادي نړی والي یوه ځانګړتیا ده او په هغې کې لوی رول لري او په ښوونه او روزنه کې د سیالي ( رقابت ) په بڼه راښکاره او توجیه کیږي. له بلې خوا د تصمیم نیونې په پروسه کې د والدینو، ښوونکو او حتی زده کوونکو برخه اخستنی د دیموکراسی د تقویې په حیث هم بلل کیږي.

3. د واک ( حاکمیت ) محرکات: که څه هم د غیر مرکزي کیدنې په صورت کې بیاهم واک له مرکزي ادارې سره وي، خو د مرکزي ادارې د بیوروکرسی د کموالي په سبب د نظام په ټیټو سطحو کې د احتساب په برخه کې ښه والی رامنځ ته کیږي.

دغه درې واړه محرکات یو ډول ضد او نقیض اړخونه لري. مثلاً له یوې خوا د واک له تمرکز سره سره، دولتي ( عامه ) لګښت کموالي غوښتل کیږي او له بلې خوا محلي ذیعلاقه خواو ته زیات واک له زیات مسړلیت سره ورکول کیږي؛ چې د تمویل او لګښت مسړلیت هم پکې شامل وي .

په ښوونیزو نظامونو کې د غیر مرکزي کیدنې بدلون، تر ډېره حده د اقتصادي وجوهاتو له مخې صورت نیولی وي -په خاصه توګه په غریبو هېوادونو ( دریمه نړۍ ) کې. دا چې د ښوونځي د عمر د ماشومانو شمیر په ډېره لویه کچه زیات شوی او حتی کله کله دهېواد نیم نفوس تشکیلوی، چې په حتمي توګه د ښوونې او روزنې لپاره تقاضا زیاتوي. دولتونه د دومره زیاتیدونکو تقاضا وو د مالي لګښتونو د پوره کولو جوګه نه دي او مجبور دي چې خپل دولتی ښوونیز لګښتونه را کم کړي. دغه کار د قرض ورکوونکو ادارو لکه IMF او WB لخوا هم توصیه او کله کله آن ور باندي تحمیل کیږي.

د ښوونې او روزنې د لګښتونو د زیاتوالي علت یوازې د زده کوونکو د شمیر زیاتوالي ندی، بلکه د مرکزي نظام په صورت کې د مرکزي ادارې لوی والی او بیوروکراسی هم د لګښتونو د زیاتوالي سبب ګڼل کیږي، چې ورو تعامل او اجرات، د درسي موادو اخستل او ویش ( توزیع )، د ښوونځیو جوړول او ترمیم او بډې (رشورت) او په مجموع کې د مرکزي نظام د ادارې ظرفیت ( وړتیا ) کموالي د ښوونې د نظام په لوړ لګښت او ټیټ کیفیت باندې منتج کیږي. نو ځکه داسې ادعا کیږي چې غیر مرکزي نظام اغیزمن او د لګښت د سپما له اړخه مرجح بلل کیږي. د ښوونې او روزنې د تمویل درونډ بار ولایتی او حتی ولسی ادارو ته ورلیږدول کیږي او په مختلفو هېوادونو کې په محلي سطحه د تمویل لپاره اضافي محلي مالیات او ولسي رضاکارانه کارونه ( حشر ) معرفی شوی او عملي کیږي. په نورو هېوادونو کې بیا نړیوال او ملي غیر دولتي مړسسی چه له باندې څخه تمویلیږي،

د ښوونې او روزنې په وړاندې بيولو کې لويه ونډه لري.

له ۱۹۷۰ومي لسيزې څخه را وروسته د ملي پرمختګ د مرکزي چلوني مفکوره، چې تر هغه پخــوا مرجــع بلــل کيده، د آزاد بازار په زيات رول باندې بدله شوه. په ملي پرمختګ کې داقتــصــادي نړيــوالې پراختيا د ملي حکومتــونـو رول نور هم پسې کمزوری کړ. زوروري نړيــوالي کمپــنــی او پيــاوړي محلي ګروپونه په صحنه کې راپيدا شوي او د دولت ترڅنګ دندې ترسره کوي .

د آزاد بازار د ايدیالوژي ژبه په ښوونه او روزنه کې راښکاره شوي او داسې اصطلاحات لکه د اختيار صلاحيت/امکان، شخصی سکتور او اعظمی ګټه، ټول هغه مفاهيم دي چې د اقتصاد له ساحي څخه راوړل شويدي. د آزاد بازار د ايدیالوژي د تسلط په صورت کې ښوونځی د �آزادبازار�پهبڼهچليږي،دوندمشتريانو ( زدهکوونکو ) دجذبولوپه اړوند له يو بل سره سيالي کوي او د

�مارکيټ�دغوښتنوسرهسمښوونهاوروزنهوړاندېکوي .

دآزادبازارپهيوهسوچهنظامکېددولتمداخلتهڅانشتهاوهرڅوکحقلريچېهرډولښوونځچېوېغواړي،چلولايېشياو همهرڅوکحقلريچېهرډولښوونځاوښوونهاو روزنه چې غواړي يې، تر لاسه يې کړي. دغه افراطي حالت تر اوسه لاچيری ندی ليدل شوی، خو ددې فلسفي بنيادي مفکوره داده چې سياستمداران او هم مسلکي افراد د مشتريانو ( والدينو او زده کوونکو ) په رښتينې اړتياوو او ترجيحاتو باندې نه پوهيږي، نو ځکه بايد پخپله دوی ( والدين او زده کوونکي ) تصميم ونيسي او دوی بايد متنوع او متبادل شکلونه په واک کې ولري.

داسې ويل کيږي چې په ښوونه اوروزنه کې آزادمارکيټ هغه وخت کارورکوي چې لاندې شرايط موجود وي :

�دکيفيتاومحتولهمخېمتنوعښوونيزمرکزونهموجودوي.

�مشتريياندمتبادلولارو په هکله پوره معلومات ولري.

�مشتريانوکولاشيچېمختلفمتبادلښوونځيخوښکړي.

لهديځخهنتيجهاخستلکيږيچېدآزادمارکيټنظامپخپلهپهنظاماوهموالدينوباندېدروندباراچوي.

داچېدخلکوغوښتنېاوترجيحاتډېرمتنوعدي،نوتراوسهلاپهډېروکمو ( ځينی آبادو ) هېوادونو کې دغه ډول ښوونيزي اسانتياوې، تهيه او وړاندې کيږي.

يوه ويره داده چې د

�مارکيټ�پهښوونيزنظامکېبهيوازېدلوړتعليماومستعيدوکورنيوماشومانډېرېاسانتياويترلاسهکړياودغهډولنظا مبهدغريبوکورنيوپهګټهنهوي.

دغيرمرکزيکيدنې د مفکوري تر شا د ديموکراسی مفکوره هم پرته وي يعنی داسې ګڼله کيږي چي کله چې په محلي سطحه ټاکل شوي نمايندګان د سيمې په ښوونه او روزنه کې واک ولري، نو پدې صورت کې به احتساب او محلي اغيزي زياتوالي پيدا کړي. د ډيموکراسي دلايلو له مخې په ښاروالیو، کليو او حتی ښوونځيو کې د بورډ يا محلي شورا غړي له ولسي وګړو څخه ټاکل شوي وي، تر څو د ښوونې او روزنې د يوې برخې مسؤليت

په غاړه واخلي. په یو څو محدود شمیر هېوادوونو کې ولسي شوراګانو ته د ښوونې او روزنې په ټولو اړخونو کې صلاحیت ورکړل شوي وي، حتی د نصاب د ټاکنې او ښوونکو د تقرر په شمول،( مثلاً په استرالیا او نیوزیلاند کې). په ځینو نورو هېوادونو کې بیا د ښوونې او روزنې د محتوی او د تدریس د طریقو صلاحیت په مسلکي افرادو پورې تړل شوی وي، ( مثلاً کولمبیا، السلوادور، انګلستان ). په شیکاګو کې والدین او ولسي خلک د تدریسی پرسونل او ادارې واک په لاس کې لري. په نیکاراګوا کې د ښوونځی په شوری کې سر ښوونکی او ښوونکی، والدین او زده کوونکي شامل وي او په ګډه سره د مدیرانو او ښوونکو د تقرر او انفکاک، مهالویش، د تدریش د طریقو، درسی کتابونو ټاکل، د ښوونځی بودجه او نورو صلاحیت لري .
د دیموکراسی د وجوهاتو له مخې په غیر مرکزي ښوونیزو نظامونو کې دولتي ( عامه ) مالي مرستې ښوونځیو ته د زده کوونکو د شمیر په تناسب ورکول کیږي .
د ډیموکراسي او مالي وجوهاتو ترڅنګ د ښوونیز نظام د غیر مرکزي کیدنې یوه بله پټه ( مرموزه ) انګیزه هم وي، چې هغه د ښوونکو د اتحادیو د زور کمول دي. د غیر مرکزي کیدني په صورت کې د ښوونکو د اتحادیو لاس د مرکزي حکومت له ګریوان څخه ختلی او د محلی ادارو په غاړه کې وي او ضمناً دغه اتحادیي د تجزیه کیدلو په وجه کمزوري او محلي حیثیت لري.
په ښوونیز نظام کې د غیر مرکزي کیدني د اصلاحاتو راوستل پدې فرضیې بناوي چې هغه غیر مسلکي وګړي چې واک او مسرٔلیت ورلیږدول کیږي د ښوونځیو د اغیزمن چلولو وړتیا لری . "دغه ډول اصلاحات شاید په پیاوړیو هېوادونو کې د اجرا وړ وي، چیرې چې په واک کې د محلي ولس را شریکول مرکزي حکومت ته د خطر او بی امنیتی ګواښ نه ښکاري. دغه ډول ټولنې لا پخوا د منطقوي، طبقاتی، نژادي او مذهبی ګروپونو ترمنځ د ټولنیز عدالت لوړ پوړ ته رسیدلی وي" ( پورتنی مرجع ٣٦ مخ ). دغه توضیحات په ډېر استثنائي ډول د دریمې نړۍ په هېوادونو کې لیدل کیږي، چیرته چې د مرکزي حکومتونو تقویه کول د بحث اجندا تشکیلوي او برعکس یې لاتر اوسه د خوب لیدل ښکاري.
غیر مرکزي کیدنی ولې داسې شهرت پیدا کړ او د هیوادونو ترمنځ د زیاتو توپیرونو سره سره د نړۍ په مخ نشر شوه؟ د �ازادمارکیټ�مفکورهښوونځیوتههمدګټهاخستنندمرجعشکلورکوي (
شخصښوونځدفیسپههمقابلکې ). کلهچېښوونه او روزنه دولتی دنده بلل کیده، دغه ډول مفکوره د یو څو استثناتو ماسیوا، نه چا اوریدلی او نه د تصور وړ وه. مرکزي ښوونیز نظامونه د دوی د معیاری او یو ډول والی له وجې تر تنقید لاندي دی. ویل کیږي چې دغه ډول نظامونه محلي ښوونیزو غوښتنو ته ځواب نشی ویلاي. والدین او زده کوونکي د دوی او مرکزي ادارې ترمنځ د زیاتي فاصلي له وجی ناخوښ وي. د مرکزي انحصار په سبب د ښوونیزو محلي نوښتونو د ودي لپاره هیڅ چانس او ځای نشته.
نور بیا د پورته توضیحاتو سره موافق ندي او وائي چې �دمرکزیتاوغیرمرکزیتپهموضوعکېمهمترینواقیعت د حاکمیت او واک ویش وي"، نور مسایل �کوماهمیتنهلري " (١٧٥مخ) .

�دمرکزیتاوغیرمرکزیتاصطلاحاتدتسلطاواقتداردښودنپلپارهاختراعشوینومونهاوژبنوسایلدي،چپاقتدارتهدقانو نیتشکلورکړي� ( پورتنمنبع۱۷۶مخ ). مرکزیتاوغیرمرکزیتدیوپاداري دجوړښت مختلف اړخونه دي او په اداره کې د واک د ویش په اړه دي. عموماً داسې پوهیدلای شو چې مرکزیت د واک او اقتدار تمرکز او غیر مرکزیت د واک د وېشلو او لیږدولو په هکله دي.

د غیر مرکزیت لاسته راوړنې

د غیرمرکزیت د اصلاحاتو د نتایجو په هکله ډېرې کمې ارزونې شویدي او دا چې اهداف یې تل روښانه نه وي نو ارزونه یې هم مشکلات لري. که څه هم معمولاً داسې بلل کیږي چې غیر مرکزي کیدنه یا د واک لیږدول ټیټو سطحو ته په خپل ذات کې یو ښه شی دی.
�واکاواقتدارمحلیشوي�،خوبیاهمدغیرمرکزیکیدنیډېرېکمیاغیزیپېهتجربویډول څیړل شویدي .
یو شمیر څیړنو موندلي ده چې کله چې غیر مرکزي کیدنې د اقتصادي وجوهاتو له وجې عملي شوي وي او موخه یې د ښوونې او روزنې د لګښتونو ټیټو سطحو او یا غیر دولتي موسیساتو ته ورسپارل وي، نو د ټولنیزو توپیرونو په زیاتوالي باندي یې منفي اغیزي ښکاره شوي دي . پدې صورت کې غیر مرکزي کیدني نه یوازې ټولنیز, توپیرونو ته زور ورکوي بلکه هغه تقویه کوي: په کلتوري او اقتصادي لحاظ اباد او مستعید ټولنیز طبقات په غیر مرکزي ښوونیز نظام کې په ښوونه او روزنه کې زیاتي اغیزي او تسلط لري. د مثال په توګه د زیمبابوي په افریقایي هیواد کې د یو راپورله مخې د غیر مرکزي کیدنې د ریفورم په نتیجه کې ممتازو ټولنیزو طبقاتو بیرته خپل مخکښ ټولنیز موقف تر لاسه کړ او د دغه قشر د ماشومانو په ګټه او د ټولنې د غریب قشر د اولادونو په تاوان تمامه شوه .
د محلي حکومتونو د اقتصادي وړتیا نا برابري ددې سبب کیږي چې په مختلفو جغرافیوي واحدونو کې د ښوونې او روزنې د کیفیت او کمیت دواړو له اړخه نا برابري رامنځته شي. څرنګه چې اقتصادي وضیعت په محلي سطحه هم ښه نه بلکه زیات خراب وي، نو ځکه د ښوونې او روزنې لګښتونه راکم شوي وي، په خاصه توګه د پیسو د سپما لپاره د ښوونکو شمیر کم او په پاته ښوونکو د کار بار ورزیات شوی وي. د ښوونځیو مدیرانو معمولاً یو څه زیات واک او اختیار ترلاسه کړی وي، خو د نویو مسړلیتونو او دندو په قیمت د ښوونکو کار زیات شوی دي او غیر تدریسی کارونه هم کوي. د والدینو او د چاپیریال نورو نویو غوښتنو ته د ځواب ورکولو دندي هم ورته سپارل شوي وي. د اضافي کار په مقابل کې معاشونه ندي ورزیات شوي او نوی اضافه پرسونل نه وي استخدام شوی . توقع کیږي چې د لګښتونو د کمښت لپاره د ښوونکو د کار زیاتوالي او د هغوی د معاش کموالي د زده کوونکو په لاسته راوړنو منفی اغیزي نه کوي. دا ادعا د هغی څیړني په استناد کیږي چې په ټولګي کې د زده کوونکو شمیر او د قبل الخدمت د ښوونکو د روزنې د پروګرامونو د زده کوونکو له لاسته سره کومه خاصه اړه نلري .

په غیر مرکزي ښوونیزو نظامونو کې د ښوونکو اتحادیي د ښوونکو د تنخواګانو د مختلفو رتبو په هکله ګوتنیوني کوي او وایي چې د تنخواګانو رتبی د محلي شرایطو د په نظر کې نیولو له وجی توپیر سره لري او د ښوونکو تنخواګاني د ملي معیارو له مخې نه بلکه د محلي شرایطو په اساس وي. دغه ډول، د ښوونکو په تقرر او انفکاک کې هم په محلي سطحه د خیانت او بی عدالتیو څخه شکایت کیږي. په مقرراتو او لوایحو کې شفافیت نه وي او اکثره وختونه د احتساب لپاره کوم میکانیزم موجود نه وي.
داسې ګڼل کیږي چې په ټیټو سطحو کې د اداري لګښتونو کموالی مالی اغیزمنتوب زیاتوي، یعنی یو کار په کم لګښت ترسره کیږي. خو بیا هم د نوي پاپواګینا په افریقایی هېواد کي د غیر مرکزي کیدني د اصلاحاتو تجربو برعکس ښودلي ده. په دغه هېواد کې دغو اصلاحاتو ډېره پراخه بیوروکراسي یا په اصطلاح میرزا قلمي رامنځ ته کړه . پداسې حال کې چې په انګلستان او استرلیا کې د
�خپلواکوښوونځیواداارو�دسیستمپههپلیکولوسرهپهاغیزمنتوب کې زیاتوالی راغی. دغه مثالونه دا په ګوته کوي چې د اغیزمنتوب د ښه والي لپاره د مرکزي اداري لوړ اداري او مسلکي ظرفیت یو لازمي شرط دي.
غیر مرکزی کیدنه په ښوونه او روزنه کې د برخې اخستنې د تشویق د وسیلې په حیث اغیزمنه ثابته شویده او لږ تر لږه په وړو مسئلو کې، لکه د ښوونځی د شروع ساعت ( وخت )، د ښوونځی لپاره وسایل او نورو کې د والدینو او زده کوونکو اغیزه زیاته شوې ده. ښوونکي، مدیران، والدین او زده کوونکي د ښوونیز غیر مرکزي نظام د ښوونځیو په چارو کې ډېر فعال وي. له بلې خوا د ښوونې په چارو کې د مرکزي اداري له خوا کنترول او نظارت زیات شوی وي.
د زده کوونکو د زده کړي په لاسته راوړنو باندې د غیر مرکزي کیدلو د ریفورم اغیزي په خاص ډول ندي څیړل شوي او دا هم معلومه نده چې ددغه ډول اصلاحاتو اغیزي به څه وي؟ دا خبره ددې یو دلیل کیدای شي چې غیر مرکزي کیدنه د پیداګوژیکی وجوهاتو او محرکاتو له وجې نه، بلکه د اقتصادي او سیاسي وجوهاتو له مخې رامنځ ته کیږي.
د دریمې نړۍ هېوادونه ډېر په ندرت سره پداسې یو حالت کې پیدا کیږي چې د غیر مرکزي کیدنې له اصلاحاتو څخه به ګټه واخستلای شي. د ۱۹۸۰ومی لسیزې او په خاصه توګه د شوروي اتحاد له تجزیه کیدلو وروسته د دریمې نړۍ ډېرو هېوادو داسې ښوونیزو ریفورمونه عملي کړي چې له غربي هېوادو څخه اقتباس ( نقل ) شوي وي. یوه نمونه یې په قرغزستان کې د ښوونې او روزنې ریفورم دی .
په مرکزي اسیا کې له شوروي اتحاد څخه رابیل شویو اکثرو هېوادونو هیله درلوده چې خپل ښوونیز نظامونه غیر مرکزي کړي او د ځانګړتیاوو او توپیرونو سره یې د خپلو ښوونیزو نظامونو په جوړښت کې سره ورته تدابیر عملي کړل. په دغو هېوادونو کې "د دغو اصلاحاتو لنډ مهاله نتیجه په اکثرو ښوونیزو شاخیصونو کې ټیټوالی او وروسته پاته والی شو"( مخکینی مرجع ۲۲۷ مخ ).
د دریمې نړۍ په هېوادونو کې د غیر مرکزي کیدني ځینې اجزاوي په طبیعی او غیر ارادي توګه موجودي

وي. مثلاً د ترانسپورتي ضعیفو امکاناتو په وجه د ښوونځیو نظارت، تفتیش او امتحانونه په بشپړ یا نیم ډول د محلي ادارو لخوا ترسره کیږي، ځکه چې مرکزي مفتیشین او لوړرتبه دولتي مامورین د حمل او نقل د ضعیفو امکاناتو له وجې نشی کولای چې دا کا رپخپله وکړي. ( لږ نور ).

په غیر مرکزي ښوونیز نظام کې شاید مختلف درسی کتابونه په مختلفو محلونو کې انتخاب شي- البته کله چې مرکزي تعلیمي نصاب طرح شي. اما په ډېرو پرمختلونکو هېوادونو کې د مختلفو درسی کتابونو د انتخاب امکانات ډېر کم موجود وي، دا ځکه چې معمولاً د هر مضمون او ټولګي لپاره یوازې یو ډول درسی کتاب پیدا کیدای شي. همدا راز په پرمختلونکو هېوادونو کې د مالي چارو او د تمویل د منابعو محلي کول هم یوه ستونزه بریښی، دا ځکه چې معمولاً په محلي سطحه د منابعو د کموالي په سبب د مالي منابعو را پیداکول تقریباً ناممکن وي. د چارو اداره په طبعي ډول غیر مرکزي شوي وي، ځکه چې د ارتباط ساتل کمزوري وي.

تاجکستان هغه هېواد دی چې پکې عملي شوي ښوونیز اصلاحات د نړیوالو د اغیزو یو ښه مثال کیدای شي. په نوموړی هېواد کې د آزاد بازار د اقتصاد د اُصولو په پیروي په ښوونه او روزنه کې د شخصی سکتور، فیس اخستل او د پخواني قوي مرکزي نظام غیر مرکزي کیدل عملي شول چې نتیجه یې په ټولنیزو توپیرونواو بی عدالتیو کې د زیاتوب په شکل ښکاره شوه. په دغه هېواد کې چې بی ثباتي او دوامداره جګړه لا روانه وه، د ښوونیزو

�اصلاحاتو�یوازینۍنتیجههددولتیمرستاوحمایدکموالي،اخلاقتنازل،دتدریسدمفهوممحدودیتاوتنګوالیاود شعارونواوواقیعتونوترمنځدتضادپهشکلښکاریږي . دښوونکوغږځوکنهاورباوددوبدکارشرایطپهډېرمنفيډول اغیزمن شوي وو.

د بنګله دیش په هېواد کې د برک (BRAK) د مرسسی پروګرامونه د داسې یوه غیر مرکزي ښوونیز نظام مثال دی، چې د تصمیم نیول د مسلکي افرادو په واک کې دي او ولس یوازې په کم اهمیته مسئلو باندې اغیزي لري. ښوونکی د ولس لخوا ټاکل کیږي خو د برک د مسلکی پرسونل لخوا باید تائید شي . په افغانستان کې د سویډن د کمیټې لخوا چلوونکي ښوونځي هم ددغه ډول نظام یو مثال کیدای شي، خو د ولس په ځای دولتي مقامات د ښوونکو تقرر تائیدوي.

د غیرمرکزي کیدنې نتایج او لاسته راوړني داسې خلاصه کولاي شو چې:

1. لګښتونه له مرکز څخه ټیټو سطحو ته انتقال ( لیږدول ) شوي وي.
2. د مخلي ولس او ښوونځیو حاکمیت ( د کوچنیو مسئلو واک ) زیات شوی وي.
3. په غټو مسئلو کې د مرکزي ادارې د کنټرول واک د نظارت او ارزوني پوسیله ساتل شوی او یا حتی زیات شوي وي

©

http://benawa.com/pashto/library/16_da_afghanistan_ratlonkay_showoniz_nizam/8.php#ixzz3ISxJlVlm

**شخصي سکتور ( غير دولتي ښوونځي )**

په ښوونه او روزنه کې شخصی سکتور کيدای شي د نظام د غير مرکزي کيدني يوه نتيجه وي. کله چې په مرکزي نظام کې د غيرمرکزي کيدني اصلاحات رامنځته کيږي، نو په ښونيز نظام کې شخصی سکتور ته اجازه ورکوله شوي وي. شخصی ښوونځی رامنځته کيږي او زياتيږي او لږ او ډير د دولت لخوا تمويل او کنترولیږي. شخصي سکتور د غير مرکزي کيدني په معنی نه وي. د شخصي سکتور په صورت کې هم کيدای شي د مرکزي اداری واک کم شي. محلي ( ولايتي ) دولتي اداری ممکن د ښوونځيو د اداری او کنټرول بشپړ واک ولري. شخصي سکتور کيدای شي د دولتي اداری په عوض د غير دولتي او يا مذهبي سازمانونو لخوا وچلول شي او پدغسي صورتونو کې هم د ولس واک کم او چلوونکی اداری د ښوونځيو د کنټرول او چلولو بشپړ واک لري. يعنی دولتي واک بلې اداری ته ورکړل شوي وي.

په ډېرو هېوادونو کې شخصي ښوونځي ځکه رامنځته شوي وي چې د ښوونې او روزنې لپاره تقاضا زياته او دولتی ښوونځی دغه تقاضا نشی پوره کولای او يا دا چې دولتي ښوونځي د کيفيت له اړخه د قناعت وړنه وي. دغه وروستی خبره په ډيرو پرمختلونکو هېوادونو کې د شخصی ښوونځيو او په خاصه توګه د ثانوي ( ليسو ) د زده کړو، د رامنځته کيدلو او ودې يو علت دی.

په ابادو ( پرمختللو ) هېوادونو کې شخصي ښوونځي د ښوونځيو د کيفيت له وجې نه بلکه د مختلف النوع او متنوعو غوښتنو د پوره کولو له وجې رامنځته کيږي. ځينی وائی چې د شخصی ښوونځيو د جواز استدلال د ښوونې او روزنې پخواني تاريخ ته راجع کيږي، يعنی د دولتي تعليمي نظام تر رامنځته کيدلو ډېر مخکې، د ښوونې او روزنې چارې د ولسونو او ټولنو لخوا ترسره کيدلې او د شخصي ښوونځيو اوسنی غوښتنه پخوانی حالت ته د ورګرزيدلو غوښتنه بلل کيږي. ځينی نور بيا وايی چې شخصي ښوونځي د �استقلال�- دخوښی ( آزادی )،ددلايلولهوجېضرورېدی ( موږبايددا خپلواکي ولرو چې د خپلې خوښی ښوونځي جوړ کړو او برخه پکې واخلو ). د شخصي ښووځيو د دفاع لپاره د نړيوالي استدلال د ګټور توب د اصل بنياد دی، يعنی د نړيوالي د اصل له مخې د ښوونيز نظام د اغيز منتوب او توليد د زياتوالي لپاره شخصي ښوونځي ضروري دي .

په لنډ ډول ويل کيږي چې شخصی ښوونځی د دوی د شکل له مخې تصنيف کيږي. ځينی شخصي ښوونځي د ارزښتونو او اخلاقي زده کړو لپاره مختص شوي وي ، خو ځينی نور بيا د مذهبي زده کړو لپاره وي. په ځينو هيوادونو کې شخصی ښوونځي د قومي او نژادي او ياژبني ګروپونو لپاره وي. ځينی شخصي ښوونځي بيا د ځانګړو پيداګوژيو له مخې ځانګړي شوي وي. مثلاً د مونتی سوری، رودولف شتاينر او نور ښوونځي.

د شخصي ښونځيو يو ډول د عامه دولتي ښونځيو په شان د دولت لخوا تمويليږي خو يوازې دا چې د غير

دولتي موسساتو لخوا چلیږي، خو ځینې نور بیا د خیریه مږسسو لخوا تمویلیږي. ځینې شخصي ښوونځي د ټولنیز ممتاز قشر د اولادونو لپاره وي او یو ډول خاص حیث لري. ځینې نور بیا د ګټې اخیستنې لپاره تجارتي شکل لري. ځینی وخت د خارجي اتباعو د اولادو لپاره خاص ښوونځي وي، چې په موقتي ډول په یو هېواد کې دندي لري ( دغه ډول ښوونځي د �نړیوالوښوونځیو�پهنومیادیږي.
دمعیوبوماشومانولپارههمخاصښوونځوي.
پاکستانیوداسېهېوادد‌يچېدټولوشخصیښوونځیومثالونهاونمونېپکښلیدلکیږي. اسلامیمدرسی (
چېکلهکلهددولتلخواپهنیمهډولتمولیږي )،داسماعیلیانولپارهخاصښوونځیچېیوازېاویوازېددغه مذهب د پیروانو د اولادونو لپاره دي او د اغاخان فونډیشن لخوا تمویلیږي. د مهاجرو په کمپونو کې د افغانانو لپاره خاص افغاني ښوونځي دي، چې یوازي افغاني ماشومان پکې زده کړه کوي. سره له دې چې ملی ژبه اردو ده، خو به ډېرو ښوونځیو کې انګلیسی د تدریس د ژبې په حیث پکاریږي. د مونتی سوری ښوونځي هم موجود دي اود ټولنیزو خاصو قشرونو لپاره، مثلاً د ځښتو د بتیو د کارګرو د اولادو لپاره خاص ښوونځي موجود دي. د معیوبینو لپاره د خیریه مږسسو لخوا خاص ښوونځي فعال دي. د ممتازي طبقي لپاره یو شمیر خاص ښوونځي په لویو ښارونو کې فعالیت کوي او ډیر لوړ فیس اخلي، چې دغه لوړ فیس د نوموړو ښوونځیو حیث لوړ ساتي. ضمناً دغه ډول ښوونځي د چلوونکو لپاره د ګټې ښه منبع هم وي.
د کیفیت او د زده کړي د سویی له اړخه عام تصور داسې دی چې شخصي ښوونځي په دولتي ښوونځیو برتري لري، اما دغه فرضیه د څیړنو لخوا په دوامداره توګه نده ثابته شوي. په هغو مواردو کې چې په شخصي ښوونځیو کې د زده کوونکو د زده کړي لوړه سویه لیدل شوي وي، د هغه عوامل په ښوونځیو کې نه، بلکه د والدینو او کورنیو په کلتوري پانګي پورې اړه لري. یعنی زده کوونکي یې د ټولنې پداسې قشر پورې اړه لري چې اقتصادي او فرهنګي سطحه یې لوړه وي .
د شخصي ښوونځیو د برتری علت د ښوونکو په معاشونو پورې تړلی وي. د دولتي ښوونځیو ښوونکي دایمي وظیفې لري، انفکاک او تقرر، د کار شرایط او نوریې د مقرراتو او اصولو له مخې صورت نیسي. اما شخصي ښوونځي په موقت ډول ښوونکي استخداموي. معمولاً ښوونکي یې نور کارونه ورسره لري. د ځینو په اصطلاح
�دټکسيډریوران�ښوونکیهلتهموقتیدندپاخلیچېپدېوسیلهیېمصارفکموي.
شخصیسکتوردغیرمرکزیکیدنېیوشکلبللکیږیاودغیرمرکزیدربډولونهپکښتفکیکشویدي .
1. هغهشخصیښوونځیچېهیڅفیسنهاخلي او کاملاً د دولت لخوا تمولیږي او کنترولیږي.
2. هغه شخصي ښوونځي چې هم فیس اخلي او هم ددولت لخوا یوه برخه لګښت ترلاسه کوي او نسبي آزادي لري.
3. هغه شخصي ښوونځي چې په بشپړ ډول په شخصي لګښت چلیږي. بشپړه خپلواکي لري او د دولت هیڅ کنټرول ور باندي نه وي.

معمولاً شخصي ښوونځي د دولت لخوا مالي مرسته ترلاسه کوي او د لګښتونو لویه برخه پوره کوي. معمولاً د دولتي مرستې او دولتي کنترول ترمنځ اړیکي لیدل کیږي. څومره چې د دولتي مرستي مقدار زیات وي. دومره د دولت لخوا ډېر کنټرول منی .

د دولت لخوا د شخصي ښوونځیو تمویل او مرسته په مختلفو لارو ترسره کیږي. په ځینې صورتو کې د دولت لخوا د ښوونځیو د چلولو واک او مسړلیت افرادو او یا مړسساتو ته ورکول شوی او د لګښتونو مصارف یې دولت ورکوي. کیدای شي دولت د ځانګړو ښوونځیو د چلولو لپاره قرار داد یان استخدام کړي. بل شکل یې له والدینو سره د ښوونځیو د مصارفو په اندازه مالي مرسته وي. کیدای شي نغدی مرسته ورکړي او یا یې په هغه اندازه مالیات را کم کړي. آخرني ډول د امریکا په متحده ایالاتو کې لیدل کیږي. د چلی په هېواد کې ښوونځي د کوپراتیفونو په شکل د ښوونکو ملکیت وي. په ځینی نورو هېوادونو کې د والدینو او یا نورو ټولنو له خوا چلیږي .

د غربي ( ختیځي ) نړۍ په ډیرو هېوادونو کې د دولتي لګښتونو د راکمولو د دلایلو له وجې شخصي سکتور معرفي شوی وي. په دغو هېوادونو کې شخصي ښوونځیو او دولتي ښوونه او روزنه په مختلفو شرایطو کې سیالي کوي. په ځینو هېوادونو کې د ضعیفو زده کوونکو لپاره غیر دولتي لیسې یوازینی چانس وي. یعنی هغه زده کوونکي چې په دولتي لیسو کې د ټیټو نومرو په سبب د داخلیدلو چانس نلري، نو په شخصي ښوونځیو کې داخلیږي

د دولت په مالي مرسته د چلیدونکو شخصي ښوونځیو لګښت د دولتي ښوونځیو په نسبت لږ وي. له ښوونځیو سره د دولتي مرستي لپاره په ډېرو هېوادونو کې د استحقاق (Voucher) سیستم معرفي شویدی. یعنی ښوونځي که شخصي وي، او که دولتي وي، د زده کوونکو د شمیر په اندازه معینه اندازه پیسې ترلاسه کوي. یعنی د هر زده کوونکي لپاره ټاکلي پیسې ترلاسه کوي. داسې فرض کیږي چې د استحقاق سیستم د لګښتونو له اړخه اغیزمن وي، ځکه چې په ښوونه او روزنه کې دولتي انحصار کم او شخصي سکتور وده مومي. د استحقاق د سیستم د معرفي کولو بل دلیل د ګټور توب اصل بلل شوی دی. یانې د زده کوونکو د زده کړې لاسته راوړنی ښه والی مومي. په ځینو هېوادونو کې د استحقاق سیستم په ښوونځیو کې د شمول د زیاتوالي لپاره معرفي شوی وي. پدغه صورت کې یوازي د غریبو کورنیو ماشومان د استحقاق مستحق وي او شخصي ښوونځي مجبور وي چې د غریبو کورنیو ماشومانو ته یوه فیصدي ځای ورکړي . دا چې د استحقاق سیستم د زده کوونکو په شمیر پوري اړه لري، نو مقدار یې د یو کال او بل کال ترمنځ دېر تفاوت پیدا کوي. دغه کار د ښوونځیو د اوږد مهاله پلانونو لپاره ډېرې ستونزې پیدا کوي، په خاص ډول د قیمتي پانګه اچونې په مواردو کې، مثلاً د ښوونځیو د تعمیر جوړولو په صورت کې.

شخصي ښوونځي د غیر دولتي مړسساتو ( ملي او نړیوالو ) لخوا هم چلیږي. یو مثال یې ډېر افریقایي هېوادونه دي. یو مثال یې د امریکا د ماشومانو د حفاظت د ټولنې (Save theChildren) لخوا چلیدونکي ولسي

ښوونځي دي. دغه مړسسي ( د مرکزي دولتي ادارو په اجازه ) د بورکينا فاسو، ماليا، گانا، گوينا او مالوي په هېوادونو کې محلي ولسونو ته مرسته ورکوي چې ولسي ښوونځي وچلوي او د خپلې خوښې تعليمي نصاب ولري او پخپله ولسي خلک د ښوونکو د تغيير او تقرر صلاحيت هم لري .
دغه ډول ښوونځي په هغو سيمو کې معرفي شول چيرې چې يا پخوا هلته دغه ډول ښوونځي نه وو او يا دا چې د دولتي ښوونځيو کيفيت ډېر ټيټ وو. په وروستي حالت کې دولتي ښوونځي وتړل شول. کيداى شي دغه کار زده کوونکو ته گټه رسولي وي، اما ددغه ډول ښوونيز نظام دوام او بقا د سوال وړ مسئله ده.

## د خپلې خوښي د ښوونې او روزنې امکانات

داسي ادعا کيږي چه د خوښي د متنوعو امکاناتو موجوديت به د خلکو او زده کوونکو قناعت حاصل کړي. نور بيا داسې ادعاکوي چې د پلرونو لپاره د خوښي د ښوونځيو امکانات له يوې خوا د دوى بشري حق دي او له بلې خوا د يوې ديموکراتيکي ټولنې لپاره لازمې شرط دی. همدا رنگه دا چې زده کوونکي مختلفي غوښتنې لري او د دوی د غوښتنو پوره کول د مختلفو ښوونځيو د موجوديت د اړتياوو بل دليل کيږي.
د خپلې خوښي د ښوونې او روزنې د ترلاسه کولو لپاره دوه طريقې موجودې وې. يوه دا چې پلرونه د مختلفو دولتي ښوونځيو په انتخاب کې مختار وي. بله طريقه دا ده چې پلرونه د دولتي او شخصي ښوونځيو تر منځ د انتخاب اختيار لري. پدې ترتيب دغه ښوونځي د زده کوونکو د جلبولو لپاره سيالی سره کوي. د مثال په توگه په ډيرو غربي هېوادونو کې مذهبي لړکيو خپل ښوونځي جوړ کړي او پلرونه اختيار لري چې خپل اولادونه عامو ښوونځيو ته ورليږي او که خاصو ښوونځيو ته. په اسلامي هېوادونو کې پلرونه د دينې مدرسي او يا عصري ښوونځي ترمځ مختاروي. د اختيار بل شکل د خاصو پيداگوژيو په اساس جوړ شوي ښوونځي، د خاصو ژبو په اساس ښوونځي او يا د کيفيت له اړخه مشهور ښوونځي وي، چې پلرونه د هغو ترمنځ د خوښوولو واک لري
د امريکا په متحده ايالاتو کې يو ي څيړنې ښودلې ده چې پلرونه د خپلو اولادو لپاره د شهرت په اساس ښوونځی انتخابوي او د ښوونځيو د شهرت دليل په هغو کې د زده کړي کيفيت نه بلکه د هغو لوړ فيس وي ( مخکينی مرجع ).
څيړنو ښودلي ده چې د ښوونځيو د انتخاب د امکان په صورت کې د والدينو ټولنيز طبقاتي انتساب د ښوونځيو په خوښولو او انتخاب کې لوی رول لری. د مثال په ډول د چلی په هېواد کې د لوړ تعليم لرونکي پلرونه خپل اولادونه په هغو ښوونځيو کې داخلوي چې لوړي نمري لري او د والدينو تعليمي سوابق يې لوړوي. دا چې کم تعليم او يا بې تعليم والدين خپل اولادونه په دغه ډول ښوونځيو نه شامِلوي، سره لدې چې امکانات هم ورسره وي، مختلف دلايل لري. له يوې خوا د دغه ډول پلرونو ناخبري او له بلې خوا د دوی طبقاتي انتساب د دې عمده عوامل بلل کيږي چې دوی خپل اولادونه نورو ښوونځيو ته ليږي. دغه ډول پلرونه خپل

ځان ټيټ بولي او فکر کوي چې د دوی ټولنيز موقف دا نه ايجابوي چې دوی هغو ښوونځيو ته خپل اولادونه ورولیږي ( که څه هم ډېر با استعداده وي )

ويل کيږي چې د خوښي د انتخاب امکانات په دريو لارو عملي شوی وي :

1. د داسې مالي ميکانيزم له لارې چې والدينو ته ددې امکان ورکوي څو خپل اولادونه د خپلې خوښې ښوونځيو ته وليږي.

2. د دولت لخوا د متبادلو ښوونځيو تمويل او چلول.

3. د غير دولتي مرسساتو لخوا د متبادلو ښوونځيو تمويل او چلول.

په عملي توګه د انتخاب د امکاناتود موجوديت په صورت کې هم انتخاب په جغرافيوي موقيعت پورې محدودوی، يانې پلرونه معمولاً نژدې ښوونځی انتخابوي.

د استحقاق سيستم (Voucher System) د ښوونځيو ترمنځ د سيالي د رامنځته کيدلو په منظور او هدف معرفي شوي وو. عقيده داسې وه چې د ښوونځيو ترمنځ رقابت به د ښوونې او روزنې کيفيت ښه کړي او بيله سيالي دغه ښه والي ممکن نه دي. خو ډېرې کمې څیړنې دغه فرضه تصديقوي. د ځينو په عقيده دولتي ښوونځي ښايی د سيالي لپاره کوم خاص محرکات ونلري. کله چې دغه ډول ښوونځي د بودجې له کسر سره مخ شي، نو دوی د کيفيت د ښه والي له لارې له شخصي ښوونځيو سره د سيالي پر ځای د دولت لخوا د زياتو مالي امکاناتو د پيدا کولو په لټه او هڅه کې کيږي. له بلې خوا دولتي ښوونځي ښايي د کيفيت د ښه والي وړتيا ځکه ونلري، چې د دوی ښوونکي ښايی ټيټه سويه ولري او زده کوونکي يې له غريبو کورنيو څخه وي اونوري کمزورتياوي ولري. د چلي د هېواد مثال دا راښيئ چې، په غريبو سيمو کې د درسي کتابونو د کيفيت ښه والی، پيداګوژيکي مرستي، د ښوونکو د هڅوني محرکات او نور عوامل په دولتي ښوونځيو کې د ښوونې او روزنې د کيفيت د ښه والي سبب شوی، خو له نورو باکيفيته ښوونځيو سره سيالي نده رامنځ ته شوي او يا يې کومه اغيزي ندي کړي ( پورتنی ماخذ ). د زده کوونکو د شمول په هکله په ځينو هېوادونو کې ښوونځي د خپلې مربوطي سيمې ټول ماشومان مني. په ځينو نورو کې بيا د نفوس د جوړښت له مخې خاصو ټولنيزو قشرونو ته برخې ( سهمونه ) ورکول شوي وي او ځينی نور بيا پدې اړه کوم خاص مقررات او قوانين نلري.

د ډېرو څیړنو راپورونه ښيئ ددې لپاره چې پلرونه د خوښې ښوونځي انتخاب کړای شي، دوی بايد پوره معلومات ولري. د خوښي د انتخاب حق او امکاناتو د ټولنو د ممتاز او خبير قشر اولادونو ته ګټه رسولي او غريبانو کمه ګټه ځينی اخستی ده. سيالي او رقابت معمولاً د تفاوتونو او د تفکيک علت شوی، نه دا چې د ټولو ښوونځيو د کيفيت د ښه والي سبب ګرزيدلی وي.

©

http://benawa.com/pashto/library/16_da_afghanistan_ratlonkay_showoniz_nizam/9.php#ixzz3ISxPzHud

**برخه اخستنه (Participation)**

د غیر مرکزي کیدنې په صورت کې توقع کیږي چې په تصمیم نیونې کې د ولس برخه اخستنه ښه شی. په خاص ډول داسې فرض کیږي چې والدین به د ښوونځیو په چارو کې زیاته ونډه اخلي. د والدینو برخې اخستنې ته رسمي شکل ورکول شوی وي، د مثال په ډول د ښوونځی بورډ او شوراګاني رامنځته شوي وي. په دغه ډول حالاتو کې د والدینو رول او واک ډېر متفاوت وي، چې په ځینو شوراګانو کې د ناظرینو او نورو کې د پیاوړیو واکدارانو او تصمیم نیوونکو په حیث رول لري. د والدینو اغیزي او برخه اخستنه پدې پورې اړه لري چې ښوونځي په محلي سطحه د کومو چارو د تصمیم واک لري، د پلرونو د ونډې اخستنې لپاره کوم ډول نظم موجود دی، د دوی نمایندګان څنګه ټاکل شوي دي او د دوی دندي او مسرلیتونه څه دي. د پلرونو عمومي وړتیا وي، دلچسپی، هڅوني او ددې لپاره له دوی سره د وخت موجودیت او همدارنګه د دوی ټولنیز اقتصادي اوکلتوري سوابق هم هغه اړخونه دی چې ترډېره حده د پلرونوپه ونډې اخستنې باندې اغیزي لري .

د ښوونځیو په چارو کې د والدینو د ونډې اخستنې تر شا د سیاستمدارانو د نیتونو او ارادو په هکله ځینی څیړونکي شک لري. څرنګه چې ښوونه او روزنه په ټولنو کې منځنۍ فعال سیاسي قشر راپیدا کوي چې دغه قشر د سیاستمدارانو لپاره د مزاحمت سبب ګرزي. محلي رسمي میکانیزم په محلي سطحه د دغو سیاسي فعالینونو د فعالیت ساحه محدودوي او په محلي سطحه مصروفیدل به مرکز او سیاستمداران د دوی له مزاحمت څخه تر یوه حده بې غمه کوي. په بل عبارت د سیاستمدارانو هدف دا وي چې د ټولنې فعال منځنی سیاسي قشر تجزیه او په وړو محلي رسمي جوړښتونو کې یې مصروف کړي، تر څو ددغوسیاسي فعالینو لاس د دوی له ګریوان څخه وخیزي. او د دوی ساحه په وړو سطحو او کم اهمیته ټولنیزو مسئلو پورې محدوده شي خو د ښوونځیو په چارو کې د والدینو د ونډې اخیستنې په ځینو صورتونو کې، مثلاً په د استرالیا او نیوزیلاند کې ، حتی د مدیرانو تقرر او انفکاک هم شامل وي.

د ښوونځیو په چارو کې د واک د ونډې اخستنې نور ډولونه هم شته. مثلاً د والدینو او محلي قانون پوهانو په ځای، مسلکي محلي خلک د ښوونې او روزنې اداره په غاړه لري. ددغه ډول ونډې اخستنې ترشا دلایل دا وي چې ښوونه او روزنه باید غیر سیاسي صحنه وي او په ساینسي څیړنو او تخصصي پوهې باندې اتکا ولري. لږ تر لږه پدې هکله چې په ښوونځیو کې څه زده کړل شي او څنګه یې زده کړي ( تدریس ) باید د متخصیصینو په واک کې وي. پدغو صورتونو کې د ښوونځی په بورډ یا شوراګانو یا نورو تعلیمي مراجعو کې مسلکي افراد یا اکثریت وي او یا د ویټو حق لري. خو د تصمیم نیونې حق د محلي سیاسیونو په اختیار کې وي. د ښوونځیو مدیران او کله کله ښوونکي په خپلواکه توګه د ښوونځیو د چلولو واک او صلاحیت لري. کله چې ښوونکي دغه واک ولري، نو دوی ښه رهبري شوري ټاکي. د مثال په ډول په لاس انجلس کې دغه مثالونه پیدا کیږي .

په پرمختلونکو هېوادونو کې معمولاً غوښتنه دا وی چې محلي ولس د ښوونځیو په چلولو او تنظیمولو کې باید ونډه واخلي. دغه ونډه اخستنه یا مستقیمه مالي برخه اخستنه او یا غیر مالي برخه، مثلاً د ښوونځی په تعمیر جوړولو کې، کارونه کول وي او د ښوونځي په شورا کې د غړیتوب له لارې د ښوونکو په تقرر کې د اغېزو په شکل وي. په ډېرو حالاتو کې دغه ډول غیر مرکزي جوړښت د محلي اوسیدونکو نمایندګي نه وي، بلکه معمولاً پخواني مقدر افراد او یا د ټولنې ممتاز قشر په دغه ډول واک کې لویه برخه لري .

د ارزښتونو ښوونه او روزنه

د ارزښتونو تعلیم ( دینی تعلیمات، اخلاقي تعلیمات ، د شخصیت جوړوني نور معنوي تعلیمات ) په ډېرو هېوادونو کې د تجدد او بیا را ژوندي کیدلو په حال کې دي او د نړۍ پر مخ د ښوونیزو نظامونو په اصلاحاتو کې شامل وي. په دواړو، لویدیځو او ختیځو ملتونو کې د ارزښتونو د ښوونې او روزنې لپاره د دلچسپې او علاقي د لایل مشابه او حتی یو ډول ښکاري خو په در سې نصاب کې د تمرکز اړخونه یې توپیر سره لري.
د تجدد (revival) اصطلاح ددې خبرې شاخیص او ثبوت دی، چې د رسمي ښوونې او روزنې له پیل څخه داسې هیله کیده چې ماشومان په ښوونځیو کې په لیک، لوست او حساب برسیره دا هم زده کوي چې په ټولنه کې کوم شی �ښه�اوکوم�بد�دی،یاصحیحاوغلطکړهوړهکومدي.
دټولنیزومنلشویواخلاقیمعیارونوسرهسمدماشومانواوځوانانوټولنیزکیدنه ( انسان کیدنه ) یا په غیر مستقیم ډول د ښو طریقو او صحیح کړو وړو د تدریس په شکل او یا د ځانګړي مضمون په بڼه د ښوونې او روزنې محوري ټکي وو. ځانګړي مضمون د دینیات، اخلاق، مدني ښوونو او یا د آدابو په نوم په ښوونځیو کې موجو د وو.
په اروپا کې عیسوی کلیسا په ښوونه او روزنه کې ژوري او پیاوړي اغیزي درلودي. د امریکا په متحده ایالاتو کې اخلاقي تعلیم د مدني ښوونې او روزنې په نوم په ښوونځیو کې تدریس کیده .
په چین کې د کنفیوسیوس دینی ارزښتونو یعني خودی نظم، صبر او ساده او بی تجمله ژوند په ښوونه او روزنه کې لویه اغیزه درلوده، چې د۱۹٤۹م کال تر انقلاب وروسته هم دغه اغیزي په نسبي ډول موجودي وي، که څه هم تر هغه وروسته په چین کې د ښوونې او روزنې موخه د �سروماهیرینو�تربیهاوروزلوو .
پهپخوانیشورویاتحادکېپهښوونځیوکېدارزښتونودزدهکړیموخیدیو�سوسیالستانسان�جوړولوو . په عربي او اسلامي نړۍ کې اسلامي اخلاقی زده کړي په اسلامي ښوونځیو او مدرسو کې له پیړیو راهیسی د زده کړي لویه برخه جوړوله. د غربي تعلیمي نظام تر معرفي کیدلو وروسته، اسلامي اخلاقي زده کړو ته په دغه ډول ښوونځیو ځای ورکړل شوی وو. د تایلند په هېواد کې چې د شلمې پیړۍ له پیل څخه رسمي تعلیم پکي معرفي شو، ملي ارزښتونه او د ټولنیز پیوستون ( ملي یووالي ) ارزښتونه د ښوونې او روزنې اساسي جز وو او غربي ډوله تعلیمي نظام له پخوا څخه د موجود بودایي ښوونیز نظام په اساساتوبنا وو .
د ارزښتونو او اخلاقي ښوونو محتوی، موخې ( اهداف) او طریقې په ټولنو کې د مسلطو او حاکمو ټولنیزو

ګروپونو لخوا اغیزمن شوی او په نصاب باندې یې اغیزې درلودلي دي. په عمومي ډول په لویدیځه نړۍ کې په مدني ښوونه باندې تاکید کیده چې هغه ارزښتونه چې د فرد او دولت اړیکي پکې شاملي وي، تدریس کیدلی، پداسې حال کې چې په اسیایي او د دریمې نړۍ په نورو هېوادونو کې اخلاقي ښوونې او د افرادو ترمنځ روابط د ارزښتونو د ښوونو په حیث د تاکید ټکي وو .

د ارزښتونو د ښوونې د تجدد دلایل

پدې اخرو درى �څلورولسیزوکې،پهښوونځیوکېدارزښتونودښوونېلپارهټاکلشویوختکمشویاوغالباً دغه وخت نورو فعالیتونو ته لکه د پلرونو سره تماس، حرفوی زده کړي او نورو ته ورکړ شویدي. په جاپان کې اخلاقي ښوونې نور د یو ځانګړي مضمون په بڼه نه تدریسیږي. امریکایانو دیني ښوونې تر بل هر وخت زیاتي محدودي کړي او شورویانو او چینایانو هم خپل �سور�نصابپریښود (پورتنی مرجع). له دې سره په ډېرو ټولنو کې اخلاقي تنازل رامنځته او د ټولنیزو کړو وړو ( سلوک ) معیارونه ټیټ شول، مثلاً د جرایمو زیاتوالی، د مخدره موادو او شرابو زیات استعمال، د تنکیو جینکو حملداره کول او نور. په ډېرو ټولنو کې په حاکم او ممتاز قشر کې او هم حکومت داری کې د خیانت، بډی، خپلوی پالنې او له اقتدار څخه ناوړه ګټه اخستنه هم زیات شویدي.
داسې ادعا کیږي چې په عمومي توګه پدې اخیرو کې د ټولنیزو ادارو لکه دولت، استخداموونکو، ټولنیزو سازمانونو، کورنیو او نورو د افرادو او اتباعو د پالنې وړتیاوی کمزوري شوي او په نتیجه کې د افرادو لخوا د دغو ادارو سره د غمرازي او د دوی په مقابل کې د مسرولیت احساس کم شوی دی. په بل عبارت ټولنیز تاسیسات د افرادو د پالنې وړتیا نلري او بالمقابل افراد د دغه ډول مرسساتو په اړه مسرولیت نه حس کوي او دغه تمایل د اخلاقي ښوونو د کموالي نتیجه بلل کیږي. د ټولنیزو خدماتو سیاسي حلقي کمي شوي، وظایف او ماموریتونه بی ثباته شوی، ولسونه غیر همجنس او ګډ شوی او کورنی وړی او تجزیه شوي دي. د دغه انکشاف پایلی دادی چې د د طلاق کچه، د ښوونځیو په زده کوونکو کې روانی ستونزي، په ځوان قشر کې د جرایمو کچه، په دولتي حلقو کې خیانت او رشوت، په ماشومانو جنسي تیري او نور زیات شویدي. د دغو ستونزو د حل لپاره د اخلاقي ښوونو بیا را ژوندي کیدل یوه لاره بلل کیږي.
توماس لیکونا و تعلیم پوه د اخلاقي ښوونې، چې دی یې د شخصیت ښوونه بولي، د تقویي لپاره دری دلایل وړاندي کوي :

1. د بشپړ انسان کیدني لپاره د یو سالم شخصیت د جوړوني اړتیا.
2. ښوونځی به هغه وخت ډېر ښه وي که د انساني ټولنې پالنه وکړي.
3. د یوې اخلاقي ټولنې د جوړیدو لپاره.

ټوماس لیکونا (یو امریکایي تعلیم پوه) په ټولنو کې د لسو منفی تمایلاتو رامنځته والی د اخلاقي ښوونو د

نشتوالي له وجې بولي، لکه د تیر یو زیاتوالي، درواغ، د مشرانو بی احترامی، ځان ځانی، د مخدراتو زیاتوالی، جنسی بد اخلاقي، تبعیضی جرایم، د کاری اخلاقو بده ( غیر اخلاقی ) ژبه او اخلاقي بیسوادي.
د ارزښتونو زده کړه د مختلفو مسایلو په هکله وي، لکه د اخلاقي ښوونو او د شخصیت په اړه، د ټولنیزو او فردي کړو وړو ( سلوک ) او ټولنیزو اړیکو، نړیواله او ملي خبرتیا ( اګاهی )، عدالت او مساوات او دینی ارزښتونو په هکله. په ښوونځیو کې د ارزښتونو زده کړه په مختلیفو ډولو لکه سنتي او محاصر، ګروهی او ملی، فردي او وګړنیز او دینی او مدني تصنیف شوی وي.
د دریمی نړۍ په ډیرو هېوادونو کې په ګروهی ارزښتونو تاکید کیږي، پداسی حال کې چې په لویدیځه نړۍ کې فردي ارزښتونه تقویه او ترجیح ورکول کیږي. د فردیت اصل (اصالت فردي) د لویدیځی نړۍ د تکنالوژیکی، هنری او تولیدی پرمختګ عامل بلل کیږي او د شمالي امریکا او اروپا د بریالیتوب د توجیه دلیل یي بولي. له بلې خوا ویل کیږي چې د فردیت اصل د تعاون او ګډی همکاری او د تجاربو د تشریک د عملیي د مخنیوي پوسیله پرمختګ ته تاوان رسوي.

د ښوونې او روزنې په ریفورمونو کې د ارزښتونو د ښوونې ځینې مثالونه:

د جاپان د ښوونې او روزنې مرکزي شوري د (( ښوونه د سالم ذهن لپاره )) تر شعار لاندې د یو نوی تعلیمي پروګرام له مخې د جاپان د سنتي ارزښتونو لکه ..... د تقویی لپاره عملي کړ، خو په ښوونځیو کې د دین زده کړه د جاپان د اساسي قانون له مخې لاتراوسه اجازه نلري .
په مکسیکو کې تر ۱۹۹۹م کال پورې د ارزښتونو زده کړه په نصاب کې شامله نه وه خو تر هغه وروسته د ښوونې او روزنې وزارت د اخلاقـــو د تــعلیم په نـــوم یو پروګـــرام معرفي کړ .
په تایلند کې هم د نورو ملتونو په شان ما تریالیزم او د استهلاکي فرهنګ پدیدي له سنتي عنعناتو او ارزښتونو سره مغایري بلل کیدي او د ۱۹۹۹ م کال په ملي تعلیمي سند کې د دواړو، پوهی ( علم ) او اخلاقیاتو په اهمیت باندې تاکید شوی او ویل شویدي چې �ښوونه اوروزنه او په خاص ډول رسمي ښوونه دټولنیزو مسئلو دحل په منظور د ارزښتونو دتعمیم له لاري یو اساسي بعددی� ( ٤٤مخ ) . په ښونیزو اهدافو کې په اخلاقـــي، مدني او ټولنیزو ښیګڼو باندې تاکید شوی وو.
د ترکمنستان په هېواد کې له پخواني شوروی اتحاد څخه د ور په میراث پاتې تعلیمي نظام د بدلون لپاره ډېري هلې ځلې وشوي. د ملي هویت د تقویي لپاره په ښوونځیو کې نوی مضمونونه معرفي شوي چې هدف یې د ترکمنی فرهنګ، عرف او تاریخ تقویه ده. اسلامي تعلیمات اجباري بلل شوي او په ټولو ښوونځیو کې قرآن کریم او اسلامي ارزښتونه تدریس کیږي.
قرغزیا د منځنی اسیا یو بل هېواد دی چې د ښوونځیو په مهالویش کې یې �دمورنی هیواد دښونې�په نوم مضمون ورزیات کړیدی .

ښوونه او روزنه د ماشوم د حق په حیث

له لسیزو راهیسې د ښوونې او روزنې د توجیه دلیل د مارکیټ اصل وو، یعنی ښوونه او روزنه د پانګې اچونې په حیث بلل کیده، چې فردي او ټولنیزه ګټه یې متوقعه نتیجه ده. په دې آخرو کې ددغه اصل په هکله سوالونه پیدا شوي او ویل کیږي چې ددي اصل له مخي د ښوونې او روزنې ټولنیز "انسانی" اړخ ته د مادي اړخونو په نسبت کمه توجه کیږي. د دې مناقشې په نتیجه کې" فردي او معاصر وګړنیز" اصل رامنځته شو. د دې نظریې له مخې ښوونځی باید په محلی سطحه د پلرونو، ښونکو یا دواړو او یا محلی موسساتو لخوا وچلول شي . په دغه مناقشه کې د بشر حقوق او د ماشومانو د حقوقو کنواسیون لوی رول لري.
د مارکیټ اصل چې په معلوماتی اړخ (ذهنی ودی)، سیالی، ګټې، اغیزمنتوب او ګټورتیا باندې تاکید کوي، ډېر ژر د "وګړنیز" اصل ځینی مفکوری خپلی کړی او په خپلو کړنلارو کې یې په نظر کې نیولی دی. د دې نتیجه په ښوونیزو اصلاحاتو کې نړیوال "یو شان اصطلاحات (نومونه)" شوه، چې ځینې اساسی مشهور مفاهمیم او اصطلاحات د نړی په ګوټ ګوټ کې په ښوونیزو اصلاحاتو کې هر چیرې موندل کیږي، لکه غیر مرکزي کیدنه، خصوصي ( شخصي ) سکتور، فردي آزادي، ښوونه او روزنه د فرد حق په حیث او نور.
د بشری حق په حیث دښوونې او روزنې دیدګاه پخوانی توجیه ګانی چې ښوونه او روزنه د انکشاف او اړتیا په معنی وه ،بدلي کړی او ښوونه او روزنه د هر چا د یو انساني حق په بڼه توجیه کیږي. د دغه بدلون سره ښوونه او روزنه دیوه قانوني بنیاد په حیث بلل کیږي او ډېر تمرکز په دې نه وی چې ښوونه او روزنه یوازې د فردی، ټولنیز او اقتصادی پرمختګ وسیله وګڼله شي. په دې هکله د ملګرو ملتونو د 1990م کال د جامتین او د 2000 م کال د داکار اعلامیی د د ستورالعملونو په حیث ډېر اهمیت لري.
د حقوقو د اساسي نړیوالو لاسوندو ( اسنادو ) له مخې ابتدائیه تعلیمات باید جبری او د ټولو لپاره وړیا (مفت) وي، ثانوی تعلیماتو ته باید د ټولو لاس رسیدنه ممکنه وي او عالی تعلیمات هم باید د ټولو د لاس رسیدنی په امکان کې وي، خو د وړتیاوو سره سم .
د ښوونې او روزنې د اسانتیاوو برابرول دولتی مسئولیت دی، خو شخصی او غیر دولتی اداری هم د دولتی معیارونو او د ماشوم او بشر د حقوقو سره سم کولای شی په ښوونه او روزنه کې برخه واخلی. د ماشوم د حقوقو کنواسیون والدینو ته دا حق ورکوي چې د خپلو اولادونو لپاره د دوي د خوښی ښوونه او روزنه او ښوونځی ولري. له دې څخه دا معلومه شوه چې د ماشومانو د حقوقو کنواسیون د اخرنیو ښوونیزو ریفورمونو ځینې اساسی عناصر حمایه کوي. له بلې خوا د"نړی والی په سبب اقتصادی او ټولنز توپیرونه زیات شوي" او "په ښوونه او روزنه کې د کـیـفیت له اړخــه ډېــر توپــیرونــه منـځتـــه راغلي دي" ( xvii مخ ).
په واقعیت کې د نړی والی د قواوو له برکته د ښوونې او روزنې د حق په عملی کولو کې کمښت راغلی، نه دا چې اسانتیاوې زیاتې شوی دی- په خاص ډول د غریبو هیوادونو لپاره له یوې خوا د ماشومانو د حقوقو د

کنواسیون د عدالت او مساوات د نظریې او له بلې خوا د لګښتونو د کمولو لپاره دښوونیزو ریفورمونو تر منځ تناقض لیدل کیږي، که څه هم دواړه مفکورې د تمویلونکو نړیوالې ټولنو لخوا تحملیږي.

©

http://benawa.com/pashto/library/16_da_afghanistan_ratlonkay_showoniz_nizam/10.php#ixzz3ISxXTZpF

**دوهمه برخه**

په افغانستان کې دښوونې اوروزنې تاریخي پس منظر

په افغانستان کې د نورو اسلامی ټولنو په څیر ښوونه او روزنه لوي او اوږد تاریخ لري. د اسلام د مبین دین له راتګ سره ښونه او روزنه تر زرو کلونو اوږد تاریخ لري. د ښوونې او روزنې ننی شکلونه په دریو ډولو ویښل کیدای شي: سنتی تعلیمات، اسلامی تعلیمات او عصری یا په بل عبارت غربی ډوله تعلیمات.

۱. سنتي تعلیمات

په افغانستان کې کرنیزو یا مالداری ټولنو د خپل پایښت لپاره د اړوندو مهارتونو د لیږدولو لپاره د ښوونو مختلفی سنتی لارې له ډېرې پخوا زمانی څخه رواج کړې وي. له یوه نسل څخه بل نسل ته د مهارتونو، ارزښتونو، کلتور، رواج او عقایدو لیږدول معمولاً په شفاهی توګه د منظومو او یا منـــثـــورو کیـــسو په ډول تـــرســـره کیـــده او هم ترسره کیـــږي. افغانی ټولنه د لیك لوست له ټیټې سطحې سره سره د کیسو او شعرونو ویلو ډېر اوږد او ژوندی تاریخ لري؛ دډېر پخوانی کلاسیك ادب ډېری کیسی او شعرونه تر دې دمه خوله په خوله رارسیدلی او د ډېرو خلکو په یاد وي. کیسی معمولاً اخلاقـــی پیغامونه انتقالوی او له ماشومانو (او نورو اوریدونکو) څخه یې توقع دا وی چې دوی هغه څه زده کړي چې غوښتل کیـــږی او د فرد مسئولیت او کړه وړه د نورو په مقابل کې پکې وي. پټې اوښکاره موخې یې انساني ښیګڼې لکه ریښتنولي، زړه سواندوالی، احترام او همدردي او نوروي. ماشومانو ته د کورنی یووالی، اطاعت، مرستې، له نورو سره د خپلی پوهی د شریکولو، د هر ډول تیری په مقابل کې جګړه کولو او دریدلو او د انصاف او عدالت لپاره د مبارزی کولو زده کړې ورکولو کیږي.

په سنتی ښوونه او روزنه کې اسلامی تعلیمات هم شامل وي او په ورځني ژوند پورې اړوند اسلامی معلومات پکې وي: داسې ښیګڼې لکه سخاوت، میرانه، زړه سوی او میلمه پالنه د یو ښه مسلمان د صفتو په بڼه بلل کیـــږي او د زده کړو لویه برخه جوړوي. د اســـــــلام د تاریخ او د حضـــرت محمد "ص" د ژوند حالـــت هـــم په سنتی ښوونه کې شامل وي.

2. اسلامي ښوونه او روزنه

نـــنـــنۍ اسلامي ښوونه او روزنه په جوماتونو او مدرسو کی پـــه تدریس باندې مشتمله ده . جومات دکلي ټولو وړو ماشومانو ( نجونو او هلکانو ) ته اســلامي لــومړنۍ ښــوونه او روزنه برابروي . ټول هغه ماشومان چې عـمر یې دځـلورو او شـپږو کلـونـو تر منځ وي، هره ورځ جومات ته ځي او یو یا دوه ساعته له ملا څخه اسلامي لومړني درسونه وایي ( معمولاً بې له معنا څخه ). داسلام پنـځـه بنـــاوي ، دلمانځـــه رکنــونه او شـرطـونه او اسلامي ارزښتونه ځینې زده کوي . د مسلمانانـــو په حیث پـــر ماشومانو شـفـقـت او پر هغوی باندې لطف او لورینه دهر مسلمان دنده بلل کیږي. که ښوونځی نه وي ، یوازې هلکان تر نه یالس کلنۍ وروسته کولای شي په جومات کې درس ووایي.
مدرسې زمــوږ پـــه هېـواد کې یو اوږد تاریخ لري . نارینه زده کوونکي ( طالبان ) پـــر اسلامي مضمونونو سربیره عربي ژبه ، منطق ، بدیع ، بیان ، ادب او شعر هم زده کوي . ټول مربوط کلی دمدرسې د چلولو مسئوولیت لري . یو زده کوونکی دمدرســــــــې دبـیـــلابـیــــلو مضمونونو دټاکلي شمیر کتابونو تر زده کړې وروسته ملا بلل کیږي . محدود شمیر ثانوي مدرسې د دولت له لوري هم اکمالیږي . دغه مدرسې شپږ ټولګي لري چې له هغه څخه تر فراغت وروسته زده کوونکي کولای شي چې دکابل پوهنتون دشرعیاتو یا حقوقو په پوهنځي کې شامل شي.
ددولتي اسلامي ښوونې او روزنې او مدرســـو هدف ټولنې ته دقاضیـــانو ، دولتـــي کـــدرونـــو او داسلامــي مضمونـونـــو دښوونکیـــو وړاندې کول دي . نجــــونې له رســمي اسلامي ښوونې اوروزنې څخه تـــــــــل مستثـــنـــا یا جلا وې . د نجونو لپاره په جومات کې دلومړنۍ ښوونې او روزنې تر حاصلولو وروسته، داسلامي ښوونې او روزنې دحاصلولو یوازینی ځای لومړنـــــی ښوونځی وي- خوچې نجونو ته دغه زمینه برابره وي اویا یې میندې او پلرونه ورته ، هغه څه چې معمول دي ، په کورو کې تدریس کړي .

3. عصري ښوونه او روزنه

عصري ښوونه او روزنه په افغانستان کې یوه نوې پدیده ده. دهلکانو لـــپاره لومړنی ښوونځي لومړی ځل په ۱۹۰۳م کال او د نجونولپاره په ۱۹۲۱م کې په کابـــل کې جوړشو . لومړني او ثانوي ښوونځي هیڅکله خصوصي شوي ندي، خو اسلامي ښوونه او روزنه مدام خـــصـــوصـــي او وړیا وه . عصري ښوونه او روزنه سره له دې چې دانکشاف له پاره یې بهـرنۍ مرستـې لرلې ، دشلمې پیړي تـــر نیـمایـــي پـــوری ډیره ورو روانه وه. په ۱۹۷۰م کلونو کې د مکتب د عمر دماشومانو نژدې دریمه برخـــه پـــه لـــــومړنیـــو ښوونځیو کې شامله وه، چې ۷% یې نجونې وې . خو په کابل کې بیا ۳۵ % زده کوونکي نجونې وې ، په داسې حال کې چې په کلیو کې نجونو ته دزده کړې کومه زمینه نه وه برابره.
له لـــومـــړنـــي ښوونځي څخه نیولې تر لوړو زده کړو پورې په وړیا توګه دعصري ښوونې او روزنې یوازینې

مسئوول دولت و . ښوونې او روزنې په افغانستان کې مدام یو مرکزي نظام درلود، دښوونې او روزنې ولایتي اداري یـــوازې دپوهنې دوزارت استازې وې �نیغپهنیغهیبخپلکومقدرتاوواکنه درلود.
دښــوونــې او روزنې لــه نــظــره، د افغانستان په تاریـخ کــې دناآرامیو او پاڅــونــونــو پــه بــهیــر کــې ، په ټــول نــوي تـاریـخ کې ، دري مــوضــوعــګانــې ډیــرې مــهــمې دي:

په ښوونه اوروزنه کې داسلام نقش

دنجونو له پاره ښوونه او روزنه

داسلامي ښوونې او روزنې دولتي کنترول

امان الله خان چې په کال ۱۹۲۰م کې په افغانستان کې دښځو له پاره ښوونه او روزنه پلې کړه ، دنجونو لـــپاره دښوونځیوپه جوړولو او پر دیني مدرسو د کنټرول حاصلولو له کبـله د سختـــو مخالفتونو په نتیجه کې جلا وطنۍ ته اړ شو.
په ۱۹۷۸ م کې چـــې کمونستانو دافـــغـــــــانستـــــــــــــان واګي غصب کړې، دښوونې او روزنې پخوانی نصاب ، چې پر اسلام ( په ټولنه کې داسلام نقش او دهر فرد له پاره داسلام اهمیت ) بناو، دشوروي تر اغیز لاندې نـــوي نصاب بانــدې بــدل شــو. دغه نوی نصاب د اسلامي ارزښتونو او افغاني فرهنګ په ضد وپیژندل شو. ددغه نصاب په ضد غبرګونونو، په تیره بیا په کلیو کې ، شدت وموند. خلکو له ښوونځیو څخه په لومړي قدم کې دنجونو او په دویم قدم کې دهلکانو په ایستلوپیل وکړ.
دشوروي پرضد د جهاد په بهیر کې ( ۱۹۷۹ �۱۹۹۲م ) غیردولتینړیوالي مرسسې په افغانستان کې دښوونې او روزنې دپروسې په وړاندې بیوولو کې راګډې شوې . ورپسې جو خت په دغه وخت کې ، په افغانستان کې دښوونې او روزنې دوه موازي نظا مونه رامنځته شول، چې یو یې په ښاري سیمو پورې تړلی حکومتي نظام واو بل یې په کلیوالي سیمو پورې تړلی غیر دولتي نظام وو.
دمجاهدینو تر کنټرول لاندې سیمو کې دبرابرۍ شوې ښوونې او روزنې یوه نتیجه د نـــجــونو دښـــوونځیــو پیژندګلوي وه. په دغــو ښوونځیو کــــې د نجونو شمیره ورځ په ورځ زیاتیده . یوازنې کو ټلی دلیل یې هغه درسي کتابونه وو چې افغانانو داسلامي او افغاني ارزښتونو په رڼا کې لیکلي وو او ورسره ورسره یې نوې پیدا ګوژي لرله .
تر ۱۹۹٦م وروسته دافغانستان ډیره زیاته برخه دطالبانو تر واک لاندې وه او یوه حکومتي اداره یې پکې جوړه کړې وه. دغې اداري کوښښ وکړ چې یوی نوی تعلیمي نصاب ، چې ډیر اسلامي مضمونونه یې لرل ، پلی کړي . په نویو مدرسو کې له تدریس څخه دطالبانو هدف داو چې زده کوونکي یوه سمه او کره اسلامي نظریه ( = طالبان ) زده کړي او په عین حال کې په نویو مضمونونو کې تربیه شي ، چې دعصري ښوونې او روزنې دزده کوونکو مقابله وکولای شي .له همدې امله یې دانګلیسي ژبې مضمون له نورو مضمونونو سره ( داړونده

ښوونکي دشته والي په شرط ) ور معرفي کړي وه. په ښوونځيو کې دنجونو ګډون يې ناروا بللی و. خو دغې ناروا زياتره په ښارونو پورې تړاو درلود، په کليوالي لومړنيو ښوونځيو کې دنجونو شميره مخ په زياتيدو وه.
د ۲۰۰۱ م کال په پای کې دطالبانو دنظام تر ړنګيدو وروسته ، په تيره بيا د ۲۰۰۲ م کـــال په جون کې دمنځمهالي اداري له رامنځته کيدو سره جوخت نجونو بيرته ښوونځيو ته، په تيره بيا په ښارونو کې ، مخه کړه. همدغه راز، په کليوالي سيمو کې هم په ښوونځيو کې دنجونو شميره زياته شوه. يو نوی تعليمی نصاب چې اسلامی مضمونونه په کې تر پخوا پوره کم شوي دي، په لومړنيو ښرووځيو کې معرفي شو.
ميندی او پلرونه اوس هم باور لري چې دښوونځيو بريليکونه اودپوهنتون ډيپلومې يې له اولادونو سره دښه ژوند ، ټولنيز دريځ او تجربې په ترلاسه کولو کې مرسته کوي . والدين او ټولنه غواړي چې ماشومان يې زده کړه وکړي او د ټولنې ، ملت او نړۍ يوښه تبعه يا غړی ځينې جوړ شي . اسلامي ښوونه او روزنه په دې لړ کې ډيره مهمه ګڼله کيـــږي . مـينـدې او پـلرونه غواړي چې اولادونه يې اساسي اسلامي ارزښتونو او سنتي علومو ته درناوی زده کړي . ښوونځي بايد دميندو او پلرونو غو ښتنو ته ځواب ووايي . که نه، نو ښوونه او روزنه به مخ په شا ولاړه شي . په تيره بيا په کليوالي سيمو کې . دايو مهم درس دی چې تاريخ موږ ته راکړی دی !

©
http://benawa.com/pashto/library/16_da_afghanistan_ratlonkay_showoniz_nizam/11.php#ixzz3ISxbV26c

**په مختلفو دورو کې د ښوونې او روزنې هدفونه**

کله چې د شلمې پيړی په پيل کې د غربی ډوله (عصري) ښوونو اساس کيښودل شو، هدف يې د ټولنې عصری کيدنه وه. د دغه ډول ښوونې او روزنې هدف دا وو چې يو ممتاز قشر وروزی، تر څو د هيواد او ټولنې د عصری کيدنی دنده په مخ بوځي. د جنګيانو لپاره د تعليمی اسانتياوو برابرول هم د هيواد د عصری کيدنی يوه برخه بلل کيده.
د تيری پيړی په اوياومه لسيزه کې د لومړنيو او ثانوی تعليماتو پراختيا د "بشری پانګی" (Human Capital) د نظريې له مخې توجيه کيدله. ښوونه او روزنه د ټولنيزی او اقتصادی ودې د پراختيـا لپاره د پانـګې اچـــونې (سـرمــايه ګذاری) په حيث بلل کيده. توقــع کيده چې ښــوونيز لګښـــتونه به د فـردی او ټولنيزو ګټو په نسبت ډېر کم او ګټه به يې زياته وي. ټولو ته د ښوونې او روزنې زمينه برابرول او د ټولو مساويانه برخه اخستنه يوه اساسی مفکوره وه. د اصولو له مخې ټولو افغانی ماشومانو ته د ښوونې او روزنې يو ډول حق ورکړل شوی وو، خو په عمل کې داسې نه وه او مختلف النوع تفاوتونه موجود وو .
په يو ځـــوو لويو ښـارونـو کې په ښوونه او روزنه کې د جنګيانو ونـــډه د هلـــکانو په شان ياور نژدې وه، خو

د هیواد په پراخــه کلـــیوالی سیــمو کې د جنکیانو لپاره ښوونځی موجود نه وو. ښوونه او روزنه مفته (وړیا) وه. او دولت لخوا تمویلیده.
په 1978 م کال کې چې کله شوروی پلوه کمونستانو ته واك په لاس ورغی، د ښوونیز نظـام عصـــری کیـــدنه یې د ښوونیزو ریفورمونو د اجندا یوه مهمــه مسئـله وه. پخوانی تعلیمی نصاب چې په اســـلامی ټولنیزو ارزښتونو بناوو، د وخت په شوروی ډوله تعلیمی نصـــاب بدل کړ. د سواد آمـــوزي پـراخ پـروګرام چه هدف يي ايديـالوژيـــکی تـنويراو د مارکسيـــستی پرمختـګ د پروګرام د یو مهم جز په حیث بلـل کیـده، پیل او عملی کیده. د ښـوونې او روزنې هدف د یوه "نـوی انســـان" (متـرقــی انســـان) تربیه کول وو، چې د طبقاتی مبارزې د پرمخ بیولو وړتیا ولري.
د مجاهـــديـــنو په لاس په آزادو شویو سیمو کې د ښوونځیو د بیا پرانستلو هدف د ښوونې او روزنې د ژوندی پاتی کیدلو لپاره بیړنی هڅې وي. خو د مجـاهديـــنو غړي او مشران تعلیم یافته او د ښوونځیو او پوهنتونونو فارغین وو او د ښوونځیو له تاسیسولو سره يې علاقه درلوده او په خپلو سیمو کې یې د ښـــوونځیو د پرانستــلو هڅې کولې. د دوي له نــظـره له یوې خوا ښوونه او روزنه د هــر مسلمان لپاره یوه فریضه او له بلې خوا د هیواد د بیا رغونې او پرمختګ لپاره د هڅو او مبارزې یوه صحنه بلل کیده. د جهــادي تنـظيمونو په تعلیمی پالیسیو کې، که څه هم یو شان نه وي، خو بیا هم د ښوونې او روزنې په اهمیت ټینګار کیده او د تعلیمي پالیسي بنیاد "د اسلامی امت" مفکوره وه، چې ځینې یې د نړیوالی (Globalization) په مقابل کې د اسلامي امت د مقاومت او مخالفت مفکوره او نور یې د نړیوالی یو بل شکل بولی.

به ۹۰ ومه لسیزه کي هم د ښووني او روزني موخي د ټولنيز پرمختګ نظريي ته متوجه وي . کله چې په 1996 م کال کې طــالبـــــان صحنـــی ته راغلل او د وخت موجوده انـــارشـــی یې په نسبـــــــی ډول ارامه کړه، په ښوونه او روزنه کې یې توجه یوازې په اســلام او د جنکـــیانو د تعلیـــم په مسئـــله متمرکزه وه. ویل کیږي چه ددوي دغــه تعلیمی پالیسی له اســلامــی جـــهـانــبـيــنی څخه نه، بلکه د دوی له خپلو تعلیمی سوابقو او له اســلام څخه د دوي د خپــل تعبــیــر څخه مــنــشــاء اخستله. دوی په خپله د کلیوالی سیمو په مدارسو کې له ښځو څخه په بشپړه انزاوکی لوی شوی او روزل شوی و. د دغو حقایقو په نظر کې نیولو سره د دوي تعــلیـمی پالیــسی د ډېر تــعــجــب وړ هم نه بریښي. دا طبعی ښکاري چې د دوي تعلیمی اهداف، د دوي له تعبیر سره د "سم اسلام" په مطابق د نوی نسل روزل وو.
د 2002 م کال د جون په میاشت کې جوړ شوی انتقالی دولت ته په هیواد کې د ښوونې او روزنې د نظام د بیا جوړونې او پرمختګ لویه او درنه دنده ور په غاړه وه. د ماموریت د درنښت تر څــنګ، د بیا جوړونې او پرمختګ لپاره د واضــح جهــت او پـالیـــسی نـشــتـوالــی، یوه بله لویه ستونځه ده. داسې ښکاري چې د ښوونې او روزنې وزارت پدغه موده کې د دو لویو فشارونو تر منځ واقع وي: له یوې خوا د افغانی ولس غوښتنه

ده چې د خپلو اولادونو لپاره د پخوا په شان وړیا ښوونه او روزنه غواړي او له بلې خوا د بین المللی مرستندویه اجنسی ګانو تخنیکی مرستی او مشورې دي، چې په ډېرو مواردو له یو بل سره همغاړي نه وی.

په افغانستان کې ښوونیز اصلاحات

تر اوسه پوری (1383 هـ ش کال پیل) د ښوونې او روزنې په ډګر کې اصلاحات په لویه پیمانه نه وو او ښه به وي چې د بدلونونو په نوم ونومول شي. د هیواد د 1964 م کال د قانون له مخې لومړنی ښوونه او روزنه (6 کاله) د ټولو لپاره په وړیا توګه تضمین او جبري بلل شوی وه. خو بیا هم د ملی مـنابـعو محـدودیت د ټولـو لپاره د تعلیم د وړاندې کولو اجازه نه ورکوله. په اویاوومه لسیزه کې په ټولنیز سکتور کې یو شمیر ریفورمونه راغلل او په عین حال کې پادشاهی ریژیم په جمهوری نظام واړول شو. جمهوری نظام په خپل اوه کلن پلان کې لوړی هیلی او ارادي څـرګـندی کړي وي. دولت وکولای شو چې د لویدیځی نړی او هم د پخوانی شـــوروی بـلاکـونو لخوا د مـرستـی د تــر لاســه کــول انــډول وساتی، خو ورو ورو شورویانو میدان ګټل پیل کړل چې نتائج یې ټولو ته څـرګند دي .
په اویاومه لسیزه کې ښوونه او روزنه د ټولنیز او اقتصادی پرمختګ لپاره د پانګی اچــونی (سرمایه ګذاری) په حیث بلل کیده او دغه مفکوره په 1976 م کال په وړاندیز شـویو ښــوونیزو ریفورمونو / بدلونو کې ښکاره وه. د دغو اصلاحاتو لومړنی هدف په ښوونځیو کې د زده کوونکو د شمولیت زیاتوالی وو. لومړنی تعلیمات اته کال او د هر ماشوم حق بلل شوی وو. دوهم هدف یې د لومړنیو تعلیماتو هغو فارغینو ته، چې د ثـانــوی تعلیماتو د دوام امکانات ونلري، د حرفــوی او مســلکی زده کړو برابرول وو. که څــه هم اکثریت افغانان په کــرنه کې مشغول وو، خو د هیواد د صنعتی کیدنی په هیله د نورو حرفو د ترننګ او زده کړو اړتیا محسوسه شوی وه. د 1976 م کال د ریفورم دریم هدف د لیسو فارغینو ته په لوړو زده کړو کي د زیاتو امکاناتو بــرابــرول وو.
داسې پلان شوی وو چې ټول پوهنتونونه به په خپلو مربوطو پوهنځیو کې د شمولیت اندازه څــو چنده کوي. د لیسی دوره څـلور کاله شوه چې دوه کاله یې عمومي دوره او دوه کاله یې اخـــتــصــاصــی دوره وه چې د ټـولـنـیـزو او طبــعـی (سسایـنـسـی) عــــلومو په څـــانــګو ویــشــل شــوی وه (پورتنی ماخذ).
د دغو پلانونو اوبدلونونو عملی کول سمدستی پیل شول، خو د 1357 د شوروی پلوه کمونستانو تر کوتا وروسته په ځای دریدلی او یوازې د کاغذ په مخ پاته شول. د مثـــال په ډول د لیسو د اختصاصــي دوه کلنو دورو لپاره خاص درسی کتابونه جوړ نه شول او د حرفوی او مسلکی زده کړو لپاره ډېر محدود ښوونځی موجود وو . که څـه هم د معلوماتو له مخې د مسلکی زده کړو د شمولیت اندازه دوه چنده او د پوهنتون د محصلینو د شمول شمیر سل فیصده زیاته شوی وه ، خو بیا هم په هیواد کې د جنګونو او بی امنیتی له وجې دغه احصایی صحت او موثقیت د اعتبار وړ نه ښکاري.
په اویاومه لسیزه کې د ښوونې او روزنې ولایتی ریاستونو د مرکزی اداری او پوهنی د وزارت د نماینده په توګه

کار کاوو او د اداری چارو او د عملی اجراتو مسئولیت یې درلود، خو مالی او تنظیمولو د چارو واك نه ورکیده، بلکه ټول اختیار د مرکز په لاس کې وو. یوازې ښوونیزی چارې نه بلکه ټول سیاسی نظام یو مرکزی سیستم وو. ټول واك د مرکزی حکومت سره وو او د واك د دغه ډول مرکزی انحصار د ملی ګټو، یووالی او عدالت په وسیله توجیه کیده. په دې خبره چې واك باید د قوی مرکزی اداری په لاس کې وي، یو ډول عمومی توافق موجود وو او د دې وجــه د افـغـانی ټـولـنـی غـیـر مـتجـانــس قومی جوړښت او د پرمختګ ډېره ټیټه درجه وه. د ښوونې او روزنې دولتی تمویل د دې لپاره ضروری بلل کیده چې ټولو ته مساویانه حق ورکړل شي.
د مرکزی بیوروکراسی قوانین او مقررات او محکم ضوابط په عمومی توګه منل شوی وو او مراعات یې د قبول وړ وو.
اسلامی تعلیمات بیا تر ډېره حده غیر مرکزی او شخصی وو. د مدرسو د چلولو او تمویل چاری د محلی ټولنو او ولس په غاړه او واك یې هم له محلی ولس سره وو او د دولت لخوا لاس وهنه او مرسته یا خو هــیڅ نه وه او یا ډېره محدوده وه.
په 1979 م کـال نــوی شــوروی پـلــوه اداری سمدستی خپل ښوونیز اصلاحات پیل او په تجربوی توګه یې د ښوونځیو په جوړښت او ساختمان کې بدلونونه معرفی کړل. د لیسی دولس کلنه دوره یې په څـلور کلـنه ابـتدائیـه، څـلور کلنه ثانوی او دوه کلنه د لیسې په دوره بدله کړه. پــه 1985 م کــال کـې یــې بـل بـدلـون مـعرفی کـړ چـې ابتدائیه دوره یې پنځه کاله، ثانوی یې دری کاله او د لیسې دوره یې دری کاله وه. یعـنی پـه لـومړی بدلون کې ټول تعلیمات لس او په دوهم بدلون کې یوولس کاله معرفی شوی وو. بالاخره په 1990 م کال بـیرته پـخـوانـی شـکل یعنی شپږ کـاله ابتدائیه، دری کاله متوسطه او دری کاله لیسی دوری ته بدلون ورکړل شو .
پــه دغــه دوره کــې هــم دولـتی تـعـلیـمی نـظـام مرکزی سیــستم وو، شخصی سکتور ته اجازه نه وه، یوازې یــو ډول او د دولت لخوا مــنل شــوی درســی کتـابــونــو ته اجازه ورکول کیده او په ټــولــو ســطــحــو کــې مـقـرری د مرکزی اداری لـخـوا ترسره کیدی. یوازې نــوښــت دا و چې د لــیسو فـارغیـنو او حتی د لومړنیو ښوونځیو فارغینو ته په نظامی ښوونځیو او پوهنځیو کې د داخلیدلو پراخ امکانات موجود وو.
د 1980 لسیزې په پیل کې د شوروي پلوه دولت په مقابل کې په ملی سطحه پاڅــون پــیل او د هیواد ډېری سیمی د مرکزی اداری له کنترول څخه ووتلی- په خاص ډول کلیــوالی سیمی. په دغــه دوره کې د ښــــوونــی او روزنـــې د تـمـویــل او چــلولــو نـوی عاملین او لاری رامنځ ته شوی: محلی ولسونو په خپلو سیمو کې خپل ښوونځی بیا پرانستل او محلی قوماندانانو هم په ډېرو سیمو کې په فعال ډول د جــنــګیــانو لپــاره هــم پــه کــلیــوالــــو سیــمــو کې ښوونځی پرانستل. دا چې کلیوالی سیمی یې د مرکزی اداری له کنترول څخه ووتلی، نو. ملی او بین المللی غیر دولتی مؤسساتو د ښوونې او روزنې د سنبالښت او چلولو لپاره مرستي کولي. د 1980 م کالو څخه را په دې خوا په هیواد کې ښوونیز نظام په غیر ارادي ډول یو غیر

مـــرکـــزی نــظـــام بـلــلای شـــو، چــې لــه سیاسی او فیزیکی دواړو خواوو، د پخوا په خلاف د مرکز لخوا نه کنترولیده. داخلی او خارجی قواوو د ښوونې او روزنې د تمویل، اداري او محتوی په هکله تصمیمو نه نیول. ټولنو د برخی اخستنو د مختلفو درجو له مخی ښوونځی شخصی شول. د تصمیم نیونی واك د ښوونځیو یا غیر دولتی مؤسساتو په سطحه وه. د دولتی نصاب په نسبت د غیر دولتی ښوونځیو په درسی پروګرام کې اسلامی مضامینو ته زیات وخت ورکړل شوو چې د 1970 لسیزو په نسبت هم زیات وو.

د اسلامی زده کړو لپاره منظمی مدرسی زیاتی شوی چې په بنیادی توګه د ولس او یو شمیر غیر دولتی (په خاص ډول عــربی) مؤســساتو لخوا مرسته ورسره کیدله. د طالبانو د دوري "عصــري " مــدرســي د تعــلیــمي نظـام یو بــل شــکل وو چــه د تعــلیم او تربـیــي د اســلامــي کیدني یل تر ټولو نوي شکل وو او د نړي په ډیرو کمو هیوادونو کي يي نموني موندلاي شو.

په دغه دوره کې دوه موازی ښوونیز نظامونه موجود وو: په ښارونو کې دولتی ښوونځي او په آزادو شویو سیمو کې د مسسجـاهــدیــنو تر کنتــرول لانــدې ښوونــځــی. دواړو نظــامــونه جلا او قوی سیاسی. اجنداوی درلودی. دولتی ښوونځیو د انـتـرناســیونـالـیــزم او پرولـتـیـاریــا دیکـتالـتوری ارزښتونه تقویه کول، په داسې حال کې چې غیر دولتی ښوونځیو د پــان اســلامــیــزم او اســلامــی حــکومــت ارزښتونه تقویه کول. په 1990 لسیـــزه کې اکثرو غیر دولتی مؤسساتو په خپلو ښوونځیو کې له هغه تعلیمی نصاب څخه پیروی کوی چې د مجاهدینو د مؤقت حکومت لخوا تائید شوی وو. درسی کتابونه یوه متناقضه مسئله وه. هغه درسی کتابونه چې د جهاد په دوران کې چاپ شوی وو، د جــهــاد، مجــاهــد او وســلی د تـوصــیف پیــغامــونــه يې لرل او په 1994 م کال دغه کتابونه تجدید او د هغو پیغامونو ځای د ســولی پــیغامــونه ته ورکړل شو. اسلام او اسلامی پیغــامونو بــیا هــم د اکــثرو مـضــمــونــونو په درسی کتابونو کې لوی ځای درلود.

د طالبانو رژیم (2001-1996) په خپل وخت کې هم یو ډول ښوونــیز اصلاحــات مـعـرفـی کړل او "عصری مدرسو" ته يې پراختیا ورکړه. دغــه ډول مدرسی ځکه "عصری مدرسی" بولو چې د ابتدائیه دوری مضمونونه هم پکې ویل کیده او تر نیمائی زیات وخت دینی ښوونو ته ورکړل شوی وو. طالبانو غوښتل چې په دې وسیله نوی نسل د دوي له مفکورې سره سم تربیه کړي او د عصری مضمونونو په ورګـــډولــو ســره دوي لــه "مکتبیانو" سره سیالی وکړای شي. طالبانو هڅــه کوله چې د غیر دولتــی مــؤســساتــو د ښوونځیو په شمول، په ټولو ښوونځیو کې نوی نصاب عملی کړی چې دینی مضمونونو ته په مهالویش کې زیات وخت ورکړل شوی وو. که څـــه هم د غــیر دولتــی مؤسساتو لخوا کتابونه يې رد او په ځای يې د مدرسو دینی کتابونه (چې په عربی ژبه دي) په ښوونځیو کې معرفی کړل، خو دغه هڅـــی په عمومي توګه چندان بریالی نه وي، ځکه چه له یوي خوا درسي مواد او له بلي خوا کافي ښـــوونـــکي مــوجــود نــه وو. لکه چې په لاندې جدول کې ښکاري تر دې دمه د مختلفو دورو په درسی نصاب کې د پام وړ تفاوتونه په مهالویش کې د دینی مضمونونو وخت

وو. له بده مرغه چه دغه ډول بدلونونه هیځکله هم د عامه رایو او د ولس د غوښتنو نتیجه نه بلکی د وخت د حاکمانو لخوا له پاسه تحمیلیدل.

جدول۲ : د مختلفو حکومتونو په وخت کې د ابتدائیه دوري درسی مهالویش

| کلونه | ١٣٥٧�١٣٤٠ کلونه (الف) | | ١٣٧٠- ١٣٥٨ کلونه (ب) | | ١٣٨١- ١٣٦٠ کلونه (ج) | | ١٣٨٠ - ١٣٧٥ کلونه (د) | | له ١٣٨١ څخه وروسته (ه) | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ټولګي | 1-3 | 4-6 | 1-3 | 4-6 | 1-3 | 4-6 | 1-3 | 4-6 | 1-3 | 4-6 |
| مضمون | | | | | | | | | | |
| قرآنکریم | **2** | **2** | **1** | **1** | **6** | **6** | **6** | **5** | **1** | **2** |
| دینیات | **2** | **3** | **0** | **1** | **6** | **4** | **5** | **11** | **2** | **2** |
| حساب | 4 | 5 | 6 | 6 | 6 | 6 | 6 | 4 | 5 | 4 |
| لومړي ژبه | 12 | 5 | 12 | 4 | 9 | 4 | 6 | 5 | 10 | 7 |
| دویمه ژبه | 0 | 4 | 0 | 2 | 0 | 3 | 0 | 3 | 0 | 4 |
| تاریخ | 0 | 2 | 0 | 2 | 0 | 2 | 0 | 0 | 0 | 2 |
| جغرافیه | 0 | 2 | 0 | 2 | 0 | 2 | 0 | 0 | 0 | 2 |
| ساینس | 0 | 2 | 0 | 2 | 0 | 2 | 0 | 2 | 0 | 2 |
| حسن خط | 4 | 2 | 0 | 0 | 1 | 1 | 0 | 0 | 3 | 2 |
| رسم | 3 | 2 | 1 | 1 | 1 | 1 | 0 | 0 | 2 | 2 |
| موسیقي | 0 | 0 | 1 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| سپورت | 1 | 1 | 2 | 2 | 1 | 1 | 0 | 0 | 1 | 1 |
| لاسي کار | 0 | 0 | 2 | 2 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ټول | 28 | 30 | 25 | 26 | 30 | 32 | 23 | 30 | 24 | 30 |

(الف): له جنګ څخه مخکي دوره، (ب): د جنګ په کلونو کي دولتي ښوونځي، (ج): د جنګ په کلونو کي د غير دولتي موسساتو ښوونځي، (د): د طالبانو دوره، (ه): انتقالي دوره.

په پورتني جدول کې تر جنګ دمخه، د شوروي پلوه حکومت، د غير دولتی مؤســـساتو، طاـلـبانو او د انـتـقـالـی اداری د ښوونځيو مهالويش د پرتلی په توګه ښودل کيږي.
لکه چې په پورته جدول کې ښکاري انـتـقـالـی اسـلامـی اداری په 2002 م کال کې يو ځل بـيا په 4-6 ټولګيو کې د دينی مضمونونو وخت يوازې په اونی کې څلورو ساعتونو ته راکم کړی، پداسې حال کې چې د غير دولتی مؤسساتو په نصاب کې دغه وخت لس او د طالبانو په وخت کې 16 ساعته وو. تر جنګ په مخکې دوره يعنی 1970 لسيزې کې هـم دغـه وخـت په اونـی کې پنځـه درسی ساعـتونـه وو. په زړه پـورې خـبره داده چې د شوروي پلوه حکومت په دوره کې هم د دينــی زده کړې لپاره په اونـی کې يو څـه وخت ورکـړ شــوی وو.
په خلص ډول ويلای شو چې غربی ډوله ښوونې او روزنې په هيواد کې په خپل لنډ اما بحرانی وخت کې يو ډول مهم بدلونونه ليدلی او تجربه کړې دي. په هيواد کې د ملی يووالی او پيوستون د هڅــونی لپاره د 1950 مې ميلادي لسيزې له پيل څخه قوی مرکزی نظام لازم بلل کيده او له بلې خوا يې د نړيوالی ټولنې په شان د "پرمختګ" د تجربو خوند هم څــکلی، لکه غير مرکزی کيدنه، خصوصی سکتور، محلی برخه اخستنه، د ارزښتنو بيا احيا او نور، خو په بل شکل او د نورو مجبوريتونو له مخې.

©
http://benawa.com/pashto/library/16_da_afghanistan_ratlonkay_showoniz_nizam/12.php#ixzz3ISxhbe8q

**په هيواد کې د ښوونې او روزنې موجوده وضع (د 2004 کال منځ)**

په 2001 م کال کې د طالبانو د رژيم تر ختميدلو وروسته بالاخره په هيواد کې يو داسې رژيم چې کم تر کمه د نړيوالې ټولنې لخوا په رسميت پيژندل شوی رامنځته شو. د حکومت او جمهوری رياست لپاره ټاکنی د 2004 کال په دوهمه نيمائی کې پلان شوی دي او هيله کيږي چې د ولس د خـوښـې اداره به پـه هـيواد کې

حـاکمــیت پیـدا او دولـتی چاری به په مخ بوزي.
له پیل څخه د نړیوالې ټولنې په مرسته د هیواد د بیا رغونی کار پیل شو. خو لومړنی اړتیا له کابل څخه د باندې د دولت د تسلط تر لاسه کول، له کلونو راهیسې د ټوټې شوی ټولنې بیا یووالی، د سرکښو او خپل سرو ملیشو بې وسلې کول او په عملی ډول د ژوند د مربوطه هر ډول فــیزیــکی جـوړښــتونو بیا رغول او جوړول وو. نړیوالی ټولنې د هیواد د ثبات او بیا رغونی لپاره د اخلاقی او مالی مرستو وعدی وکړي.
د حیرانتیا خبره نده چې د ښوونې او روزنې اداره او جوړښت لاتر اوسه بشـپړه فــعاله نــه ده او د بیا جوړونې دنده یې زیات وخت غواړي. د ښوونې او روزنې په سطحه باندې په مرکزي او ولایتي سطحه اداري پرسونل بیا استخدام شول. په غیر متوقعه توګه د چارو د چلولو پخوانی مقررات او قوانین ډېر ژر بیا ژوندی او له هغو څخه پیروی او د هغو مــطابق کړنــه بــیله کومــی لــویې ستــونــځی تـر سـره کـیږی او کم تر کمه دولتی مامورینو ته آشنا او ورسره بلد وو. غربی ډوله ښوونی ته اړتیا د پخوا په نسبت ډېره محسوسه او د ځنګیانو تعلیم ته هم هر چیرې هر کلی وویل شو. د تیرو لسیز په جریان کې له هیواد څخه ډېر تعلــیم یافــته افراد وتلي چې د هیـواد لپاره یوه لـویه ستـونزه ده. کوم چې په هیواد کې پاته دي، ډېر کم یې په دولتی ادارو کې کار کوی او اکثریت یې په غیر دولتی مؤسساتو کې په کارونو ګمارل شوي دي .
د اوږدو جګړو یوه نتیجه دا وه چې زموږ په هــیواد کې نــــنــــنــــۍ ځوان نسل د تعلیم له اړخه په لاندې څلورو کتګوریو کې ویشل کیدای شي:
1- ښاري اوسیدونکي چې د تیرو لسیزو په وخت کې په دولتي ښوونځیو کې په ښارونو کې د ښوونې او روزنې یو ډول امکانات ورته مهیا وو.
2- کلیوالی اوسیدونکی چې په دغو لسیزو کې له دولتی ښوونیزو خدماتو څخه بې برخې وو او یوازینی امکان یې په ولسی یا د غیر دولتی مؤسساتو په ښوونځیو کې درس ویل وو.
3- مهاجرین چې د ګاونډیو هیوادونو په کمپونو کې اوسیدل او تر ډېره حده د هلکانو او هم تر یوه حده د ځنکیانو لپاره ښوونیزی آسانتیاوې ور ته موجودی وی او په پاکستان کې یې په افغانی ښوونځیو او په نورو هـیوادو کې یې په وطنــی ښوونځــیو کې د زده کړې امکانات درلودل.
4- هغه کلیوالی سیمی چې په دغو لسیزو کې یې هیڅ ډول ښوونیز خدمات نه درلودل. دغه ګروپ تر ټولو لویه برخه جوړوله او په دغو سیمو کې د هلکانو لپاره کله کله یوازینی امکان د اسلامی ښوونو یو ډول وو.
له دغه څخه دا نتیجه اخستل کیږي چې د نن ځوان نسل مو د ښوونځیو ډېری متنوع تجربی لری - که کومه زده کړه یې کړی وی. ډېر بختور هغه دی چې په نسبتاً فعالو ښوونځیو کې یې زده کړه کړي وي (د اتیاومی لسیزی ښاري ښوونځی او یا د غیر دولتی مؤسساتو فعال ښوونځی) او نورو یې بیا ډېره غیر منظمه او د ټیټ کیفیت زده کړه کړی دی (کلیوالی ښوونځی او په ولایتونو کې دولتی ښوونځی). د مهاجرینو هغه ډلی چې د ډېر وخت لپاره په کمپونو کې اوسیدل، نسبتاً ښی زده کړی کړي، خو پاته برخه یې د ټیټ کیفیت او نیمګړی

زده کړی لري. د افغانی ځوان نسل د ښوونیزو سوابقو دومره زیات تفاوت یوه بله ستونزه ده چې د نور تعلیم لپاره باید په نظر کې نیول شوی وای. په خاص ډول د ثانوی او لوړو ښوونو لپاره دغه متفاوت سوابق د پام وړ ستونزه جوړوي. برسیره پر دې د ځوان نسل لویه کتله له ښوونی او روزنی څخه بې برخې وو او لویه فیصدی یې د عمر له اړخه لوی دی او د دوی لپاره د ښوونې او روزنې ځانګړی شکلونه باید رامنځته شي. تر دې مهمه خبره داده چې د هیواد دغه نسل د جګړو او له جګړو څخه رامنځته شوی ډېر زیاتی ستونځی په سترګو لیدلی او یا ډېری غمیزی یې پخپله تجربه کړی دي. که څــه هم د تراوما (روانی ستونزو) په هکله کومه څـیړنه نده شوی، خو بیا هم سالم اټکل به دا منی چې دغه ډول ستــونـځـی د دغه نسل په زده کړه منفی اغیزې لري.

په آخــرو لسیزو کې د ښوونځیو د چلولو او تمویل متنوع لارو چارو د ښوونې او روزنې د کنترول نور شکلونه رامنځته کړل. ډېرو ولسونو په خاص ډول په کلیوالی سیمو کې د تعلیم کولو د نوی او غیر مروجو شکلونو تجربه وکړه (د مثال په ډول د جنکیانو کورنی ښوونځی)، چیری چې دوی د ښوونځیو په چلولو کې یو ډول واك درلود. ولسونو د ښوونځیو په چلولو کې د برخی اخستنی مختلف شکلونه هم تجربه کړل. مثلاً د ښوونکو د معاش یوه برخه، د ښوونځیو په تـعـمـیر جـوړولـو کې بـرخه اخستنــه او نور. کله کله په ځینو سیمو کې حتی د څــو غیر دولتی مؤسساتو موجودیت د پلرونو لپاره د اختیار امکانات هم برابرول او د عادي ښوونځیو او دینی مدرسو تر منځ د انتخاب اختیار به هم پیدا کیده. که څـه هم دغه ډول امکانات محدود او هم د هیواد په محدودو سیمو کې پیدا کیدل، خو بیا هم ولسونو د ښوونې غیر مروج شکلونه ولیدل.

د 2002 م کال له پیل څخه را پدیخوا په هیواد کې د ښوونځیو ډېر چټك پرمختګ پیل شو. مــوقــتی اداری د نړیوالـی ټولــنې په مرستــه د ښـــوونې او روزنــې لپاره په ډېر فعـال ډول تبلیغات او کمپاین پیل کړل چې په نتیجه کې یې د 1380 هـ ش د تعلیمی کال په پیل کې ښوونځیو ته د ماشومانو سیلابونه ورتوی شول.

په لاندي جدول کي په اخرو لسیزو کي د هیواد د ښوونې او روزنې پر مختګ په اجمالي توګه ښوودل شوي دي.

جدول ۳: په اخرو دریو لسیزو کې د ښوونځیو (لومړینو او ثانوی تعلیماتو) عروج او نزول.

| کال | د ښوونځی د عمر د ماشومانو شمیر | د ښوونځیو شمیر | د شمول شمیر | د ښوونکو شمیر | د 1357 کال په نسبت د ګډون | د 1357 کال په نسبت د ښوونځیو د تعدادتوپیر |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | توپير (%) | (%) |
| 1357 | 2،8 میلیون | 3352 | 995000 | 29900 | | |
| 1359 | 2،8 میلیون | 3824 | 1115000 | 35300 | %+12 | %14+ |
| -70 1365 | 4 میلیونه | 586 (۱) | 622000 | 15100 | %-62 | %-82 |
| -80 1372 | 4-4.5 میلیونه | 2200-3 000 | 5-700 000 | 15-20 000 | ؟ (۲) | ? |
| 1381-2 | 4 �4.5میلیونه | 6 784 (۳) | 2 900 000 | 83 000 | + 291 % | + 202 % |
| 1383 | ? | > 8000 | 4.5-5.8 میلیونه | 105 000, (22000 کمبود | + 583 % | + 240 % |

(۱) د غیر دولتي موسساتو لخوا اکمالیدونکي ښـوونځي پکي شامل ندي (تقریباً ۱۵۰۰ ابتدائـیه ښوونځي).

(۲) ددقیقو احصائـیو د نشتوالي په سبب د مدرسو او ښوونځیو تفکیک نه کیده.

(۳) د یونیسیف د اسنادو له مخې .

لکه چه ـکاري، د 1970 لسیزې تر پایه پورې د هیواد ښووني او روزني ورو ورو، اما په متوازن ډول وده کوله اما تر هغه وروسته یي دواړو پرمختګ او په شا تګ خپل طبعي حالت بدل کړ. د 1980 لسیزې په سرکې د شوروي

د اشغالگرو قواوو په ضد د جهاد او په پای کې د خپلمنځی جګړو په دوران کې دغه وده په ځای ولاړه او حتی په شاتګ یې وکړ (لکه چې په جدول کې ښکاري).
د یادونې وړ ده چې په پاکستان کې ډېر افغانی ښوونځي موجود و چې په پورتنی جدول کې شامل نه دی. د دغو ښوونځیو او زده کوونکو دقیقه احصائیه په اختیار کې نشته، خو ویل کیږي چې څــو سوه زره دی (یوازې د UNHCR لخوا په چلیدونکو ښوونځیو کې تقریباً 120000 زده کوونکی بلل کیږي). برسیره پر دې په ایران کې د افغانی مهاجرینو 113000 ماشومان په ایرانی ښوونځیو کې زده کړه کوله .
د 2002 م کال څخه راپدېخوا په ښوونځیو کې د شمول شمیر په حیرانوونکی توګه زیات شو، که څــه هم لازم ساختمانی او مرستندویه وسایل او نظام بشپړ نده فعال شوي. په ښوونځیو کې د زده کوونکو شمیر پنځه چنده او د ښوونځیو شمیر تر دوه چنده زیات او د ښوونکو شمیر څــه دپاسه پنځه برابره زیات شوی دي، چې په واقعیت کې د ملی ښوونیز نظام لپاره یو لوی چیلنج دی. دا چې د ټولو زده کوونکو 45-40 فیصده یوازې په لومړی ټولګی کې دی، په دغه چیلنج نور هم ورزیاتیږي .
په دې برسیره تر یو میلیون زیات نور ماشومان لا په ښوونځیو کې نه دی شامل او د سالم اټکل له مخی د دغو ماشونو ډېره کې جنکیانی دی، چې غالباً د دې اساسی علت د پلرونو لپاره د قبول وړ ښوونځیو نشتوالی دي. په داسې حال کې چې په ښارونو کې جنکیانی د هلکانو په برابر په ښوونځیو کې شاملی دي. (لـږتر لـږه په کابل کې)، خو دا یو واقعیت دي چې په کلیوالی سیمو کې محافظه کار ارزښتونه مسلط دي. په محافظه کار ذهنیت برسیره، فقر هم د ماشومانو د مکتب پریښودلو لپاره یو لوی دلیل وي او په ډېرو حالاتو کې د ماشومانو کار کولو او غریبی کولو ته اړتیا لیدله کیږي.
ښوونکی، چې په هیواد کې د ښوونې چلوونکی بلل کیدای شي، له یوې خوا د کیفیت له اړخه د آخرو لسیزو له ناخوالو څخه په ډېر منفی ډول اغیزمن شوی او له بلې خوا یې شمیر د موجودو اړتیاو په نــسبت ډېر کم دي - په خــاص ډول په کلیــوالی سیــمو کې. څــه دپاسه 80000 ښوونکی د پوهنی د وزارت لخوا مقرر شوی او 02000 نورو ته اړتیا ده . د ښوونکی په سر د زده کوونکو اوسط شمیر 46 کیږي، اما دا هم باید په یاد ولرو چې د زده کوونکو لوی شمیر په لومړیو ټولګیو کې دی او 80-70 زده کوونکی په دغو ټولګیو کې عملاً ناست وي، په دې توګه د ښوونکی په سر د زده کوونکو د شمیر راکمول نور ډېر ښوونکی ایجابوی، چې د ښوونی له کیفیت سره مستقیماً اړیکی لري. په لنډ ډول ویلای شو چې د شمیر په لحاظ ښوونکی د موجوده اړتیا په نسبت ډېر کم دي.
بل اړخ د ښوونکو حالت او کیفیت دي. په ملي سطحه دقیق ارقام او احصائیه وجود نه لري، اما یو شمیر لنډې څــیړنې او تحلیلونه ښیي چې د ښوونکو درسمــی تعلیم اوسط حد د یولسو کلو د تعلیم په شاوخوا کې دي او دیرش فیصده ښوونکی د لیسی څخه ټیټ نیمګړي تعلیمات لري. د ښوونکو دغه تعلیمات یا ډېر پخوانی او یا د ډېر نیمګړي تعلیمی نظام محصول دي .

بله مهمه مسئله دا ده چې ډېر کم شمیر ښوونکی مسلکی تعلیمات لري (یوازې د 15% په شاوخوا کې ښوونکی د دارالمعلمینو فارغین دي) او دغه مسلکی تعلیم لرونکی ښوونکی هم د پخوانیو دورو د مسلکی دارالمعلمینو فارغین دي چې له معــاصرو مسلکی نوښتونو او څــېړنو څخه بې برخې دي. تر دې دمه د غیر دولتی موسساتو لخوا د چلیدونکو ښوونځیــو ښــوونــکو، د ښوونکو د روزنــې په پروګرامـونـو کې برخې اخیستی دي اما دغه پروګرامونه د کیفیت او هم د کمیت له اړخه ډېر متفاوت او ناکافی دي. که څـه هم دغه ډول پروګرامونه دوام لري، اما د مختلفو موسساتو تر منځ هیڅ ډول هم اآهنګی او د هڅـو ګــډون نشته.

موجوده احصاییی ښئي چې د موجوده ښوونکو 25% ښځینه ښوونکی تشکیلوی اما د دغو ښځینه ښوونکو 40 % د کابل د ښار ښځینه ښوونکی دي. په کلیوالی سیمو کې د ښځینه ښوونکو شمیر ډېر کم دي او حتی په ځینو سیمو او حتی ولایتونو کې د ګوتو په شمیر ښځینه ښوونکی پیدا کیږي .

دغه واقعیت د جنکیانو د تعلیم لپاره یو جدی خنــډ بلل کیـږي او په هیواد کې د ښځو د سواد ډېره ټیټه سطحه د دې خنډ له منځه وړل او رفع کول نور هم ستونځمنوی.

د ښــوونځــیو لپــاره د لازمــو تعمــیرونو، اثاثــیی، وسایــلو او نورو مــوادو نـشـتوالی یوه عامه ستــونځــه ده. که څـه هم په دې آخیرو دوو کلونو کې د ښونځیو د تعمیر جوړولو په اړه زیات شمیر کارونه روان دي، خو لویه ستونزه یې د پلان او اولیتونو نشتوالی دی او د تعمیر جوړولو فعالیتونه د معیارونو او پلان په عوض، ځانی تمایلاتو، خپل پالنی او دشخصی کمپنیــو د ګټــو پوسیــله رهــنمائی کیږي.

د ټولو زده کوونکو لپاره د درسی کتابونو د تهیه کولو لپاره ډېری هڅــی وشوی او دا چې کوم درسې کتابونه چاپ شي، یوه متنازع فیه مسئله وه. د تمویلوونکو منابعو لخوا، د وزارت لخوا د ټاکل شویو درسی کتابونو د سمدلاسی او بیړنی اصلاح غوښتنه کیدله او د چاپ د مصارفو د تهیه کولو لپاره یې دا یو حتمی شرط وو. له بلې خوا، نه وخت او نه تخنیکی امکاناتو د دې مجاز درلود چې دا کار په اساسی توګه ترسره شي او په نتیجه کې په سطحی سمونو بسنه (اکتفا) وشوه. له بده مرغه چې په سطحی سمونو کې هم د پیداګوژیکی اصلاحاتو په ځای په کتابونو کې په سیاسی کلیشه ای زیاتونو او کمونو بانـدې کار وشو. له یـوې خوا د کار لپاره بـیـړه او له بلی خوا "په څــو لاســونو" کار، درسی کـتابونو هم د محتــوی او هم د چاپی کیفــیت له اړخـه تر بل هـر وخت زیـات بی خونده کړل.

نظارت او څــارنه د ښوونیز نظام یو مهم رکن دي او لوژستیکی او بشری منابعو ته اړتیا لري، چې دواړه یې په هیواد کې نیمګړي دي. که څــه هم مرکزي مفتشین د هیواد په ګوټ ګوټ کې له ښوونځیو څخه لیدنه کوي او یو زیات شمیر معلومات د ارقامو او احصائیو په شکل راټولوی، خو لویه ستونځه داده چې د راټولو شویو معلوماتو څخه د پلانولو لپاره کار نه اخستل کــیږي.

د ښوونې او روزنې کیفیت د ولس او هم تمویلوونکو باندینیو مراجعو دواړو لپاره یوه لویه اندیښنه ده. د زده کړې د لاستــه راوړنـو په اړونـد کومی خاصی څـــیړنی ندی شوی او په دې هکله پوره معلومات نشته. که

څــه هم په ابتدائیه دوره کې د ماشومانو د حساب د زده کړی د لاسته راوړنو یوه څــیړنه ښيي چې، د 40% زده کوونکو د حساب د زده کړی نتائج د یونیسف په مشری د غیر دولتی مؤسساتو لخوا د وضع شویو اساسی قابلیتونو د ټیت قبول شوی حد څخه هم ټیټ وو .

د زده کوونکو د لیك لوست د قابلیت یوه بله څــیړنه هم دی ته د ورته نتایجو راپور ورکوی . د ښوونځی پریښودلو په هکله تر اوسه کومه څــیړنه هیڅه نه ده شوي خو یوه سطحی څیړنه ښيي چې دا فیصدی هم ډېره لوړه ده .

په زرگونو ښوونکو په تیرو لسیزو کې د غیر دولتي موسساتو د داخل الخدمت په لنډ مهاله روزنیزو کورسونو کې برخه اخستې، اما د دغه ډول کورسونو د اغیزو په هکله تر اوسه کومه څــیړنه هیــڅ نه ده شوې.

په ټولگیو کې د زده کوونکو گڼ شمیر، د تعمیر او سرفنا نشتوالی، د درسی موادو ټیټ کیفیت، د تدریس ټیټ معیارونه او نور، هغه عوامل دي چې د ښوونې او روزنې د کیفیت د ښه والی لپاره لازم دي، باید په لومړی سر کې په نظر کې ونیول شي، تر څــو د لوړ کیفیت د ښوونې هیلی تر سره شي. اټکل کیــږي چې د یوه زده کوونکی د یوه کال د ښوونې او روزنې وسط لگښت د 25-20 امریکائی دالرو په شاوخواکې دي او دا په نړی کې ډېر ټیټ لگښت ښي چې د ښوونې او روزنې د ټیټ کیفیت یو شاخص دي. په ښوونځیو کې د زده کړی ټیټ کیفیت د شمولیت په حد هم منفی اغیزی لرلای شــي یعنی پلــرونه به بالاخــره دې نتیجې ته ورسیږي چې ولې خپل اولادونه ښوونځیو ته ورلیــږي، په داسې حال کې چې څــه نه پکې زده کوي.

په اوسنیو او نژدې راتلونکی کلونو کې هیواد دښوونیزو لگښتونو د پوره کولو لپاره مجبور دي چې په باندینیو مرستو اتکاء وکړي. فعلاً د هیواد ټول ښوونیز لگښتونو د ملگرو ملتونو، نړیوال بانك، اسیایی پرمختیا بانك او نورو دولتی مرستندویه هیوادنو چې د امریکا د بین المللی پرمختگ اجنسی (USAID) تر ټولو زیاته ونــډه پکې لري، لخوا پوره کیــږي. پردې برسیره 6-5 بین المللی غیر دولتی مؤسسې هم یو شمیر ښوونځی په بشپړاو یا نیمه توگه اکمالوي. غیر دولتی موسسات د لیك لوست د زده کړو (سواد آموزی)، له ښوونځی څخه د باندې د زده کړو پروگرامونه، حرفوی کورسونو او په نورو برخو کې فعاله برخه لري. په دې هکله یوه مهمه خبره داده چې ښوونځي که د هر چا لخوا اکمالیــږي، د پوهنې د وزارت مربوط بلل کیږي او ملی تعلیمی نصاب او مقررات تعقیبوي. دا یو مثبت عمل دي او د هیواد د ښووني او روزني د دولتي کنترول لپاره ښه زمینه بلل کیداي شي.

په هیواد کې د ښوونې او روزنې موجوده وضع له دوو زاویو څخه د ډېري اندیښنې وړ ده: اول دا چې په بشپړه توگه د لگښتونو پوره کول له باندینیو مرستو څخه په راتلونکی کې "باندینیو مرستو ته د محتاجی" ویره او خطر رامنځته کوي، چې دا بیا په خپل وار د واك او خپلواکی په محدودوالی او یا د راتلونکی نسل په پوروړی کیدلو منتج کیږي. تر هغو پورې چې د ښوونیزو لگښتونو لپاره د ملی منابعو د پیدا کولو تلاش ونشی او په تدریجی ډول د مالی مسئولیت د په غاړه اخستنی لپاره پلان جوړ نشی، د موجوده ښوونیزو اسانتیاوو دوام او بقا به له

خطر سره مخامخ وي. د ښوونیزو آسانتیاوو موجوده پرمختګ چې د نړیوالی ټولنې لخوا هڅــول کیده او د افغان ولس لخوا یې غوښتنه کیده، د موجود ملی مالی او بشری وس او منابعو په نظر کې نیولو سره نده پلان شوي.

دوهمه مسئله داده چې په موجوده حالاتو کې ملی بشری منابعو پوره وده نه ده کړې او هیواد په زیاته اندازه د باندینیو متخصیصینو په مشورو باندې اتکا لري. یوه پټه ویره چې شاید ډېرو ته به نه ښکاري، داده چې د مرستــنــدویه ټولــنو علاقــه او زمــوږ مــــلی غــوښتــنــې او اندیښنې ډېر ځله سره یو وړ نه وي او فرق سره لري. په دې کې شك نشته چې نړیــواله ټولــنه له افــغانــانو سره د مرستې اراده لري، اما دوي د "نړیوال طرز تفکر" سره راځی چې همیشه له افغانی ملی نظریو او د محلی ولسی ټولنو له تجربو سره اړخ نه لګوي .

داسې ښکاري چې دولت مرکزی ښوونیز نظام بیا راژوندی کیــدلو ته ترجیــح ورکــوی، اما دا د شك خبره ده چې د "نړیوالی " فشارونه او په ښوونه او روزنه کې نړیوال تمایلات به له نظره وغورځول شي. مرستندویه ټولنه د دولتـی ترجـیحــاتو سره علاقـه منـد نـه ښکاري او د غیر مرکزی ښوونیز نظام د حمایی هڅــې کوي.

په خلاصه توګه ویلای شو چې د ښوونې او روزنې موجوده وضع د زده کوونکو له اړخه لاندې ځانګړتیاوې لري:

الف: د ښوونې لپاره زیاته تقاضا.

ب: ښوونځیو ته د ډېرو زیاتو ماشومانو د ورتګ بهیر (په خاص ډول لومړی ټولګی ته).

ج: د جنکیانو لپاره د ښوونځیو د امکاناتو نشتوالی.

د: د مکتب تر عمر د لویو ماشومانو او تنکیو ځوانانو یو لوي شمیر.

هـ: د مخکینی زده کړی ډېری متنوع تجربی.

و: د جګړو له امله د زده کړې د وړتیا ستونځې، او بالاخره.

ز: د زده کړې د لاسته راوړنو په هکله ناخبري.

د ښوونکو د حالاتو له مخې، موجوده وضع په لاندې توګه تعریفولای شو:

الف: کم شمیر ښوونکی مسلکی پوهه لري.

ب: د ښځینه ښوونکو نشتوالی او کموالی.

ج: د ښوونکو د شمیر کموالی، خصوصاً په کلیوالو سیمو کې.

مقدماتی سروی ګانی او د معلوماتو د تنظیمولو سیستم لا تر اوسه درك نه لري. (مرستو ته احتیاج" یا په بل عبارت" مفت خوری" یوه ښکاره ویره او خطر دي. د ښوونیزو پالیسیو د جوړولو او په مـخبــیــولو پروسه د څــیړنو او مطالعو د نشتوالی، مبهمو اهدافو، د ترجیحاتو د نشتوالی او د ذیعلاقه خواو د برخی د نه اخستنی

نیمگړتیاوې لري. اساسی قانون چې د دسمبر 2003 میلادی په لویه جرگه کې تصویب شو، د ټولو لپاره وړیا ښوونه او روزنه پکې شامله ده. دا یوه مهمه مسئله ده چې د ښوونیزو اصلاحاتو لپاره باید یوه اجندا ترتیب شي.

©
http://benawa.com/pashto/library/16_da_afghanistan_ratlonkay_showoniz_nizam/13.php#ixzz3ISxnwVOf

**د افغانستان ښوونیز نظام او نړیوال ښوونیز اصلاحات**

سریزه

په دي کې شك نشته چې د هیواد ښوونیز نظام اصلاحاتو او بدلونو ته اړتیا لري. د 1383 کال له 1350 لسیزې سره، چیرې چې په هیواد کې قوی فعاله مرکزی اداره موجوده وه، ډېر فرق لري. هیله کیږي چې د 1383 په دوهمه نیمایی کې به انتقالي اداره په یوه ټاکل شوی اداره بدله شي. د 1355 کال پیشنهاد شوی اصلاحات عملی نه شول او تر هغه وروسته نه کوم اصلاحات راغلی او نه په دې هکله بحث شوی دی.

نـړیـوالـی (Globalization) په افغـانســتان باندې هم اغیزې کړی او که زمـوږ په گــټه وي او که تـــــــــاوان، دغــه اغیزې به په تکـنالوژیکی، اقتصـادی، سیــاسـی او کلـتوری برخو کې دوام ولري.

معلوماتي تکنالوژي (Information Technology) که څــه هم تر اوسه به په کابل او څــو محدودو ادارو کې پیدا شوي وي، خو ورو ورو د ستیلایت تلیفونو او موبایلونو له لارې وده کوي او د دې تکنالوژي زور دومره زیات دي چې خپل ځان ته پخپله اړتیا او بازار پیدا کولای شي. د دغې تکنالوژي په مرسته د نړی له گوټ گوټ څخه خبــریــدلای او اغیزمن کیدلای شو.

کثیر الملتی کمپــنیو د هیــواد د فــیزیکی جوړښتونو په اړوند د یو شمیر پانگی اچونو لومړنی قدمونه پورته کړي دي. او د مخدره موادو کاروبار (Drug Economy) چې نړیوالی اړیکی لري، له بده مرغه ورځ په ورځ د زیاتیدو په حال کې دي، چې د نړیوالی د اغیزو سره نوره هم مرسته کوي. په کلتوری ډگر کې به افغانان غالباً د نورو ولسونو په شان تر مشابه فشار لاندې وي، چې له استهلاکي فرهنگ، په ټولنیزو اړیکو کې ځانځانی او انفرادیت څخه عبارت دي.

د نړیوالی د اغیزو له امله د ملی حکومتونو رول کمزوری کیږي او مارکیټ عمده رول لوبوي - لږ تر لږه د منابعو د تخصیص په مورد کې د مارکیټ تسلط د دولت تر حاکمیت زیاتیږي. دا چې له یوې خوا په هیواد کې اداره کمزوري ده او له بلې خوا پریمانه مرستی راسرشویدي، چې دغه کار لږ تر لږه د منابعو د تخصیص واك او تسلط لپاره ناوړه نتیجې لرلای شي.

په دي برسيره بين المللی اجنسی ګانې په فعال ډول د ښوونې او روزنې د نړيوال موډل لپاره پروپاګنده کوي چې د ټولو لپاره ښوونه،(Education for All) با کيفيته ښوونه او روزنه (Quality Education)، اغـيزمنــتوب (Efficiency)، ګټورتوب (Effectiveness)، خپــلواك ښــوونــځي ( School based Management) ، شـــخــصی

جدول ٤: د ښوونې او روزنې نړيوال موډل

| | |
|---|---|
| **ديدګاه ئې** | - ښوونه او روزنه د ټولو لپاره.<br>- ښوونه او روزنه پرمختګ، اقتصادی وده، ديموکراسی او بامنطقه معقول بشريت هڅوی او تشويقوي. |
| **سيستم يې** | - له 7 تر 9 کالو پوري جبري تعليمات.<br>- لږ ته لږه دري کاله ثانوی تعليمات. |
| **نصاب يې** | - ملی محوری نصاب او له محلی غوښتنو سره د تطابق وړتيا لري.<br>- اهداف: ديموکراسي، د بشر حقوق، د هر چا لپاره نړيواله سيالی. |
| **تمويل يې** | - اساسی برخه يې د دولت لخوا وي، خو د محلی او د منځينو سطحو ( ولايتی ولسوالی او کلی)، لخوا هم لويه برخه پکې وي.<br>- شخصی سکتور. |
| **کنترول يې** | - دولتی دايمی نظارت او تعميری ارزونی.<br>- آزاد اختيار. |
| **اهداف يې** | - ګټورتوب (مفيديت)، اغيزمنتوب (موْثريت) کثيرالکسبه افراد، اخلاق. |
| **اداره او تنظيم يې** | - په ملی چوکاټ کې غير مرکزی نظام.<br>- محلی برخه اخستنه (واك). |

منبع: Daun 2003 b

سکتور (Privatization) ، مادام العمره زده کړه (Life Long Learning) او نور یې مهم شعارونه دي .
د ښوونې نړیوال موډل یوازې په لاسته راوړنو، ذهني ودې او د مادي ګټو په منطق ولاړ دي او داسې مفاهیم لکه دشخصیت جوړونه او معنوی اړخونه پکې شامل نه وي .
په پورتني جدول کي د ښوونیز نړیوال مودل ځیني اړخونه ښودل شوي دي. که څه هم ځیني اړخونه یي کیداي شي په مختلیف ډول تعبیر شي اما ځیني بیا په واضح توګه زموږ له ټولنیزو ارزښتونو سره مغایر ت لري. د مثال په توګه دیني پوهه او اخلاقي او معنوي فـردي او ټولنیزه وده د افغاني ښووني له اساسي اهدافو څخه دي ، پداسي حال کي چه پدي موډل کي د تعلیمي اهدافو کوم مهم جز نه ښکاري. همدا راز عیني شرایط او ټولنیزه وده هم د ځینو نورو د منلو وړ اهدافو لپاره هم وخت ته اړ تیا لري.
لکه چې مخکې وویل شول، ښوونیز اصلاحات د ښوونې او روزنې د محتوی او ساختمان په هکله وي. د افغانستان د ښوونې او روزنې په نظام کې د ساختمان مسئلی لکه، د تعلیمی کال موده، د آزموینو پروسی او د نمرو سیستم او نور اصلاحاتو ته اړتیا لري. موجوده تعلیمی کال د نړیوالو معیارونو په مقایسه لنډ دي. د مثال په توګه د ورځې څـلور ساعته درسی شپږ کلنه ابتدائیه دوره د سـویـډن له څـلور کاله تعلیم سره برابروي. په تعلیمی کال کې دوه ازموینی د ډېرو له نظـــره پخــوانــی مفکــوره ده او له یـوې خــوا د وخـت ضــایع وي او له بلې خوا د زده کړې اهــداف یوازې په آزموینـــو کې بریالیتوب وي .
د محتوی په اړه هم اصلاحاتو ته اړتیا محسوسیږي او په نصاب کې اصلاحات را په لاري دیاو داسې مفاهیم لکه شاګرد پاله زده کړي، فعاله زده کړه، تدریس د اسانتیا د برابرولو په بڼه او نور، د اصلاحاتو په اجندا کې راغلی دي، چې باید د عمل جامه ورواغوستل شي.
د ښـــوونیـــز اصلاحاتو له څـلورو اساسی اجزاوو څخه لومړی یې د تصـمیـم نیـونی واك دی .
د تیرو لسیزو په موده کې چې مرکزی اداره کمزوری وه او د ځینو په اصطلاح په هیواد کې د "نــاکام حکــومــت" (Felted State) حــالــت وو، ولسونو د "بیله حکومــته" اداره کولو ډېری تجربی تر لاسه کړې دي. د ښوونې او روزنې په برخه کې ولسونو او محلی خلکو د خپلو اولادونو لپاره ښوونځی پرانستل، ښوونکی یې پخپله مقررول او ښوونځی یې چلول. غیر دولتی مؤسساتو هم یو شمیر ښوونځی چلول چې د ولس برخه اخیستنه یې هڅــوله. ډېر محلی ولسونه د داسې ښوونیز نظام سره عادت شوی چې په واقعیت کې د غیر مرکزی نظام د لوړی درجی او شخصی سکتور یو شکل دی. مهمه دا هم ده چې د ولس لخوا د چلیدونکو ښوونځـیــو په مـهــالــویــش کې اسلامی مضامینو ته زیات ځای ورکړي شوی وو. داسې انګیرنه کیــږي چې ولسونه به په اسانه دا ونه منی چې د دوی غږ دو نه اوریدل شي او تصمیمونه دی په مرکز کې ونیــول شي. نــو ګډ تصمیم نیونه او په واك کې شریکیدل به نه یوازې ممکن، بلــکه مطلوب هم ویاو شاید چه په راتلونکی ښوونیزو اصلاحاتو کې باید په نظر کې ونیول شي. که څــه هم د ډېرو دلائیلو او ملی منافعو له مخی مــرکــزی نظــام ته ترجیــح ورکول کیږي، خو بیا هم د نسبی واك لیــږدول د نظام ټیټو سطحو ته به د

ښوونيزو اصلاحاتو يوه برخه وي.
په ښوونيزو اصلاحاتو کې دوهمه مسئله د تصميم نيولو واك دي (مخکينی ماخذ).
د هيواد د محدودو منـابعـو عـادلانـه ويــش يوه بله قوی غوښتنه ده، چې د پوهنی د وزارت، مرستندويه ادارو او غير دولتی مؤسساتو تر منځ هم غاړی ته اړتيا لري. ښوونيــزو پړاوونو (لومړنی او ثانوی تعليماتو)، د ښوونو ځانگړو ډولونو (اساسی زده کړو، حرفوی زده کړو او د سواد زده کړو)، د خاصو ټولنيزو گروپونو ښوونو او د کليوالی جنکيانو او کوچيانو تعليم ته د منــابعــو تخـصيص هم يوه مسئــله ده. يوازيــنی مسئله دا نه وي چې منابع چاته او څــنگه وويشل شي، بلکه دا چې له چا او کومه ځايه څخه تر لاسه شي، هم د مسئلې يو بل مهم اړخ وي. آيا باندينی مرستې يوازې د دولت لخوا تر لاسه شي او د دولت په اختيار او کنترول کې وي او يا دا چې د دولت له ولکی څخه د باندې د غـير دولتی مؤســسو ته هم اجازه ورکړه شي چې باندينــی مرستی تر لاسه او ښوونــيزی چاری وربانــدې وچلوی؟ د ولايت، ولسوالی او يا کليو په سطحه له محلی ولس څخه دنغــدی، مالی او يا د کار په بڼه د څــه ډول برخــی اخستنی غوښتنه وشي؟ دغه او دی ته ورته مسئلی په واك او صلاحيت پوری تړلی مسئلی وي چې د اصلاحاتو يوه برخه جوړوي.
په ښوونيزو ريفورمونو کې کيدای شي د مختلفو ذيعلاقه او دخيلو خواوو مسئوليت او ماموريت هم شامل وي، يعنی دا چې څـــوك دی څــه وکړي. ولايتی مسئولينو ته شايد د سرښوونکو او د ولسوالی مقاماتو ته د ښوونکو د تقرر او انفکاك صلاحيتونه ورکړل شي. د کوچيانو د ماشومانو لپاره ممکن ولايتی مسئولينو ته واك ورکړل شوی وی چې ښوونځی ورته برابر کړي. د ښوونځيو لپاره د وسايلو د اخستلو مسئوليت ممکن په بشپړه توگه ولسونو ته ورکړل شي. دغه مثالونه د ښوونيزو اصلاحاتو نمونی دی.
باالاخـره ښوونيــز اصلاحات د ارزښــتونو په اړه وي. آيا هغه ارزښتــونه چې په نړيواله سطحه په ښوونيزو اصلاحاتو کې هر چيری راغلی لکه د ټولو لپاره مساويانه امکانات برابرول، د ماشـومانو حـقــوق، اغيزمنــتـوب، گټـورتوب او حريــت (آزادي) په افغانستان کې د ښوونيزو ريفورمونو لپاره هم د علاقی وړ مسئلی دي او که نه دي؟ او که وي نو په افغانی قرينه کې څــه معنی لري؟ او آيا د دغو ارزښتونو د لاسته راوړلو لپاره حاکم او جامع تدبيرونه چې د نړی په گوټ گوټ کې ښکاري، لکه غير مرکزی کيدنه، خصوصی سکتور، د انتخاب حق او نور، به په افغانستان کې هم د ښوونيزو اصلاحاتو اجزاوې وي؟ او دا چې اسلام او اسلامی ارزښتونه چه په عملی توگه د هر افغان د کړنو لپاره دستورالعملونه دي، دغه به د هيواد په ښوونيزو اصلاحاتو کې څــنگه منعکس کيــږي؟
ويل کيــږي چې په نړيواله صحــنه کې د ښوونيزو ريفـورمونو راوستل د سيالی (رقابت) يا د مالی او يا هم د مساويانه لاس رسي د وجوهاتو له مخی توجيه کيږي. په افغانستان کې داسی ښوونيز اصلاحات چې هدف يې د هيواد د ښوونيزې سيالی ښه والی وي، شايد په لويه پيمانه د ښوونکو د روزنی په پروگرام کې په پانگې اچونی او يا هم د سرښوونکو د مديريت د وړتياوو په جگوالی باندې تاکيد وکړي. دغه ډول اصلاحات شايد د

معاشـونو درجـو ته له سره كتـنه وكړي. مثلاً د ښوونكو معاشونه د دوي د عمر او كارى تجـربو په اسـاس نه بلكه د دوی د اغزمنتيا له مخی وټاكل شي. دغه ډول اصلاحات ممكن د ښوونځيو په مهالويـش كې د اسلامی مضامينو او اجتماعی علومو اندازه راكمه او په ځای يې ساينـس حساب او انګليسی زياته كړي.

د اقتصادی وجوهاتو له مخی توجيه كيدونكی ښوونيز اصلاحات به د دولتی لګښتونو راكمول د ښوونكو د معاشونو د راكمولو او د ښوونكی په سرد زده كوونكو د وسـط شمير د زياتولو له لارې تر لاسه كړي. د فيس په مقابل كې به شخصی ښوونځيو ته نه يوازې اجـازه وركړي، بـلكه تشـويـق به يې هـــــــــــم كړي.

د مساويانه لاس رسی د وجوهاتو له مخی ښوونيز اصلاحات به د ټولو لپاره د ښوونی او روزنی هڅـی ګړندی كول غواړي او د هغو ټولنـيزو ګـروپـونو لپاره چې له پامه غورزيدلی دی، لكه وروسته پاته لري پرتي كليـوالی سيمی، معيوبين او معلولين او د جنكيانو لپاره د قبـول وړ ښـوونيزو امكاناتو برابرول به يكې شامل وي.

په بريالی توګه د نويو ښوونيز اصلاحاتو او بدلونونو عملی كول او پياده كيدل د ټولو ذيعلاقه او د خيلو خواوو په برخه اخستنه او شموليت پورې اړه لري. تجربې ښئي چـه د ذيعلاقه خواوو برخه اخستنه او د اصلاحاتو د موفـقيـت درجې يو له بل سره مستقيماً متناسبی دی. په افغانستان كې، نيكمرغه اصلاحات به غالبـاً هغـه اصلاحات وي چې په تدريجی توګه پلی شی او د اصلاحاتو په پروسه كې ښوونكی زده كوونكی او والدين سهيم وي. د دغسې پروسی د كاميابی لپاره منـظم او دقيـق پلان ته اړتيا ده.

په راتلونكو څـو پاڼـو كې به د معاصرو ښوونيزو ريفورمونو د اساسی مسئلو او په افغانستان د هغو د ممكنه نتائجو په هكله بحث وكړو.

©

http://benawa.com/pashto/library/16_da_afghanistan_ratlonkay_showoniz_nizam/14.php#ixzz3ISxt1pC6

### افغانستان او د ښووني او روزني غير مركزی نظام

په ښوونه او روزنه كې مركزی او غير مركزی نظام په ښوونه او روزنه باندې حاكميت، د هغې كنترول، منابعو او لاس رسی او د دې په هكله داسې سوال ته راجع كيږي چې څـوك د دې واك لري چې څـوك دې د چا لپاره څـه وكړي او دا چې ولی او څـرنګه يې وكړي. همدا راز دا چې دولتی مقامات او كه غير دولتی سازمانونه (ملی او يا بين المللی) د تصميم نيولو واك لري. ښوونيز ريفورمونه د دې په هكله هم وي چې كومو دولتی سطحو ته كوم ډول واك او صلاحيت وركول كيږي. دتصميم نيولو مراجع به د مركـز، ولايـت، ولسـوالی، كـلی اوكه ښوونځــی په سطحه وي او تصميم نيوونكی به انتخابی او كه انتسابی نمايندګان وي، مسلكی او يا قانونی اشخاص وي، شكل به يې څـنګه وي يعنی د دخيلو خواوو اغيزې به حقيقی او كه په نوم بڼه لري. تصميم به

په اکثریت نیول کیږي او که د ټولو موافقه به شرط وي او څوك دویــتــو حق لري او نور.
مرکزیت او غیر مرکزی کیدنه د کنترول د تمرکز او د کنترول د مربوطو مسئلو په هکله وي. ایا ښوونکی به د ملی نصاب د تحقق په اړه د دولتی مفتیشینو لخوا کنترولیږي؟ آیا په محلی سطحه د "ورزیاتو شویو مضمونو" په اړوند به د زده کوونکو د زده کړي لاسته راوړنی د ولسی نمایندګانو لخوا کنترولیږي او که دبل چا له خوا؟ ایا د ولسوالی مامورین به د والدینو نظارت کوي چې ایا دوي د ښوونځی د عمر خپل ټول ماشومان ښوونځی ته استولی دی او که نه؟ آیا ملی کمیته به د دولت څهارنه کوي چې هر ماشوم ته يې د خپل قانونی حق سره سم د ښوونی او روزنې اسانتیاوې برابر کړیدي او که نه؟
د ښوونې او روزنې د چلولو لپاره منابع به په ملی یا محلی سطحه راټولی شوی او ویشل شوي وي او که په بل شکل. لګښتونه د ټولو تر منځ یعنی له کورنی څخه نیولی تر دولت پوری شریکیږي او په مختلفو ګروپونو لګول کیږي او که څنګه؟
کیدای شي چې لومړنی ښوونی په بشپړه توګه وړیا وي او حتی درسې کتابونه او قرطاسیه هم په وړتیا توګه زده کوونکو ته ورکړل شي. حتی که د یونیفارم غوښتنه کیږي، یا به وړیا ورکول کیږي او یا دا چې زده کوونکی يې په اغوستلو او نه اغوستلو کې اختیار لري. کیدای شي په ښوونځیو کې د زده کوونکو لپاره د غرمی ډوډی هــم وړیا ورکړله شي. ثانوی تعلیمات (دلیسې دوره) کیدای شي هم په بشپړ یا نیمه ډول وړیا وي. حرفوی زده کړی ، د لویانو لیك لوست او لوړی ښوونی شاید په دواړو مرکزی او غیر مرکزی نظامونو کې د دولت لخوا تمویل او یا تمویل نه شي. باالاخره مرکزیت او غیر مرکزیت ښوونځیو ته د لاس رسی لپاره ځانګړی عواقب لرلای شي. مرکزی نظام ممکن د لاس رسی لپاره نسبتاً ښه متضمن وي، برعــکس په غیــر مرکزی نظــام کې د خیانت او رشوت اندازه کمه وي او په دې ترتیب به د ټولو ماشومانو لپاره د لاس رسی ښه امکانات برابر کړای شي.
د 1950- 1980 کلونو تر منځ په افغانستان کې په لوړه پیمانه مرکزی نظام حاکم وو. ټول اختیار د مرکزی دولت په لاس کې وو. ولایتی دولتی مامورینو د ښوونځیو د نظارت او کنترول دنده په غاړه درلوده. که څــه هم په قانونی توګه ټولو ته د ښوونې او روزنې برابر حق ورکړل شوی وو، خو عملاً د هیواد د ښوونځیو د کمومالی منابعو له وجې ډېر محدود و. 1980-2001 م کالو تر منځ په هیواد کې د ښوونې او روزنی یو غیر عادی غیر مرکزی نظام چلیده. د دولت د سهم له کمیدلو سره یو شمیر غیر دولتی موسساتو د ښوونځیو چلول په غاړه اخستی وو او هری موسسی د خپلو ښوونځیو د جوړښت او محتوی په اړوند صلاحیت او واك درلود او معمولاً د محلی ولسونو واك هم پکې زیات وو. یو شمیر غیر دولتی موسسو لکه د افغانستان لپاره د سویډن کمیټه چې یو لوی شمیر ښوونځی چلول، د هغه ملی نصاب څخه پیروی کوله، کوم چې په 1992 م کال د دولت لخوا تصویب شوی وو. دغه ډول موسساتو چې لوی ښوونیز پروګرامونه يې چلول، د مدیریت او اداری ظرفیتونو نوی او معاصر شکلونو ته وده ورکړي، د پروګرام چلولو لپاره يې د معلوماتو د تنظیمونو

کمپیوتری سیستمونه جوړ او عملی کړی او د نظارت او تفتیش نوی شکلونه یې عملی کړي وو. د ښوونکو د روزنی داخل الخدمت نوی شکلونه یې هم رواج کړل. په ځینی سیمو کې د ښوونځیو شوراگانې او د ښوونځی بورډ هـم موجـود وو چې ښـوونکی، سرښـوونکی ولسي مشران، د ښـوونې مینه وال او نور به یې غړي وو.

په تیرو دوو کلونو کې پخواني مرکزي نظام بیرته اعاده شوی او د ولایتونو او د ولسوالیو مامورین د ښوونې او روزنې له چارو څخه نظارت کوی او کنترولوي یې.
د ښوونکو تقرر او انفکاک د پخواني اداری سیستم له مخې ترسره کیږي. معاشونه له مرکز څخه حواله کیږي او د ښوونکو معاشونه د پخواني رتبه يي سیستم له مخې تثبیتیږي - که څه هم معاشونه یې لږ څه زیات شوي دي. ټول ښوونځي په دولت پورې تړل شوي او دولتي ښوونځي بلل کیږي، که څه هم یو لوی شمیر یې د غیر دولتی مؤسساتو له خوا تمویلیږي. غیر دولتي مؤسسات د غیر رسمي ښوونو په برخه کې لا تراوسه هم لویه برخه لري. یو شمیر غیر دولتي مؤسساتو د معلوماتو د تنظیم پرمختللی کمپیوتری سیستمونه ترتیب کړي دي. په محلي سطحه لوی شمیر غیر دولتي مؤسسات له ښوونځیو سره په مستقیم ډول اړیکي لري او راز راز مرستي ورسره کوي. پدې ترتیب ښوونیز نظام لاتراوسه هم په نسبي توگه غیر مرکزي نظام دی، چې د پوهنې د وزارت ترڅنگ مختلف نور اکتوران فعالیت پکې کوي. که څه هم له غیر دولتي مؤسساتو څخه په زیاتیدونکي توگه غوښتنه کیږي چې د ملي نصاب او د ښوونکو د تقر له معیارونو او نورو مقرراتو څخه باید پیروي وکړي. په لومړی سر کې دا چې له یوې خوا په هیواد کې انتقالي اداره وه او له بلې خوا دولت په ټول هېواد بشپړ تسلط نه درلود، نو د غیر مرکزي نظام دوام نه یوازی مرجح، بلکه لازم هم بلل کیده. د مرکز او اطرافو رابطه کمزوری او د ترانسپورت وسایل نیمگړي وو او دولتي مامورین د اداری، نظارت او کنترول د ظرفیت لوړوالی او نوښت ته پخپله عاجله اړتیا درلوده. دغه واقیعت پخپله دا ښودله چې مطلوب مرکزي نظام په عملي توگه په غیر مرکزي ډول چلیده. له بلې خوا یو شمیر تمویلونکو منابعو هم د نظام د غیر مرکزي کیدلو لپاره د غیر دولتي مؤسساتو پوسیله ښوونیز فعالیتونه په مخ بیول.
ښوونیز فعالیتونه د پلان او پالیسی په نظر کې نه نیولو سره په خپل سره په مخ بیول کیده او د غیر رسمي ښوونو مختلف شکلونه د غیر دولتی مؤسساتو د میل او ترجیحاتو سره سم رامنځته شول. یو مثال یې د چټکو زده کړو پروگرام دی.
ویلای شو چې د هېواد ښوونیز نظام تر یوه حده غیر مرکزي نظام دی. اما آیا دغه مسیر باید تعقیب شي؟ یعنی آیا ولایتی، ولسوالی او یا نورو محلي سطحو ته د دولتي واک ورلیږدول او غیر مرکزي کیدل به د هېواد په گټه وي؟ او آیا شخصي سکتور باید لویه ونډه ولري؟
لکه چې مخکي اشاره ورته وشوه چې د نړیوالي د دیدگاه له مخې ښوونیز اصلاحات لږ تر لږه د دریو اساسي دلایلو له مخې عملي کیږي: مالي، ایدیالوژیکي او د حاکمیت دلایل.

پدې کې شک نشته چې د ورځ په ورځ پراخيدونکي ښوونيز نظام لګښتونه هم زياتيږي. له يوې خوا دولتي مالي امکانات محدود دي او د دولت د عايداتو منابع ډېري کمي دي او له بلې خوا نړيواله مرسته ناکافی او غير مطمئينه ده او هم د دولت په مستقيم واک کي نده.
کيدای شي د لګښتونو د پوره کولو مسږليت له مرکزي سطحي څخه ټيټو اداري واحدونو ته ور نقل شي. دا به دا معنی ولري چې محلي تمويلول او په محلاتو کې د ښوونې د لګښتونو د پوره کولو لپاره منابع راپيداکول او غونډول يوازينی لاره ده. اما که د مرکزي دولت عايدات پوره نه وي، نو په محلي سطحه خو به حالت تر دې هم خراب وي او څوک به دغه مصارف تمويلوي. کيدای شي يوه منځنی لاره ولټوله شي او هغه دا چې محلي دولتي منابع د ښوونې لپاره په محلي سطحه ولګول شي.
پدغه صورت کې کيدای شي له يوې خوا د مرکزي ادارې د اغيزمنتيا پوسيله لګښتونه را کم شي او له بلې خوا ددې امکانات هم پيداشي چې په محلي سطحه يوه اندازه منابع تر لاسه شي. محلي منابع کيدای شي د اضافي مالياتو او يا د ښوونې په چارو کې د ولس د وړيا برخې اخستنې په شکل تنظيم شي. د مثال په توګه د ښوونځيو د تعميرونو په جوړولو يا ترميم کې او يا د ښوونځيو په نظارت او ادارې په چارو کې.
د غير مرکزي کيدني تر شا لوی عامل معمولاً د ازاد اقتصاد ايديالوژي وي. ادعا کيږي چې عامه بـيــوروکـــراســي چې په ښوونه او روزنه کې د دولتي انحصار نتيجه ده، د ښوونې او روزنې د کيفيت د ښه والي او بهبود لپاره يو خنډ دی. نو د ښوونې په سکتور کې د رقابت د اصل معرفي کيدل به د ښوونې او روزنې کيفيت ښه کړي - البته په عين او يا کم لګښت سره. د ښوونځيو د ادارې او تمويل د مسئلو غير مرکزي کيدنه او شخصي سکتور ته اجازه ورکول به د اغيزمنتيا لپاره لويه ګټه ورسوي.
آيا په افغانستان کې حالات د
�آزادبازار�لهاصلسرهسمدښوونيزوچاروسمبالولوتهمساعددياوکهنه؟کيداشيددولتياداريلهاړخهځينګټيولر ي،امادادارياو تمويل د چارو غير مرکزي کيدنه به يوازي نورو سطحو ته د ستوونزو ليږدول وي. د فيس په مقابل کې شخصي ښوونځي به يوازې د ټولنې د محدود ممتاز قشر د اولادونو په ګټه وي. که د هېواد د ښوونې اهداف د ټولو لپاره ښوونه او روزنه وي، نو په ښونيزو چارو کې د آزاد بازار ايديالــوژي د لارښـــود اصـــل په بڼه زمــوږ په هېواد کې نشي عملي کيدای.
د ديموکراسي مفکوره هم د غيرمرکزي کيدني لپاره يوه توجيه وي. د هېواد په ډيرو برخو کې محلي ولسونو پدې اخــرو لسيزو کې د ښوونيزو چارو د سنبالولو او په مخبيولو تجربي ترلاسه کړيدي. دغه تجربي شايد د ښوونځيو شوراګانو ته د يو شمير صلاحيتونو ورليږدول ښه وګڼي، البته هغه چارې چې د ښوونځی او يا کلي په سطحه وي، نه د ولسوالي يا ولايت په سطحه چاری . د مثال په توګه د ښوونځي تعمير جوړول، ترميم او پالنه، د ښوونکو او زده کوونکو غير حاضري، د دوبي د رخصتيو عيارول د لونو له وخت سره او نور.
په غير مرکزي کيدنې کې که له يوې خوا واک له مرکز څخه اخستل کيږي، اما ددې په ځای د مرکز لخوا د

پالیسی د تحمیلولو، زیات کنترول، دوامداره نظارت او ارزونه او د پالیسی د تعقیبولو نظارت او نورو واک او صلاحیت زیاتیږي. یعنی که د تمویلولو او اداره کولو واک یې کمیږي ، خو په نورو برخو کې د مرکز واک او تسلط زیاتیږي. نو د ښوونیزو چارو د غیر مرکزي کیدني په صورت کې مرکزي ادارې د چارو د کنترول او نظارت توانائي او ښه ظرفیت ته اړتیا وي، چې په افغانستان کې په اوسنیو شرایطو کې په مرکزي سطحه دغه ډول مطلوب ظرفیت موجود ندی. نو زموږ په هېواد کې د واک تر سپارلو او لیږدولو مخکې قوي مرکزیت او ددې پوسیله د نظام د کنترول او نظارت د وړتیاوو پراختیا ته اړتیالیدل کیږي.
په خلص ډول سره ویلای شو چې: په هېواد کې د ښوونیزو چارو د غیرمرکزي کیدنې په ګټه یو شمیر مثبتې تجربې شته؛ لکه: په محلي سطحه د ولسونو تجربې، د تصمیم نیولو د محلي جوړښتونو موجودیت ( کلیوالي شوراګاني، د ښوونځیو شوراګاني او نور). برسیره پر دې د اداري، کنترول، نظارت او تفتیش فعال نظام موجود دي . د ملي منافعو په خاطر، د دولتي نظام د لازمې وړتیاوو نیمګړتیاوي، غیر مسلکي ښوونکي او سر ښوونکي او په محلي سطحه د مالي منابعو نشتوالی د غیر مرکزي کیدني په مخ کې موجود خنډونه دي.
د نظام د غیر مرکزي کیدني لپاره دوه مهم لوی لازمي شرطونه یعنی په ټولو دولتي سطحو کې اداري ظرفیت او د پروسي د عملي کیدلو په جریان کې ولسي ( عام ) حمایت، لاتراوسه په هېواد کې منځ ته ندی راغلی. که چیری د هېواد په ښوونیزو اصلاحاتو کې غیر مرکزي نظام مطلوب بدلون وي، نو د غیر مرکزي نظام لپاره محرکاتو، مشتملو مسایلو ( محتوی ) او د عملي کیدو طریقو ته باید خاصه توجه وشي.
په اوسنیو شرایطو کې چې بی ثباتي او بی آمنیتی لا دوام لري، د دولتي ښوونیزو او نورو چارو د نظام غیر مرکزي کول به یوازې د ملي یووالي او ملي نظام جوړولو پروسه له خطر سره مخامخ کړي او نتیجه به یې ټولنیز تشتت او په ټولنه کي د تفاوتونو تشویق او زیاتوالی وي. مرکزیت د غیر مرکزي نظام لپاره یو لازم شرط دی یعنی داسي مرکزیت چې د رهنمایي کولو، چلولو او کنترولو وړتیا ولري، د غیر مرکزي نظام د پرمخ بیولو لپاره حتمي شرط دی.
په هېواد کې اوسنی موجود شرایط مرکزیت ته تر غیر مرکزي کیدني ترجیح ورکوي، تر څو ملي پالیسی جوړې کړي او د غیر دولتي مرسساتو متفرق فعالیتونه د ملي پالیسي سره تطبیق او موافق کړای شي.

## افغاني ښوونیز نظام او خصوصي سکتور

آیا په افغاني ښوونیزو ریفورمونو کې خصوصي سکتور هم یوه د علاقي وړ موضوع ده او که نه؟
په نورو هېوادونو کې شخصي ښوونځي هغه وخت رامنځته کیږي چې د ښوونځیو لپاره غوښتنه زیاته او عرضه کمه وي. په هېواد کې تر بل هر وخت زیات د ښوونځیو غوښتنه زیاته ده او پلرونه غواړي چې خپل اولادونه ښوونځیو ته ولیږي، اما په ښوونځیو کې دومره ځایونه نشته. دغه حقیقت شاید د شخصي ښوونځیو بدیل توجیه کړای شي. دا چې دولتي منابع د باکیفیته ښوونې او روزنې د وړاندي کولو د اړتیاوو په نسبت ډیرې لږ

او محدودي دي، هم د شخصي ښوونځيو رامنځته کول ایجابوي. همدا راز د دولتي منابعو محدودیت کیدای شي د سیمه ایزو توپیرونو سبب وي، چې دا هم په خپل ځای د شخصي ښوونځیو لپاره د لارې پرانستلو یو بل دلیل کیدای شي. د جنکیانو لپاره ځانګړي ښوونځي پرانستل د شخصي ښوونځیو لپاره هم یو بل دلیل کیدای شي. په نورو هېوادونو کې شخصي ښوونځي د لږکیو توکمي یامذهبي ګروپونو د ماشومانو لپاره او یا د هغو پلرونو د غوښتنو له مخې چې خاصو پیداګوژیو ته ترجیح ورکوي، هم پرانستل کیږي. کیدای شي دغه ډول شخصي ښوونځي زموږ په هېواد کې هم پرانستل شي. د اسلامي زده کړو مرکزونه له پخوا څخه په هېواد کې موجود وو او دیني مدرسي د ولسونو لخوا چلول کیږي. په ښوونځیو کې د اسلامي مضامینو د ساعتونو د شمیر له کموالي سره، کیدای شي د دیني مدرسو غوښتنه نوره هم زیاته شي. شخصي ښوونځي د ډېرو تعلیم یافته افرادو لپاره د دندو د پیداکولو د یو مدرک په حیث هم غوښتل کیږي. په دولتي ښوونځیو کې د زده کړي د کیفیت ټیټوالی او په ګڼو ټولګیو کې د زده کړي کیفیت هم د شخصي ښوونځیو د غوښتني لپاره یوه بله توجیه کیدای شي. کیدای شي په هیواد کې د آزاد بازار د اقتصاد له اصل څخه پیروي نور هم زور پیدا کړي او د هېواد د ملي تعلیمي پالیسی په جوړولو باندي اغیزي ولري او استدلال وشي چې شخصي ښوونځي د دولتي ښوونځیو په نسبت ډېر اغیزمن دي. ګټه اخستونکي شاید شخصي ښوونځي د پانګي اچوني او ګټي ترلاسه کولو لپاره یوه په زړه پورې میدان وبولي او په دې ترتیب د شخصي ښوونځیو د رامنځته کیدلو مفکوره نوره هم تقویه شي.

د هېواد په ښوونیز نظام کې د شخصي سکتور مختلف البعدي اغیزي به څه وي؟ تر ټولو لومړی په پوره باور ویلای شو چې د دولتي منابعو محدودیت دا ښئي چې په نژدې راتلوونکي کې یوازي د فیس په مقاپل کې شخصي ښوونځي عملي کیدای شي ( او دغه تجربه موجوده هم ده ) او دغه ډول شخصي ښوونځي به تجارتي بڼه لري. په غالب ګمان شخصي شوونځي به ټولنیز تفاوتونه نور هم زیات کړي، یوازې د بډایانو او خوارانو ترمنځ نه، بلکه د ښاري او کلیوالي سیمو ترمنځ به موجوده تفاوتونه نور هم زیات شي، ځکه چې د شخصي ښوونځیو امکانات یوازې په ښاري سیمو کې موجود دي او په کلیوالي سیمو کې دغه ډول امکانات کم بریښي. برسیره پر دې دا چې یوازي تعلیم یافته پلرونه به له شخصي ښوونځیو سره علاقه مندوي، نو د تعلیم یافته او بي تعلیمه کورنیو ترمنځ به موجوده خلا نوره هم پراخه شي. د توکمي او مذهبي ګروپونو لپاره ځانګړي او شخصي ښوونځي به په هېواد کې توکمي کړکیچ ته نوره هم د لمن وهلو لاره آواره کړي، چې له بده مرغه زموږ هېوادوالو یې پوره خوند لیدلی دی او دا یوازي هغه څه دي چې هیواد یې نه غواړي. د هیواد په اساسي قانون کي د شخصي ښوونځیو پرانستلو ته په ډېر احتیاط او مبهم ډول اشاره شویده او د دوم فصل په ۲٦ ماده کي را غلي دي چه " ... دافغانستان اتباع کولاي شي د دولت په اجازه دلوړو، عمومي، اختصاصي او د سواد د زده کړو موسسي جوړي کړي. دولت کولاي شي باندینیو کسانو ته هم د قانونو له حکمونو سره سم دلوړو، عمومي او اختصاصي زده کړو موسسو د جوړولو اجازه ورکړي" (۲٦ ماده، ۱٤ مخ). دغه ډول غیر واضح

ځرګندونه کیداي شي له یوي خوا په ښوونه او روزنه کي د شخصي سکتور د ویري او له بلي خوا د "نړیوالي د فشارونو" ښکارندوي و بللاي شو.
شخصي سکتور د کنترولولو یو قوي ملي نظام ته اړتیا لري. په اوسنیو حالاتو کې ددې ویره موجوده ده چې د ضعیف کنترولونکي نظام په وجه به پلانول نور هم ستونزمن شي. له بلې خوا ممکنه ده چې یو شمیر شخصي ښوونځي به د متمویلو او مستعدو کورنیو د فیس د ترلاسه کولو په سبب ښه او لوړ کیفیت ولري. دغه ډول ممتاز زده کوونکي کیدای شي د هېواد په وده او پرمختیا کې یوه ونډه واخستلای شي
�پدیشرطکهپههېوادکېپاتهشي. پدېترتیببههغهمحدودشمیرشخصيښوونځيدملیپرمختګلپارهګټوروي. دغیردولتیمرسساتولخواچلوونکوښوونځیوته هم کیدای شي تر یوه وخته اجازه ورکړه شي. حرفوي او مسلکي زده کړي یوه بله برخه ده چې کیدای شي شخصي سکتور ته اړتیاوي ، چې ویې چلوي.
د یادونې وړ ده چې د شخص90;وونځیو ځینې شکلونه لاپخوا موجود دي؛ مثلاً د کمپیوتر او انګلیسي ژبي شخصي کورسونه او نور. د مسلکي ښوونځیو مختلف شکلونه په هېواد کې شاید د شخصي سکتور لپاره یوه مناسبه برخه وي. کیدای شي د صنعتي کمپنیو او یا خیریه مرسسو لخوا په مخ یووړل شي.
د ښوونې او روزنې په ځینې مربوطو اړخونو کې شخصي سکتور نه یوازي ممکن دي، بلکه لازم به هم وي. د مثال په توګه: د درسي کتابونو محتوی به ملي او دولتي وجیبه وي، اما د کتابونو چاپول، ښوونځیو ته استول او نور کیدای شي د شخصي سکتور لپاره مناسبه ساحه وي. د ښوونځیو تعمیرونه جوړول هم یوه بله ساحه ده چې شخصي سکتور پکې اغیزمن رول لوبولای شي . د ملي معیارونو او لارښوونکي ملي پالیسي او اهدافو د موجودیت په صورت کې د داخل الخدمت ښوونکو روزنه هم کیدای شي د شخصي سکتور لپاره یوه مناسبه موضوع وي.
اسلامي تعلیمات د مسجد د درسونو او دیني مدارسو په شکل له پخوا څخه هم ولسي او غیر دولتي تعلیمي پروګرام وو او غالباً په دغه شکل به پاته وي. که څه هم عالي دیني مدارس د دولت د پروګرام سره سم چلیږي.

©

http://benawa.com/pashto/library/16_da_afghanistan_ratlonkay_showoniz_nizam/15.php#ixzz3ISxz3UP2

### د خپلي خوښي د ښوونځیو د انتخاب امکانات

د خپلي خوښي ښوونځي یعنی دا چې متنوع ښوونځي موجود وي او والدین وکولای شي چې د دوی اود دوی د اولادونو د خوښي سره یو له موجودو څخه خوش کړي. د دغې مفکوري بنیاد د بشري حقونو او د زده کوونکو

د ترجیحاتو په مسئله کې ده. د دغې مفکوري له مخې ښوونه او روزنه باید چې د دولت تر تسلط لاندې نه وي، بلکه د نورو استهلاکي شیانو او خدماتو په شان د رقابت اله وي، یعنی هر څوک چې وغواړي د خپلې خوښې سره سم هغه ډول ښوونې ته لاس رسی ولري.
ماشومان په ځانګړو ډولونو لویږي او ځانګړي ترجیحات لري، نو یو ډول ښوونځي مختلفو غوښتنو او ځانګړتیاوو ته ځواب نشي ویلای. د ښوونې او روزنې آزاد مارکیټ به د مختلف النوع ښوونځیو د پرانستلو په ذریعه دغه ډول غوښتنو او علایقو ته ښه ځواب وویلای شي. ادعا کیږي چې دا چې ښوونه او روزنه یو انساني حق دی، نو باید هغه ډول ښوونه او روزنه مو په اختیار کې وي، چې موږ یې غواړو، نه هغه ډول چې دولت یې راته برابروي.
په ختیځو ( پرمختلونکو هېوادونو ) کې د ښوونې او روزنې په مارکیټ کې د آزادانه انتخاب امکانات ډېر کم او نه لیدل کیږي. یوازي دوه بدیلونه موجود وي: یو هغه ښوونځي چې د ټولنې د مستعد او ممتاز قشر د اولادونو لپاره وي ( د نړیوالو معیارونو سره سم شخصي ښوونځي د لوړ فیس په مقابل کې ) او بل ډول د نورو خلکو لپاره ( دولتي وړیا ښوونځي چې ټیټ تعلیمي معیارونه لري ).
د هېواد د اخــرني اساسي قانون له مخې ښوونه او روزنه د ټولو ماشومانو حق بلل شوی ده، اما د معلومو دلایلو له مخې تراوسه لا د ښوونې د انتخاب حق د اجندا موضوع نه بلل کیږي. یوازینی متبادله ښوونه، اسلامي تعلیمات دي.
په هېواد کې د اسلامي او �عصري�تعلیماتودهمزمانموجودیتمسئلهپه ملي سطحه بحث او مناقشي ته اړتیا لري. په اوسنیو حالاتو کې والدین د دیني مدرسو او ښوونځیو ترمنځ د انتخاب واک لري، خو په دیني مدراسو کې یوازي اسلامي تعلیمات ترلاسه کیږي او برعکس په ښوونځیو کې د نوري نړۍ د تعلیماتو په شان زده کړه کیږي خو ډېره لږه اندازه اسلامي زده کړه پکې وي. نو په واقیعت کې د انتخاب دغه چانس محدود دی. که د ښوونې او روزنې موخه په معاصره نړۍ کې د فعال او ګټور ژوند لپاره اماده کول وي، نو یوازي د مدرسو تعلیمات به بس نه وي او برعکس یوازي غربي ډوله ښوونه او روزنه به ددې لپاره څکه بس نه وي چې یو افغان ماشوم باید په اسلامي ټولنه کې د ژوند کولو لپاره اسلامي تعلیمات ولري. نو یو منځنی حل باید راوایستل شي چې لږ تر لږه په ښوونځیو کې د پخوا په اندازه د اسلامي مضامینو د ساعتونو شمیر وساتل شي او دا به هــغه حــل لاره وي چې د والدیــنو او زده کوونــکو قناعــت به حــاصل کړای شي.
د هغو زده کوونکو لپاره چې لوړ او زیات اسلامي تعلیمات ترلاسه کول غواړي، د جمعي د ورځي او د سهار او ماسپښین درسونه، چې په ډېرو اسلامي هېوادونو کې هم مروج دي، هم یوه لاره کیدای شي . البته د لیسي د دوري لپاره کیدای شي د دیني مدرسو د انتخاب امکانات زیات شي او پدې صورت کې د دیني مدرسو تعلیمي نصاب هم باید تجدید شي. د جنکیانو لپاره هم باید د دیني مدرسو امکانات رامنځ ته شي.
د جنکیانو لپاره متبادل تعلیمات یو حتمی امر دی، څکه چې د کلیوالي جنکیانو لویه فیصدي په ښوونځیو کې

شاملي ندي او يا هلته د ليسو امکانات نشته. د جنکيانو د تعليم د دوام لپاره بايد ښوونځي د محتوی او جوړښت، دواړو له اړخه انعطاف منونکي وي او د کليوالی والدينو نظر او غوښتني بايد په نظر کې ونيولای شي.

په افغانستان کي په ښوونيزو چارو کې د ولس برخه اخستنه

د شوروريانو له تهاجم څخه په مخکې دورو کې د هېواد په ښوونيز نظام کې د ولس د برخې اخستني او اغيزو کومه خاصه بڼه نه وه موجوده، خو د جهاد په دوره کې د کليو، ولسواليو او حتی ولايتونو په سطحه ولسي جوړښتونه لکه شوراګاني رامنځته شوي او د خپلو سيمو د ښوونې په اړوند چارو کې فعالي وي. که څه هم دغه ډول سيمه ايزو جوړښتونو د هېواد په بېلابېلو برخو کې يې ډېرتوپيرونه سره درلودل - ځينو يې سياسي رنګ درلود، ځينی يې د ولسي ګټو لپاره نه وي او ځينو يې دواړه شکلونه خپل کړي وو خو ډېرو يې په خپل رواجي ډول دوام پيدا کړ - مخصوصاً په محلي سطحو کې. دغه ډول کليوالي شوراګانو په ښوونيزو چارو کې دخيلي وي او آن تر اوسه لاهم دخيلي دي. په هغه وخت کې دغه ډول شوراګانو ښوونځي پرانستل، ښوونکي يې استخدامول او مالي منابع يې ورته راټولولي او پلرونه يې دې ته هڅول چې خپل اولادونه ښوونځيو ته وليږي او له غير دولتي مؤسساتو سره به يې همکاري کوله او نور. دغه ډول کليوالي او محلي شوراګاني اوس هم فعالي دي او واضح خبره ده چې بايد له هغو تجربو څخه ګټه واخستله شي. په اوسني وخت کې چې څه ته اړتيا ده، هغه لارې او تدبيرونه دي چې د ښځينه وو ګډون پکې رامنځ ته شي. د ښوونځيو خاصي شوراګاني او يا د والدينو اتحاديي کيدای شي يو په زړه پوري بديل وي، خو دا خبره ډېره مهمه ده چې هيڅ ډول جوړښت بايد له باندې څخه ور باندې تحميل نه شي او يوازي ولس ته اختيار ورکړل شي چې څه ډول جوړښتونه خوښوي. د محلي ولس برخه اخيستنه همدا راز د ښوونځيو د تمويل په چارو کې ډېره مرستندويه واقع کيدای شي. همدا راز له ښوونکو سره د مرستي، تقرر، له ښوونکو سره د جنسي مالي مرستوکولو، د ښوونځيو د ساتنې او ترميم، د ښوونيزو کمپاينو او نورو په هکله به په هېواد کې د دغه ډول برخې اخيستنې لپاره اړتياوي او ګټوري به وي.

د نورو هېوادو تجربي ښيی چې چيرې چې دغه ډول ولسي برخې اخيستنې موجودي وي، هلته معمولاً د ولسونو منځني خبير قشر د ښوونځيو په چارو کې فعاله برخه اخلي. کيدای شي زموږ په هېواد کې هم دغه تجربه تکرار شي او د نورو ملتونو د منځني قشر معادل قشر زموږ په ولس کې هم دغه رول ولوبوي. خو په هېواد کې د اکثريت د بې برخي کيدلو ويره دومره لويه نه ښکاري او هيله کيږي چې په هر صورت کې به د غريبو کورنيو د اولادونو لپاره ګټوره وي. فقر او غريبی په هېواد کې عامه ده ( که څه هم له اخـرنيو بدلــونو سره لــږ تر لــږه په پلازمينه کې وړوکې منځنی قشر د راپيدا کيدو په حال کې دي )، خو د زکات نظام پدې مورد کې په ټولنه کې د عدالت د تامين ښه متضمين کيدای شي، ځکه چې په غريبانو زکات لازم ندی.

په افغانستان کې د ارزښتونو د تعلیم احیا او تجدد

د تاریخ په اوږدو کې په ټولو ټولنو کې د ښوونې او روزنې له موخو څخه یو هم د ځوان نسل اخلاقي، معنوي او د ټولنې د ارزښتونو سره سم روزل وو او دي. د اسلامي تعلیماتو په مرکزونو کې چې په هېواد کې د اوومې میلادي پیړۍ څخه را پدې خوا موجود وو، د خدای (ج) د بندګي تر څنګ، نور اخلاقي ټولنیز درسونه لکه د والدینو اطاعت، اخلاص، مساوات، د یووالی اهمیت او نور زده کیدل. فعلاً دغه ډول اخلاقي تعلیمات نه یوازې په مدرسو بلکه جوماتونو کې هم وړو ماشومانو ته ورکول کیږي. په عین ډول اخلاقي او دیني ارزښتونه د لومړنۍ او منځنۍ دواړو دورو زده کوونکو ته د ښوونځي دیني تعلیماتو په مضمونونو کې ورکول کیږي.
په ښوونه او روزنه کې د اخلاقي معنوي ارزښتونو په هکله د هېواد پدې اخیرو څولسیزو کې ډېر متضاد جهتونه تعقیب شوي دي. د شوروي پلوه حکومت په دوران کې غوښتنل کیده چې په زده کوونکو کې له کپتیالیزم سره د دوشمني مفکوره، انترنا سیونالیزم، په ګوند باندې عقیده او نور تقویه او تحکیم کړای شي. د مجاهدینو په دوره کې ښوونیز اخلاقي او معنوي ارزښتونه د اسلامي تحریک ارزښتونه وو، کوم چې اسلام یو ټولنیز سیاسي بولی 1.
د اخیرنیو بدلونو څخه راپدې خوا، په ښوونه او روزنه کې د ارزښتونو په اړه تراوسه لا کوم واضح جهت معلوم ندی. خو داسې نښې نښاني ښکاري چې خارجي تخنیکي مشاورین تر ډېره حده د نړیوالو ارزښتونو سپارښتنه او د هغوی په ګټه پیاوړی استدلال کوي. له بلې خوا دولت هم د معلومو مجبوریتونو له مخې دغو سپارښتنو ته غاړه ږدي.
داسې ښکاري چې د ارزښتونو په ټاکلو کې د ملي توافق په ځای انفرادي سیاسي مفکوري مجبوریتونه لوی لاس لري او په دغه پروسه کې ولس په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول برخه او یا رول نلري.
پدې اخرو کې په نړۍ کې په پرمختللو او هم پرمختلونکو ( لویدیځو او ختیځو ) هېوادونو کې د ارزښتونو ښوونې او روزنې د بیا را ژوندی کیدلو ( احیای مجدد ) په حال کې ښکاري. ددې تجدد یوه وجه په اخیرو لسیزو کې د ارزښتونو د تعلیماتو کمښت او بله وجه یې په عمومي توګه په ټولنو کې د اخلاقي تنازل تجربې بلل کیږي.
په افغانستان کې د اسلامي او غربي ډوله ( عصري ) تعلیماتو ترمنځ تضاد د شلمې عیسوي پیړۍ له پیل څخه ښکاریده او د هېواد په تاریخ کې د طالبانو د تحریک رامنځته کیدل ددغه تضاد تر ټولو د پیاوړی عکس العمل ښارندوی بلل کیدای شي 2.
په اوسنی وضع کې باندینی فشار، په باندینیو مرستو اتکاء او د هېواد په دننه کې د قدرت غوښتنې مبارزې کیدای شي یو ځل بیا د هېواد په ښوونیزو نظام ډېرې منفي اغیزې وکړي. ځیني پوښتنې شته چې: آیا په هېواد کې د ارزښتونو د تعلیم نوی احیا راځی؟ آیا د تجدد او احیا لپاره یې دلایل موجود دي؟ په لاندې پاراګرافونو کې د دغو پوښتنو په هکله بحث وړاندي کیږي.

افغانستان سره لدې چې یو غیر متجانس هېواد دی، اما په نسبي ډول ارام وو او په هېواد کې د تاریخ په اوږدو او د مختلفو واکدارانو د تسلط په دورو کې د ارزښتونو په هکله توافق موجود وو. د ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي، او توکمیزو ولسي توپیرو سره سره دغه هېواد د اسلام د دین له برکته متحد پاته شوی دی. هر افغان وایي او غواړي چې د ژوند موخه دا دی چې یو ښه مسلمان پاته شي.

د ملي نظام جوړېدنه، ملي یووالی او ګډ ارزښتونه هغه څه دي چې افغانان تر بل هر شي او هر وخت زیاته اړه ورته لري او د ډېرو لپاره اسلام د دغو اړتیاو د پوره کولو لپاره یو چوکاټ وړاندې کوي. د نورو ټولنو په شان، په هیواد کې هیله کیږي چې ښوونه او روزنه به ټولنیز ارزښتونه تحکیم او تعمیم کړي او اسلامي ارزښتونه جامع او ملي ارزښتونه بلل کیږي. د یوه افغان لپاره اسلامي تعلیمات یوه فریضه او ضمناً د هر وګړي حق بلل کیږي. ډېر کم افغانان به په دې عقیده وي چې اسلامي تعلیمات دي له عصري ښوونو څخه جلا وي.

د هېواد په اوسني نظام کې چې په لومړنۍ دوره کې د اسلامي تعلیماتو درسي ساعتونه راکم کړیدي، په واقیعت مخض د نوری نړۍ څخه د پیروي یو مثال دي. پداسې حال کې چې په نوره نړۍ کې د ارزښتونو د تعلیم د دوباره احیا غوښتله کیږي. د هېواد په تاریخ کې ډېرو حکومتونو هڅې کړي چې د اسلامي تعلیماتو اندازه راکمه کړي، یاېې سره جلا کړي او یا د اسلامي تعلیماتو په مرکزونو کنټرول ولري.

دغه هڅې هر ځل د غربي ډوله ( عصري ) تعلیماتو لپاره په ستونزو منتج شویدي او په خاصه توګه د جنکیانو د تعلیم لپاره یې منفي اغیزي درلودلي دي ( پخوانی مرجع ). یوه ویره دا وی چې په خاص ډول په کلیوالی سیمو کې به پلرونه خپل اولادونه د ښوونځیو څخه وباسي او په مدرسو کې به یې شامل کړي او خپلې لونې به په کور کښینوي.

د اسلامي هېوادونو له جملې څخه د ایران اسلامي جمهوریت د جنکیانو د ښوونې او روزنې په هکله ډېر بریالیتوبونه ترلاسه کړي دي. د ایران ددې بریالیتوبونو دلیل د ښوونې او روزنې اسلامي کیدنه بلل کیږي.

�دجنکیانولپارهجلاښوونځي،دحجاباستعمالداسلامیتعلیماتواوقرآنکریمدساعتونودشمیرزیاتوالی،حتندډېرمحاف ظهکاروکورنیودنجونولپارههمدښوونځیدرواز‌ېخلاصیکړي� ( ۲۸٦ مخ ) 3

د ایران د اسلامي انقلاب څخه وروسته اوس د ایراني ښوونځیو په ټولو سطحو کې د جنکیانو شمیر پنځوس فیصده یعنی د هلکانو په اندازه دی ( پخوانی مرجع ).

د اخلاقي ارزښتونو د تعلیم تجدد او دوباره زیاتوالی په ډېرو هېوادونو کې رامنځته شوی ترڅو په ټولنه کې داخلاقي فساد لکه جرایم، د مخدره موادو استعمال، غداری، بی احترامي او نورو مخنیوی وکړای شي. دغه ډول ستونزي په افغانستان کې هم موجودي دي او د نور زیاتوالی ویره یې هم لیدل کیږي. د کاری ( وظیفوي ) اخلاقو تنازل، لکه رشوت، له قدرت څخه ناوړه استفاده کول او نور هم په ډېرو ټولنو کې زیات شویدي. ددې لپاره چې په هېواد کې �اخلاقي بیسوادي�په موجوده عادي بیسوادي ورزیاته نشي،نودهېوادپه ښوونیزوتاسساتوکې داخلاقي اودیني تعلیماتو زیاتوالی به یوه اړتیاوي.

افغانستان  دنړیوالترفشارونولاندي راغلي اودغه فشارنورهم ورځ په ورځ زیاتیږي. ددغه ډول اغیزوله جملې ځخه کلتوري او سیاسي نړیوالي اغیزي هم دي، چې د هېواد او د هېوادوالو ذهنونو ته ور رسیږي.
دډیموکراسي، د بشر حقوق، په خاصه توگه د ښځو حقوق او د ماشومانو حقوق، مساوات، د آزاد بازار اصل، فردی آزادی او نور مفاهیم هلته اودلته اوریدل کیږي. له دغو مفاهیمو ځخه ځینی یې نوي او ځینی یې زاړه دي. داسې احساس کیږي چې افغانان د دغو اصطلاحاتو په نسبت وروسته پاته ( عقب مانده ) قوم وي، پداسي حال کې چې د دغو مفاهیمو ډیره برخه له اسلامي ارزښتونو سره مغایرت نلري او یا لږ تر لږه ورسره موافق کیدای شي. د هېواد د ملي ارزښتونو د تقویي لپاره د ارزښتونو او اخلاقي زده کړو د اندازي زیاتوالي یوه اړتیا ده. د لویدیځ د اغیزو په سبب به په هېواد کې استهلاکي فرهنګ او د مادی ژوند اصل په چټکه توگه وده وکړي، چې ددغه ډول ناوړه اخلاقي ارزښتونو د مخنیوي لپاره د اسلامي ارزښتونو زده کړه یوه ښه وسیله کیدای شي.
تجدد غوښتنه (Modernization) او د غرب پیروي (Westernization) مترداف کلمات نه، بلکه بېلابېل مفاهیم دي. د غرب له پیروي سره ښائي په ډېرو عصري اسلامي ( او حتی غیر اسلامي ) ټولنو کې، چیرې چې معاصر ساینس او تخنیک یې هم منلی او کار ولې دی، هم مخالفت موجود وي او د بي دیني، فردي اصالت او لیبرالیزم په مقابل کې نفرت وښي.
بله مسئله د اسلامي تعلیماتو د تدریس لپاره مناسبي پیداگوژي ته وده ورکول دي. په ښوونځیو، مدرسو او جوماتونو کې د اسلامي تعلماتو د تدریس لپاره باید داسې طریقو ته وده ورکړل شي، چې زده کوونکي په اسانه توگه زده کړه وکړي یعنی د ماشومانو د سويي مطابق باید پیداگوژیکي مواد جوړ شي.
ښوونه او روزنه د ماشوم د حق په حیث

افغانستان د ماشومانو د حقونو کنواسیون تصویب کړی دي. پدغه نړیوال لاسوند ( سند ) کې د ماشومانو د نورو حقوقو ترڅنگ یوه خبره دا ده چې ښوونه او روزنه د هر ماشوم حق دي او دولتونه مکلف دي چې د هېواد ماشومانو ته د ښوونې او روزنې اسانتیاوي برابري کړي. د هېواد په نوی اساسي قانون کې راغلي دي چې ښوونه او روزنه دهېواد د ټولو اتباعو حق دی او �دلیسترډورېپورېبایدد دولت لخوا په وړیا توگه وي� ( دوهم فصل۲۲ماده ).
دماشومانودحقونودکنواسیون تصویبول دغه لاسوندته په هېوادکې دیوه قانون حیثیت ورکوي، چې دنوروترڅنګ  دولت مکلف دی چې�ابتدائیه تعلیمات جبري کړی اوبایدټول  ماشومان لاسرسي ورته ولري�او�دمنځنۍدوری تعلیماتو مختلف شکلونه هم د ماشومانو لپاره موجود کړی. �له دغوځرگندونوځخه دامعلومیږي چې   دماشومانودحقونوکنوانسیون ښوونې اوروزنې ته په مساویانه ډول

لاسرسی اوبرخه مندکیدلوباندې ټینګارکوي. پدغه لاسوندکې دماشومانوشخصیت اواستعدادونوته دودې
ورکولو په نورو اړخونو هم ټینګار کیږي.

©
http://benawa.com/pashto/library/16_da_afghanistan_ratlonkay_showoniz_nizam/16.php#ixzz3ISy4ECGi

**نتیجه**

نړیوالی (Globalization) د خلکو د ژوند ډول بدلوي �داچه دنړۍپه کوم ګوټکې اوسو، ډېرتوپیرنلري اوهرچیرې خپلې اغیزې لري. نړیوالی زموږدژوندپه اقتصادي،تخنیکي،سیاسیاوکلتوریاړخونوباندپاغیزیکوي. دنړیوالدپرمختللوقوتونهپهعمدهډولاقتصادي، د پانګوالی د نظام توسعه او د آزاد بازار مفکوري دي. هغه قوتونه چې نړیوالی په مخ بیایی، د هېوادونو د ښوونې او روزنې په نظامونو کې بدلون راوستل غواړي او یوه نښه یې داده چې د ښوونې او روزنې په محتوی او ساختمان دواړو کې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې مشابه بدلونونه او اصلاحات عملي کیږي. نړیوالی حکومتونه دې ته اړ باسي چې ښوونې او روزنې ته پراختیا ورکړي، څرنګوالی یې ښه کړي او په عین حال کې په خپلو ښوونیزو دولتي لګښتونو (تخصیص) کې کمښت راولي. غیر مرکزي کیدنه د دغې ماجرا د حل لپاره د یوې وسیلې په توګه عملي کیږي.

د نړیوالی بنیادي مفکوره یعنی د آزاد بازار اصل ځکه په ښوونه او روزنه کې د رقابت اصل ته جایز بولي چې دغه اصل به اغیزمنتوب ښه کړي؛ د ښوونځیو په محلي سطحه اداره کولو ته ځکه اجازه ورکوي، چې د هغه په نتیجه کې به د ښوونیزو چارو په ګټورتیا کې ښه والی رامنځته شي؛ او بالاخره په محلي سطحه د ښوونځیو تمویلول ځکه ښه بولي چې د منابعو ښه ترا سمون به رامنځته کړای شي. برسیره پردې داسې انګیرله کیږي چې د ښوونځیو کیفیت به هغه وخت ښه وي، چې د محلي اړتیاو سره سم برابر شي. د مختلفو ښوونځیو ترمنځ د انتخابولو امکانات، شخصي ښوونځي او په ښوونیزو چارو کې د ولس برخه اخیستنه د ښوونیزو اصلاحاتو ( ریفورمونو ) اړیني اجزا وي دي.

په ځانګړي توګه د دریمې نړۍ په هېوادونو کې ښوونیز ریفورمونه تر ډېره پورې د نړیوال اقتصاد د فشارونو اغیزي منعکیسوي. په ښوونیزو اصلاحاتو کې یو نسبتاً. متناقض عنصر د ارزښتونو ( یا اخلاقي زده کړو ) تجدد او بیا احیا وي. دغه تجدد د مختلفو دلایلو له مخې د ختیځې او هم لویدیځې نړۍ په هېوادونو کې پیښ شوي وي.

ښوونه او روزنه د ماشوم د حق په حیث، مساوات او د ښوونیزو چارو ښه ترا اغیز منتوب او ګټور توب د ښوونیزو ریفورمونو اساسي ناري ( شعارونه ) وي. تراوسه پوري څیړنو د دغو شعارونو د موخو ( اهدافو ) عملي

نښې نښانې ندي جوتې کړي او په سرچپه ډول، داسې نښې نښانې لیدل شوي چې ټولنیز توپیرونه زیات شویدي. مالي اغیزمنتوب په لږه اندازه ښه شوی وي.
د شخصي ښوونځیو او یا د هغو ښوونځیو چې ولسي برخې اخستنې لوړه درجه لري، ګټورتوب هم ندی ثابت شوی او د مختلفو ښوونځیو ترمنځ د انتخاب امکانات هم معمولاً د ټولنې د مستعید قشر په ګټه تمام شوی دی.
د ارزښتونو د ښوونې تجدد بیا د مدني ښوونو په دیني تعلیماتو د اړولو او یا په عمومي توګه د غربي ارزښتونو په مقابل کې د عکس العمل په شکل ښکاره شویدي �لږترلږهپهاسیائیاواسلامیهېوادونوکې.
پهافغانستانکېپخوالهدېچېدغیرمرکزیکیدنېپهمسئلهبحثوشي،نوردپاموړډېرمهممسایلدي.
لومړیشچېبایدتوجهورتهوشيهغهدیوبجامعتعلیمیپالیسیجوړولدیچېدښوونیزنظامددواممسئله یې باید اساسي موخه وي. ددغه ډول پالیسي لپاره باید څیړني، د اړتیاوو ارزوني، غوښتني، منابع او نور ترسره شي.
که څه هم د ښوونې او روزنې د پراختیا په هکله ډیر پرمختګونه شویدي، اما بیا هم دغه مسئله یوه ستونزه ده. په هېواد کې د ښوونځي د عمر د پنځو میلیونو په شاوخوا کې ماشومانو، لږ او ډېر دری کاله پخوا د ښوونځی ډېر لږ امکانات درلودل. او غالباً هیڅ یو هېواد به په نړۍ کې ددې وړتیا ونلري چې دغه ډول یوه ستونزه سمدلاسه په دومره لنډ وخت کې حل کړي او په میلیونو ماشومانو ته د باکیفیته ښوونځیو امکانات برابرکړي او د یوې تعلیمي دورې لپاره یې په ښوونځیو کې وساتي.
پدغو شرایطو کې د ښوونیزو چارو د پراختیا لپاره تر ټولو مخته پلان او د هغه مطابق د ملي مالي منابعو په لاس راوړلو او برابرولو ته لویه اړتیا لیدل کیږي.
افغانستان د یوه جګړی ځپلې هېواد په حیث به تر ډېره پورې په باندینیو وړیا مرستو تکیه کوي، اما له اوس څخه ددې اړتیا لیدله کیږي چې پدې هکله فکر وشي چې باید څنګه کورنیو عایداتي منابعو ته وده ورکړه شي چې ترڅه وخت وروسته باندینیو مرستو ته دغه اړتیا له منځه ولاړه شي. هغه متل دی چې
�قرضداراړوي�.
ددېلپارهچېدامکانترحده ډېرو ماشومانو ته د ښوونې او روزنې امکانات تیار کړل شي، په مرکزي سطحه ملي پلان ته اړتیا لیدل کیږي. په مرکزي سطحه د پلان جوړولو په صورت کې هم، محلي ذیعلاقه عناصرو ته په ښوونیزو چارو او د ښوونځیو په چلولو کې لویه ونډه ورکول کیدای شي. د هېواد په متشتته وضع کې قوی مرکزیت ته په غیر مرکزي نظام باندې ترجیح ورکول کیږي. د غیر دولتي مرسساتو د چارو او ونډې همغاړي کول او تنظیمول په مرکزي اداري پورې مربوطه مسئله ده. د نړیوالی ټولنې له مالې او تخنیکي مرستو څخه د هېوادوالو په ګټه اغیزمنه استفاده کول د ټولو خواوو په ګټه ده او یوه ضروري مسئله بلل کیږي. لازمه ده چې ددې کار لپاره مناسب تدبیرونه وسنجول شي.
د هېواد د ښوونې او روزنې د اوږد مهاله پالیسي د جوړولو لپاره دې ته اړتیا ده چې د جوړولو په پروسه کې ئې

غښتلي ذیعلاقه خوا وي ونډه ولري. پدې هکله موجوده تجربي او د نورو څېړنو نتایج ګټور او لازم بلل کیږي.
د ولسونو تجربي باید له پامه ونه غورزولی شي، بلکه راټولي او نورو ته انتقال شي. د شخصي سکتور لپاره باید د اسلامي تعلیماتو ټولنیزي تجربي او د غیر دولتي موسساتو تجربي تحلیل او وارزول شي.
د تیرو لسیزو د تجربو راټولو ته لویه اړتیا ده
�دمثالپهډولدښوونځیومحلیشوراګانې،محلیاداریسیستمونه،دغیردولتیمږسساتواداریسیستمونه.
دداخلالخدمتدروزنېکورسونهاونور.
پهراتلونکیکېدښوونیزواصلاحاتودپلانولولپارهددغهډولمعلوماتوراټولډېرګټوربریښي. داچېدهېوادښوونهاوروزنه به تر کومه حده د داسې نړیوالو
�ښکلیو�مفاهیو،لکهاغیزمنتوب،ګټورتیا،مساوات،ازادیاونوروترسیوریاواغیزیلاندیراشي،بهپهراتلونکیکیووینو
.
سرهلهدېچېدهېوادښوونیزلګښت ( دلومړنۍدورېدیوهزدهکوونکییوکلنتعلیمیلګښت۲۰- ۳۰امریکائیډالره دی ) په نړۍ کې تر ټولو ټیټ لګښت ښـــئي، خو بیا هم په نژدې راتلونکي کې داسې نه بریښي چې ملي مرکزي عایدات به ښوونیز لګښتو پوره کړای شي، نو ځکه د یوه منځنی مودل لټه په کار ده، چیری چې به لګښتونه د مرکزي او سیمه ایزو ادارو ترمنځ شریک شوی وي.
د ښوونځی پریښودلو او د ناکامیو ډیره لوړه فیصدي دا حقیقت را په ګوته کوي چې د مالي اغیزمنتوب لپاره د دغو عواملو د ښیګڼې لپاره ډېر څه په کار دي او د دغو دو مسئلو ښیګڼه به ډیره ګټه ورسوي.
د جنکیانو د ښوونې او روزنې لپاره، که څه هم قانوني موانع نشته، خو ډېري ستونزې لا په مخکې دي. د خپلې خوښې د ښوونځیو د انتخابولو حق د ښوونځیو او حتی درسي کتابونو په اړوند لا د هېواد د راتلونکي په افق کې هم نه بریښي او لا تر اوسه د بحث موضوع نشی کیدای.
اسلامي تعلیمات او غربي ډوله ښوونه او روزنه په هېواد کې نه جلا کیدونکي دي. د نورو اسلامي هېـــوادونـــو په ډول په هېواد کې هم �په نوی نړیواله قرینه کې، دمعتبری پوهـــی اوکلتـــور تعـــریف یوه متنـــازع فیه مسئـــله ده اوښـــوونځی ددغـــې مناقـــشي محوردی �xvii )مخ . (

ولله علی ما نقول وکیل

©

http://benawa.com/pashto/library/16_da_afghanistan_ratlonkay_showoniz_nizam/17.php#ixzz3ISy95cn7

**ماخذونه**

د افغانستان اساسي قانون ۱۳۸۳ هـ ش.

امير محمد منصوري، ۲۰۰۰م ، دست آوردهاي آموزشي و عوامل موثر بر آن از شاگردان در مکاتب افغانستان، تيسيس ماستري، پوهنتون ستاکهولم.

جميل الرحمن کامگار ، ۱۳۸۲هـش ،تاريخ معارف افغانستان، بنګاه انتشارات ميوند، کابل.

حبيب الله رفيع، ۱۳۷۷ هـ ش، په افغانستان کي د عصري ښووني او روزني پيل او پراختيا، د افغانستان د څېړنو مرکز، پيښور.

عزيزالدين آماج، ۱۳۷۰ هـ ش، په افغانستان کي د ښووني او روزني لنډه تاريخچه ، کابل، د ښووني او روزني خپرونه.

معارف افغانستان از سال ۱۳٤۰ هش، وزارت معارف افغانستان، کابل

Abu-Duhou, I. (1999). School-Based Management. Paris: UNESCO/IIEP.
Arnove et al (1999). Reframing Comparative Education.The Dialectic of theGlobal and the Local. In R.F. Arnove and C.A. Morres (eds). ComparativeEducation.The Dialectic of the Global and the Local. Boulder: Rowman&Littlefield Publishers Inc .
Ban,T& .Nishino,M. (2001). Japan: Educating for Sound Mind. In: W. K ,.Cummings, M.T., Tatto , &J., Hawkins (eds). Values Education for DynamicSocieties: Individualism or Collectivism. Comparative Education Research Centre.The University of Hong Kong.
Beare, H. (1993). Different Ways of Viewing School-site Council: Whose ParadigmIs in the Use Here? In H. Beare and W.L. Boyd (eds). Restructuring Schools.AnInternational Perspective on the Movement to Transform the Control andPerformance of School. London: The Falmer Press .
Bray, M. (1999). Control of Education: Issues and tension in Centralisation andDecentralisation. In R.F. Arnove and C.A. Morres (eds). Comparative Education.The Dialectic of the Global and the Local. Boulder: Rowman&LittlefieldPublishers Inc .
Carnoy, M. and McEwan, P.J. (2001). Privatisation Through Vouchers in DevelopingCountries: the Cases of Chile and Colombia. In H.M. Levin (ed.). PrivatisingEducation. Can Marketplace Deliver Choice, Efficiency, Equity and SocialCohesion? Boulder: Westview Press .
Carnoy, M. (1999). Globalisation and educational reforms: what planners need toknow. Paris: International Institute for Educational Planning.
Carnoy, M. (2002).Foreword. In H. Daun (ed.). Educational Restructuring in theContext of Globalisation and Local Demands. New York: Routledge/Falmer.
Cranley, M.E., Pinpradit, N& .Sintoovongse, K. (2001). THAILAND: BEYONDMATERIALISM. In: W. K., Cummings, M.T., Tatto& ,J., Hawkins (eds). ValuesEducation for Dynamic Societies: Individualism or Collectivism. ComparativeEducation Research Centre.The University of Hong Kong.
Cummings, W., K& ,.Hawkins J., Tatto, M.,T. (2001a). THE REVIVAL OF VALUESEDUCATION IN THE PACIFIC BASIN. In: W. K., Cummings, M.T., Tatto& ,J., Hawkins) eds). Values Education for Dynamic Societies: Individualism or Collectivism .Comparative Education Research Centre.The

University of Hong Kong.
Cummings, W., K. (2001b).THE FUTURE OF VALUES EDUCATION IN THE PACIFIC BASIN.In: W. K., Cummings, M.T., Tatto& ,J., Hawkins (eds). Values Education forDynamic Societies: Individualism or Collectivism. Comparative Education ResearchCentre.The University of Hong Kong.
Daun, H. (2002a). Conceptualisation and Results of Educational Restructuring. InH. Daun (ed.). Educational Restructuring in the Context of Globalisation andLocal Demands. New York: Routledge/Falmer.
Daun, H. (2002b). Globalisation and National Education Systems. In H. Daun) ed.). Educational Restructuring in the Context of Globalisation and LocalDemands. New York: Routledge/Falmer.
Daun, H. (2002c). Global Forces and Local Drives: The School inDecentralization. Paper presented at the conference "Economic Globalization&Education Reform" organised by the International and Comparative EducationResearch Institute at Beijing Normal University, Beijing, China, October 14-16 2002 ,Beijing University.
Daun, H. (2003a). World System, Globalization and Governance. In H. Daun (ed .(.World System, Globalization and Educational Change (Eight Cases). Stockholm :Stockholm University .
Daun, H. (2003b). Some Trends in Development, Research and Education. In H. Daun) ed.). World System, Globalization and Educational Change (Eight Cases.(Stockholm: Stockholm University .
Duffield, M. (2002).Reprising Durable Disorder: Network War and theSecuritisation of Aid. In: B. Hettne and B., Oden, (eds). Global Governance inthe 21st Century: Alternative Perspectives on World Order. Stockholm: Almkvist&Wiksell International.
Guthrie, J.W. and Koppich, J.E. (1993). Ready, A.I.M, Reform: Building a Modelof Education Reform and 'High Politics'. In H. Beare and W.L. Boyd (eds .(Restructuring Schools.An International Perspective on the Movement to Transformthe Control and Performance of School. London: The Falmer Press .
Fullan, M. (2001).The New Meaning of Educational Change.3rd Edition. London :Teachers College Press.
Han, C., Chew, J.,Tan, J. (2001). Singapore: Values Education forKnowledge-Based Economy In: W. K., Cummings, M.T., Tatto& ,J., Hawkins (eds .(Values Education for Dynamic Societies: Individualism or Collectivism .Comparative Education Research Centre.The University of Hong Kong.
Hawkins, J., Nanzhou, Z. and Lee, J. (2001). China: Balancing the Collective andIndividval. In: W. K., Cummings, M.T., Tatto& ,J., Hawkins (eds). ValuesEducation for Dynamic Societies: Individualism or Collectivism. ComparativeEducation Research Centre.The University of Hong Kong.
Hettne, B. (2002). In Search of World Order. In: B. Hettne and B., Oden, (eds .(Global Governance in the 21st Century: Alternative Perspectives on World Order .Stockholm: Almkvist&Wiksell International.
Kanayev, A. and Daun, H. (2002).Nationalism and Educational Transition inCentral Asia. In H. Daun (ed.). Educational Restructuring in the Context ofGlobalisation and Local Demands. New York: Routledge/Falmer.
Karlsson, P. (2001). Wastes or Gains?A Discussion about 'Educational Wastage 'with examples from Afghanistan.MA thesis, Stockholm University.
Karlsson, P. and Mansory, A. (2003).Islamic and Modern Education in Afghanistan - Conflictual or Complementary? In: H. Daun) ed.). Muslim Education Strategiesin the Context of Globalisation. Leiden: Brills' Academic Publishers (in press.(
Lickona, T. (1996). Eleven Principles of Effective Character Education InJournal of Moral Education 25(1): 93-100.
Levin, H. M. (2001). Studying Privatisation in Education. In H.M. Levin (ed .(.Privatising Education.

Can Marketplace Deliver Choice, Efficiency, Equity andSocial Cohesion? Boulder: Westview Press .
McGinn, N. F and Welsh, T. (1999). Decentralisation of education: why, when ,what and how? Paris: International Institute for Educational Planning .
Nyozov, S. (2003).Globalisation and Teachers' Life and Work: Case Studies fromRural Tajikistan. In H. Daun (ed.). World System, Globalization and EducationalChange (Eight Cases). Stockholm: Stockholm University .
Ouis, P. (2002). Islamization as a Strategy for Reconciliation between Modernityand Tradition: Examples from contemporary Arab Gulf states. In Islam andChristian-Muslim Relations 13(3.(
Popkewitz, T. S. (2000). Reform as the Social Administration of the Child :Globalisation of Knowledge and Power. In N.C. Burbules and C.A. Torres (eds .(Globalisation in Education: Critical Perspectives. New York: Routledge.
Roald, A. S. (1994). Tarbiya: Education and Politics in Islamic Movements inJordan and Malaysia. Lund: Lund Studies in History of Religions.
Robison, R. (1996). The Politics of Asian Values. In The Pacific Review ,
.327-309 :(3)9
Samady, S. R. (2001). Education and Afghan Society in the twentieth century.Paris: UNESCO.
SCA, (2002a).School data.
SCA, (2002b).Reading and Writing Assessment of Afghan Primary School Children.Not published paper .
Sida (no date) Education, Democracy and Human Rights in Swedish developmentco-operation. Sida, Department for Democracy and Social Development, EducationDivision. Position Paper
Slater, R.O. (1993). On Centralisation, Decentralisation and SchoolRestructuring: A Sociological Perspective. In H. Beare and W. L. Boyd. (eds .(Restructuring Schools.An International Perspective on the Movement to Transformthe Control and Performance of School. London: The Falmer Press .
Swedish Committee for Afghanistan (1998) Workplan 1998/1999.Peshawar SCA
Tatto, M. T. et al, (2001). Mexico: The Construction of National Identity UnderCentralised Leadership. In: W. K., Cummings, M.T., Tatto& ,J., Hawkins (eds .(Values Education for Dynamic Societies: Individualism or Collectivism .Comparative Education Research Centre.The University of Hong Kong.
Torney-Purta, J. and Hahn, C., H. (1988).Values Education in the WesternEuropean Tradition. In W.K. Cummings, S. Gupinathan and Y. Tomoda (eds). TheRevival of Values Education in Asia and the West. New York: Pergamon Press.
UNICEF (2002). Rapid Assessment of Learning Spaces- Ministry of Education andUNICEF-Not published paper.
Walford, G. (2001). Privatisation in Industrialised Countries. In H.M. Levin) ed.). Privatising Education. Can Marketplace Deliver Choice, Efficiency, Equityand Social Cohesion? Boulder: Westview Press .
Winkler, D.R. (1993). Fiscal Decentralisation and Accountability in Education :Experiences in Four Countries. In J. Hannaway and M. Carnoy, (eds .(Decentralisation and School Improvement. Can We Fulfil the Promise? SanFrancisco: The Jossey-Bass .

©

http://benawa.com/pashto/library/16_da_afghanistan_ratlonkay_showoniz_nizam/18.php#ixzz3ISyGpWZV